
MINISTÈRE
DE L'INTÉRIEUR
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*

د کورنیو چارو وزارت

په فرانسه کې د بهرنیانو عمومي مدیرت



# په فرانسه کې د پناه غوښتونکو لپاره لارښود

DAستمبر 2020

# لنډيز


1. د تحفظ مختلف ډولونه ........................................................................ 4

1.1 د کډوال يا مهاجر حيثيت ........................................................................ 4

1.2 د ضمني تحفظ حيثيت ........................................................................ 4

2. پروسيجر يا کړنلارې ته لاسرسي او د پناه غوښتنې راجستر کول ........................ 5

2.1 د پناه غوښتونکو لپاره د لومړی هرکلي يا استوګنې دفتر ........................ 5

2.2 په ګيشي يونيک کي د پناه غوښتنې راجستر کول يا ثبتونه ........................ 6

2.2.1 لومړی ګام : د پره فيکتور لخوا ستاسو د پناه غوښتنې راجستر کول ........................ 6

- ستاسو د پناه غوښتنې د ازموينې د مسؤل دولت ټاکنه ........................ 6
- ستاسو د پناه غوښتنې وړتيا ........................ 7
- په OFPRA کي د انټرويو يا مرکې د ژبې انتخاب ........................ 8
- د پناه غوښتنې د تصديقي سند ورکړه ........................ 9
- د پناه پرته، د نورو دلايلو پر بنسټ د استوګنې غوښتلو امکان ........................ 10

2.2.2 دويم ګام : د OFII لخوا د ضرورتونو ارزونه او ملاتړ او مرسته ........................ 10

- د ګيشي يونيک لخوا ستاسو ځانګړي ضرورتونه په پام کي نيول ........................ 10
- د ملاتړ او مرستي وړانديز ........................ 11

2.3 ګيشي يونيک ته د ورتلو وروسته ملاتړ ........................ 11

3. د پناه غوښتنې د ازموينې شرايط ........................ 13

3.1 د کډوالو او بې وطنو خلکود تحفظ فرانسوي دفتر (OFPRA) لخوا ازموينه ........................ 13

- د OFPRA فورمه ډکول ........................ 13
- OFPRA ته فايل ليږل ........................ 13
- د OFPRA لخوا د غوښتنليک د معرفي کولو ثبوت ........................ 14
- په نارمل يا عادي پروسيجر کي او په ګړندي پروسيجر کي د پناه غوښتنې ازموينه ........................ 15
- په OFPRA کي شخصي انټرويو يا مرکه ........................ 15
- طبي معاينه ........................ 16
- د OFPRA پريکړه ........................ 16
- د OFPRA د پريکړې پر ضد اپيل ........................ 18
- د OFPRA د پريکړې د خبرتيا څخه وروسته د پاتي کيدو د حق خاتمه ........................ 18

3.2 د پناه د حق ملي محکمې (CNDA) لخوا ازموينه ........................ 19

- د اپيل کولو لپاره وخت ........................ 19
- د يو وکيل مرسته ........................ 19
- اپيل ........................ 20
- د اپيل رسيد ........................ 21
- د اپيل ټالونکي يا معطلونکي ماهيت ........................ 21
- په CNDA کي محکمې غونډه ........................ 22
- د CNDA پريکړه ........................ 23
- د CNDA د پريکړې وروسته د پاتي کيدو د حق خاتمه ........................ 24

3.3 د بند شوې پناه غوښتنې بيا پرانيستنه ........................ 24

3.4 بيا کتنه ........................ 24

4. د پناه غوښتونکي د هرکلي او استوګنې واقعي او مهم شرايط او د هغۀ حقونه ........................ 26

4.1 د پناه غوښتونکي استوګنه ........................ 26

- د استوګنې ځايونه ........................ 26

- استوګنځای ته راجع کونه ........ 27
- استوګنځای کې داخله او وتنه ........ 27

4.2 د پناه غوښتونکي لپاره الاؤنس (ADA) ........ 27
- د ګټه ترلاسه کولو شرایط ........ 28
- د غوښتلیک جوړونه ........ 28
- د الاؤنس پیسي ........ 28
- د الاؤنس ورکړه ........ 29
- اپیل ........ 29

4.3 زده کړو او تعلیم ته لاسرسي ........ 30

4.4 علاج یا درملنې ته لاسرسي ........ 30
- چرته به د ځان علاج کوئ ........ 30
- خپل روغتیایي لګښتونو کې ملاتړ څنګه ترلاسه کول؟ ........ 31

4.5 د کار روزګار بازار ته لاسرسي ........ 32

5. په سیمه کې د پاتې کیدو په حق باندې د پناه غوښتنې د رد کیدو پایلې یا نتیجې ........ 33

5.1 د OFPRA او یا د CNDA لخوا د ردولو پریکړه ........ 33
- د OFPRA د پریکړې د خبرتیا وروسته، د پاتې کیدو د حق خاتمه ........ 33
- د CNDA د پریکړې د خبرتیا، او یا، د پریکړې د اورولو وروسته، د پاتې کیدو د حق خاتمه ........ 35

5.2 خپل اصلي هیواد ته د بیرته ستنیدو په لړ کې کمک ........ 36

5.3 خپل اصلي هیواد ته جبري استونه ........ 37

6. د تحفظ څخه ګټور کیدونکو حقونه ........ 38

6.1 په فرانسه کې استوګنه ........ 38

6.2 د فامیل استوګنه ........ 38
- ستاسو د فامیل د غړو د استوګنې حق ........ 38
- د فامیل د بیا یو ځای کیدلو حق ........ 39

6.3 د انټیګریشن یا ادغام لاره ........ 40
- د امیګریشن او انټیګریشن فرانسوي دفتر (OFII) سره د جمهوري ادغام قرارداد لاسلیک کول ........ 40

6.4 ټولنیز حقونه ........ 40
- استوګنځای ته لاسرسي ........ 40
- د روزګار بازار ته لاسرسي ........ 41
- علاج او درملنې ته لاسرسي ........ 41
- ټولنیز او فامیلي خدمتونه ........ 42

6.5 بهر ته سفر ........ 42

6.6 د تابعیت ورکړه ........ 43

6.7 د تحفظ خاتمه ........ 43

ضمیمه : ګټورې ادرسې ........ 45

1. ملي ادرسې ........ 45
- اداري ........ 45
- نړیوال سازمان ........ 45
- ایسوسي ایشنز یا ټولنې ........ 45

2. لوکل یا ځایي ادرسې ........ 47
- ګیشې یونیک ........ 47
- پره فیکټور ........ 48
- د امیګریشن او اینټیګریشن فرانسوي دفتر (OFII) سیمه ایز مدیریت ........ 51

# 1. د تحفظ مختلف ډولونه

کله چې تاسو د پناه غوښتنه کوئ او د هغې معاینه د فرانسې مسؤلیت وي، نو ستاسو غوښتنلیک به د تحفظ یا ژغورنې د چاراوکو لخوا معاینه کیږي، یعنې "د مهاجرینو او بې کوره خلکو د تحفظ یا ساتنې لپاره د فرانسوي دفتر (OFPRA) لخوا، کوم چې به دا کار د پناه د حق ملي محکمې (CNDA) د قانوني واک لاندې ترسره کیږي.

د پناه غوښتنې له معاینې وروسته، د تحفظ یا ژغورنې چاراواکي تاسو ته د پناه په لړ کې تحفظ درکولې شي : یا خو به تاسو د کډوالو یا مهاجر په توګه منل کیږئ، او یا، به ضمني تحفظ درکول کیږي. .

## 1.1. د کډوال یا مهاجر حیثیت.

تاسو ته د مهاجر یا کډوال حیثیت په درېو بنسټونو درکړای کیدای شي :

- د 28مې جولایې کال 1951 د **جنیوا کنوینشن** پر بنسټ، کوم چې د مهاجرینو او کډوالو په اړه دی. د مهاجر یا کډوال حیثیت "*هغه چا ته ورکړل کیږي (...) څوک چې د خپل نسل، خپل مذهب، خپل قومیت یا ملیت، د یوې ټولنیزې ډلې سره د تعلق، او یا، د خپلو سیاسي نظریاتو، پر بنسټ د ځورونې ویره لري، او دوي له خپل هیواد څخه بهر وي، او نشي کولی یا د دې ویرې له امله نه غواړي چې د خپل هیواد څخه تحفظ وغواړي*" ؛
- **د "اساسي قانوني" پر بنسټ پناه،** کوم چې د کال 1946 د اساسي قانون د سریزې په 4م پراګراف کې ذکر شوی ده. د مهاجر یا کډوال حیثیت هغه کس ته هم ورکول کیږي څوک چې "*د آزادۍ لپاره د کار کولو له امله ځورول شوی وي*" ؛
- **د ملګرو ملتونو د مهاجرینو لپاره د عالي کمیشن دفتر (UNHCR) دنده** : که چیرې تاسو د UNHCR لخوا د کډوال یا مهاجر په توګه پیژندل شوي یاست، د هغوي د قانون د 6مې او 7مې مادې پراساس.

## 1.2. ضمني تحفظ حیثیت.

د ضمني تحفظ ګټه هر هغه کس ته ورکول کیږي څوک چې د یو کډوال حیثیت د ورکړې په شرطونو پوره نه وي، خو هغه چا ته ورکول کیږي کوم چې دا باور لري چې هغه جدي او ثابت دلیلونه لري چې هغه په خپل هیواد کې له حقیقي خطر سره مخ دی او په لاندې ذکر شوو جدي خطرو کې له یو سره مخ کیدای شي :

- د مرګ سزا یا اعدام ؛
- شکنجه یا غیرانساني یا سپکوونکي سلوک ؛
- د یو ملکي یا سیویلین په صورت کې، د یو کس ذات ته او ژوند ته شخصي او جدي ګواښ، کوم چې د یو داخلي یا نړیوالې وسله والې شخړې له امله رامنځته شوې وي، او کوم چې د خلکو شخصي حالت په پام کې نیولو پرته د تاوتریخوالي له امله رامنځته شوې وي.

**د بې وطنۍ حیثیت**

د بې وطنۍ د حیثیت په اړه د 28م ستمبر کال 1954 د نیو یارک د کنونشن له مخې، د بې وطنۍ حیثیت هغو کسانو ته ورکړای کیدای شي، کوم چې "*هیڅ هیواد هم د خپل قانون لاندې دغه کس خپل تبعه یا وګړی نه ګڼي*".

دا حیثیت د پورته ذکر شوو د دوه نورو تحفظ د ډولونو څخه توپیر لري او د پناه غوښتنې د پروسې لاندې نه راځي. نو تاسو باید پره فیکتور ته لاړ نشئ ، مګر په مستقیم ډول OFPRA ته لاړشئ، کوم چې ستاسو د غوښتنې له بیاکتنې وروسته کولی شي تاسو ته د اداري محکمې تر قانوني واک لاندې دغه حیثیت درکړي.

# 2. پروسیجر یا کړنلارې ته لاسرسي او د پناه غوښتنې راجستر کول

په فرانسه کې د پناه د غوښتنلیک د ورکولو لپاره، تاسو باید د پناه غوښتونکو لپاره د لومړي هرکلي او استوګنې دفتر (SPADA) سره تماس ونیسئ، څوک چې به تاسو ته د پناه غوښتنې د کړنلارې په اړه معلومات درکوي او تاسو ته به د لیدو کتو یا ملاقات لپاره په یو ګیشي یونیک کې وخت درکوي کوم چې په سمیه ایزه توګه واک اختیار لري.

ګیشي یونیک" ستاسو د پناه غوښتنلیک د راجستر کولو یا ثبت کولو مسؤلیت په غاړه لري، هغه کړنلاره یا پروسیجر ټاکي له کوم لاندې چې تاسو راځئ، ستاسو د کمزورۍ ارزونه کوي، او ځینو د شرایطو لاندې تاسو ته ستاسو د استوګنې لپاره لاره برابروي (استوګنه، د پناه غوښتونکو لپاره الاؤنس).

**د استوګنې د کومو شرایطو لاندې تاسو د پناه غوښتنه کولی شئ؟**

د اوسیدو د حق په اړه ستاسو وضعیت په پام کې نیولو پرته، که تاسو په منظم او قانوني حالت کې یاست، او یا، که په یو غیر منظم او غیر قانوني حالت کې، خو بیا هم تاسو د پناه اخیستو لپاره غوښتنه کولی شئ. دا حقیقت چې تاسو فرانسي ته په غیر منظم او غیر قانون ډول داخل شوي یاست، خو بیا هم دا خبره ستاسو د پناه غوښتنلیک ثبت کولو مخه نه نیسي.

تاسو ته دا مشوره درکړای کیږي چې فرانسوي خاورې ته د رارسیدو وروسته، تاسو د خپلې د پناه غوښتنې غوښتنلیک ژر تر ژره ثبت کړئ، حتی که تاسو فرانسه ته د یوې معتبره یا اتباري ویزې سره ننوتلي یاست. که ستاسو خپله غوښتنه فرانسي ته د ننوتلو په 90 ورځو کې دننه وړاندې نه کړئ، نو کیدای شي چې ستاسو ملاتړ او ملګرتیا رد شي.

## 2.1 د پناه غوښتونکو لپاره د لومړي هرکلي یا استوګنې دفتر

مخکې لدې چې تاسو د پناه غوښتونکو لپاره مختص شوي ګیشي یونیک (GUDA) ته لاړ شئ، تاسو باید د پناه غوښتونکو د لومړي استقبال یا هرکلي سازمان (SPADA) ته لاړ شئ. د لومړي استقبال یا هرکلي دا سازمانونه، چې په اصل کې د ځینو ایسوسي ایشن لخوا اداره کیږي، تاسو سره ستاسو په کړنلارو کې د ملاتړ او ملتیا مسؤلیت په غاړه لري تر څو ستاسو د پناه کړنلارې پیل شي.

د لومړي استقبال یا هرکلي مسؤلین د دې لاندې ذکر شوو خبرو مسؤل دي :

- د پناه غوښتنې د کړنلارې په اړه تاسو ته معلومات درکول ؛
- ستاسو د وضعیت په اړه د معلوماتو پر بنسټ، د آنلاین فارم په اړه معلومات درکول، کوم چې به ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک د ثبتولو لپاره وکارول شي ؛
- په ګیشي یونیک کې د لیدو کتو وخت ټاکل او تاسو ته د ملاقات بلنه درکول. په دغه بلنه کې به ځای، ورځ او وخت لیکل شوې وي او بیا باید تاسو خامخا هم په دغه ورځ او وخت ګیشي یونیک ته ځان حاضر کړئ. دا ملاقات په اصل کې د مسؤلینو سره د لیدو څخه زیات نه زیات 3 ورځو کې دننه کیږي. د ډیرو زیاتو حاضریو په صورت کې، د دریو ورځو دا وخت تر 10 ورځو ته رسیدای شي ؛
- په ګیشي یونیک کې د غوښتنې وروسته، ستاسو د شناخت عکسونه اخیستل.

ستاسو ټول فایل به د بریښنا لیک له لارې ګیشي یونیک ته لیږل کیږي.

<u>یاملرنه</u> : تاسو باید په بلنه کې د ښودل شوي نیټې او وخت درناوی وکړئ. د ځنډ یا نا وخته کولو په صورت کې، تاسو ته به هرکلي نه وئیل کیږي، او تاسو به یو ځل بیا د یو نوي ملاقات د وخت ټاکلو په غرض د لومړي هرکلي سازمان ته ځان حاضره وئ.

په یاد ولرئ چې په ګیشي یونیک کې د نوم ثبتولو څخه وروسته، که چرې تاسو د "پناه غوښتونکو د استوګنې په سنټر(CADA)" کې، او یا، د پناه غوښتونکو لپاره نورو جوړ شوو د استوګنې په سنټرونو کې استوګنه نه وي ترلاسه کړې، نو SPADA هم تاسو ته د استوګنې درکولو مسؤلیت په غاړه لري ( په 2.2.1 برخې کې وګورئ "خپله استوګنه څنګه ثابتولی کیږي؟").

## 2.2. په ګيشې يونيک کې د پناه غوښتنه راجستر کول يا ثبتونه

د خپلې پناه غوښتنې غوښتنليک راجستر کولو لپاره، تاسو بايد د SPADA لخوا تاسو ته ليږل شوي نوټس سره سم، تاسو بايد ګيشې يونيک ته لاړشئ (وګورئ 2.1.).

ګيشې يونيک د پره فيکتور د افسرانو او د اميګريشن او اينټيګريشن فرانسوي دفتر (OFII) د افسرانو څخه جوړ دی، کوم چې په ځانګړي توګه ستاسو د هرکلي او استوګنې باوري کولو لپاره هلته ناست وي.

دلته په ټول غټ ښار کې 33 ګيشې يونيک شتون لري (تاسو په ضميمه کې ليست کتل شئ).

په ګيشې يونيک کې ستاسو ملاقات په دوو برخو کې ويشل شوی دی :

- لومړی ګام، د پره فيکتور د افسرانو سره د خپل غوښتنليک راجستر کول (2.2.1).
- دويم ګام، د OFII د افسرانو په وړاندې د خپلو ځانګړو اړتياو د ارزونې او د کمک او ملاتړ د طريقو تشريح کونه او پيژندنه (2.2.2).

**ايا تاسو لپاره د خپلې پناه غوښتنې غوښتنليک د راجستر کولو لپاره د پوست يا ډاک ادرس لرل لازم دي ؟**

د خپل پناه غوښتنليک راجستر کولو لپاره ادرس (د پوست يا ډاکخانې ادرس) لرل اړين نه دي.

خو بل خوا، دا به ستاسو د پناه غوښتنې د سند نوي کولو لپاره اړين وي (په 2.2.1 برخه کې وګورئ "د پناه غوښتنې د غوښتنليک د تصديقي سند ورکونه").

## 2.2.1. لومړی ګام : د پره فيکتور لخوا ستاسو د پناه غوښتنې راجستر کول.

**ايا تاسو د خپلو کوچنې ماشومانو سره ياست؟**

که تاسو د خپلو کوچنې ماشومانو سره ياست، نو دوی به هم د پناه غوښتونکو په توګه ګڼل کيږي، او ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنليک سند کې به ثبت کړی کيږي. که چرې دواړه والدين پناه غوښتونکي وي، نو کوچنيان ماشومان به د خپلې مور په سند کې راجستر کيږي، چې د کرنلاري په اوږدو کې د رجوع کونکي مور په توګه په پام کې نيول کيږي. دا سند ستاسو د کورنۍ د ترکيب تصديق نه کوي، مګر د رواني پناه غوښتنې تصديق کوي.

### ■ ستاسو د پناه غوښتنې د ازموينې د مسؤل دولت ټاکنه.

د لومړي استقبال يا هرکلي د سازمان لخوا، ګيشې يونيک ته د ليږل شوو ټولو معلوماتو تصديقولو وروسته، د پره فيکتور يو افسر به دا مشخص کوي چې ايا فرانسه ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنليک معاينه کولو مسؤليت په غاړه لري.

د دې لپاره، که تاسو 14 کلن يا د دې ډير عمر لرئ، هغه به ستاسو د ګوتو لس نښې اخلي او يوه انفرادي مرکه به ترسره کوي ترڅو ستاسو له خپل اصلي هيواد څخه ستاسو سفر بيا معلوم کړي، او ممکنه اړيکې يا خپلوي رامعلومه کړي، د مثال په توګه کورنۍ اړيکې، چې تاسو کولی شئ په نورو غړو هيوادونو کې له ځان سره وساتئ.

دا د دې ټولو عناصرو په اساس ده کوم چې به ستاسو د پناه غوښتنې د معاينې مسؤل دولت يا هيواد ټاکي، او دا ټاکل د اروپايي پارليمنټ د 26م جون کال 2013 د قانون نمبر 604/2013 لاندې کيږي، چې ورته ډبلن III قانون وئيل کيږي.

**د ډوبلين III په پيکج سره اړه لرونکي دولتونه**

د اروپايي اتحاديې 28 غړي هيوادونه دي : جرمني ، اتريش، بلجيم، بلغاريه، کروشيا، قبرس، ډنمارک*، هسپانيه، ايستونيا، فنلينډ، فرانسه، يونان، هنګري، آيرلينډ، ايټاليا، لاتويا، ليتوانيا، لوګزامبورګ، مالټا، هالينډ، پولينډ، پرتګال، چک جمهوريه، رومانيا، انګلستان، سلواکيا، سلووينيا او سويډن، او څلور نور اړوند دولتونه : آيس لينډ، ناروې، سويډزرلينډ او ليچټين سټين.

* ډنمارک د ډوبلين III مقرراتو تابع ندي، مګر د ډوبلين کنوانسيون پلي کولو ته دوام ورکوي، چې د جون په 15مه کال 1990 کې لاسليک شوی.

**په حقيقت کې، دا امکان شته چې د فرانسې پرته بل اروپايي هيواد يا دولت ستاسو د پناه غوښتنې د ازموينې مسؤل وي، د مثال په توګه :**

- که چرې کوم بل غړي هيواد تاسو ته د اوسيدو قانوني اجازه يا ويزه صادر کړې وي ؛
- که چرې دا ثابت شي چې تاسو د بل غړي دولت بهرني سرحد يا پوله په غير قانوني ډول د ځمکې له لارې، د هوا يا د سمندر له لارې کراس کړی دی ؛
- که چرې تاسو د اروپايي اتحاديې سيمې ته په لومړي ځل د يو داسې غړي دولت د سرحدونو په تيريدو سره داخل شی يئ چيرته چې تاسو له ويزې څخه معاف ياست ؛
- که چرې تاسو په کوم بل غړي هيواد کې له وړاندې نه د پناه غوښتنه کړې وي.

**آيا ستاسو د پناه غوښتنې د معاينه کول امکان لري چې د کوم بل غړي هيواد مسؤليت وي؟**

د "ډوبلين III" پروسيجر عملي کيږي. پره فيکتور به د دغه هيواد سره کړنلارې پيل کوي او ورڅخه ستاسو د کمک او ملاتړ غوښتنه به هم کوي. بيا به تاسو ته د پناه غوښتنې تصديقي سند درکول کيږي، چې يوې مياشت لپاره به وي، بيا به د څلور مياشتو لپاره نوي کيدونکي تصديقي سند درکول کيږي، تر څو تاسو د فرانسې په خاوره تر بل مسؤل هيواد ته د ليږد تر وخت پورې پاتې شئ .

دا ليږد به د پره فيکتور د دفترونو لخوا تنظيمول کيږي کوم چې به تاسو ته د ليږد د پريکړې په اړه خبر درکوي، چې په دغه خبرتيا کې به ستاسو د ليږد طريقه او شرايط مشخص کړای شوې وي. تاسو به 15 ورځې وخت لرئ چې دغه پريکړه په اداري محکمه کې چيلنج کړئ يا اعتراض پرې وکړئ.

## ستاسو د پناه غوښتنې وړتيا.

**که چرې ستاسو د پناه غوښتنې د ازموينې يا معاينه کولو مسؤليت د فرانسې په غاړه وي**، نو بيا OFPRA ستاسو د غوښتنې د معاينه کولو وړ دفتر دی، که دا پروسيجر يا کړنلاره عادي يا نارمل وي، او که ګړندي پروسيجر وي. په ګړندي پروسيجر کې، د OFPRA لخوا د ازموينې وخت لنډ وي، په اصل کې 15 ورځې، مګر په دواړو پروسيجرو کې تضمينونه يو شان دي.

- په دې لاندې ذکر شوو دوو حالتونو کې، په ګيشې يونيک کې، **ستاسو غوښتنليک په اتوماتيک ډول په ګړندي پروسيجر کې اچول کيږي :**

- کله چې تاسو د يو داسې هيواد تابعيت لرئ چې د يو خوندي يا سوله ييز هيواد په توګه پيژندل شوی وي (د دې هيوادونو ليست په پروفيکتور کې، او يا، د OFPRA په ويب پاڼه موجود دی) ؛
- کله چې تاسو د خپلې پناه غوښتنې لومړۍ غوښتنليک وړاندې کړئ وي او چې په کلکه رد شوی وي، او دا چې کله تاسو د خپلې غوښتنې باندې بيا له سره د غور کولو، او يا، د بياکتنې غوښتنه کوئ.

- په لاندې ذکر شوو حالتونو کې، په ګيشې يونيک کې، **ستاسو غوښتنليک په ګړندي پروسيجر کې هم اچول کيدای شي :**
  - که چرې تاسو د ګوتو نښې لګولو څخه انکار کوئ ؛
  - که چرې تاسو د غلطو سندونو په وړاندې کولو، د غلط معلوماتو ورکولو، او يا، د ځينې معلوماتو پټولو په واسطه د چارواکو د ګمراه کولو هڅه کوئ ؛
  - که چرې تاسو د مختلفو نومونو لاندې څو نورې غوښتنې کړې وي ؛

- که چېرې تاسو فرانسې ته د رارسېدو څخه وروسته د پناه په غوښتنه کې نا وخته کړې وي ( له 90 ورځو څخه زيات، او په Guyane کې د 60 ورځو څخه زيات) ؛
- که چېرې تاسو يوازې د لرې استولو د امر د ناکامولو په غرض د پناه غوښتنه کوئ ؛
- که چېرې ستاسو شتون د عامه نظم، عامه امنيت يا د دولت امنيت لپاره جدي ګواښ رامينځته کوي.

OFPRA دا اختيار لري چې د راجستريشن په وخت په ګړندي پروسيجر کې اچول شوې غوښتنليک بيرته په نارمل يا عادي پروسيجر کې واچوي، مګر بې له هغه غوښتنليک کوم چې د عامه نظم د موخو لاندې په ګړندي پروسيجر کې اچول شوې وي.

که چېرې ستاسو د پناه غوښتنليک په ګړندی پروسيجر کې اچول شوې وي، نو تاسو ته به د معلوماتو د خبرتيا څو کاپيانې درکړل شي. دا به اړينه وي چې د غوښتنليک د سپارلو پرمهال يوه کاپي OFPRA ته واستول شي، او يوه کاپي يې CNDA ته واستول شي، که چېرې تاسو د OFPRA د پريکړې پر ضد اپيل کوئ.

**ځانګړې صورت کې : آيا تاسو د محکمې، او يا، د يو دولتي اداري لخوا اعلان شوي د جلاوطنی يا د شړنې د امر لاندې او په سيمه کې د بنديز د امر لاندې راتللې شئ ؟**

دا حقيقت چې تاسو د يو داسې د شړلو د امر لاندې راغلې يئ، خو بيا هم دغه خبره ستاسو د پناه غوښتنې د راجستر کولو په لار کې خنډ نه جوړېږي.

که چېرې ستاسو د غوښتنليک د معاينې مسؤل دولت فرانسه وي، نو ممکن ده چې تاسو په خپل کور کې نظر بند کړې شئ، او يا، توقيف شئ.

په داسې صورت کې، OFPRA به ستاسو د نظربندی او يا د توقيف وروسته ستاسو د غوښتنليک معاينه يا پلټنه په ډېر لنډ وخت کې کوي (96 ساعتونه). ستاسو د غوښتنې د رد کېدو يا د نه منلو په صورت کې، په سيمه کې ستاسو د پاتې کېدو حق پای ته رسي. تاسو کولی شئ، په 48 ساعتونو کې دننه دننه، له اداري قاضي څخه وغواړئ چې د اخراج يا شړلو اجرا وځنډوي پداسې حال کې چې CNDA ستاسو استيناف يا اپيل معاينه يا پلټنه کوي (برخه 5.1 وګورئ).

### ▪ په OFPRA کې د انټرويو يا مرکې د ژبې انتخاب

**که چېرې ستاسو د پناه غوښتنې د معاينې مسؤليت د فرانسې په غاړه وي**، نو OFPRA ته د ليکلي شوې غوښتنې له سپارلو وروسته، او په پرته له استثنا، تاسو سره به د يوی شخصي انټرويو په جريان کې د OFPRA مسؤلين خبرې اترې کوي.

ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنليک د راجستر په جريان کې، تاسو بايد هغه ژبه غوره کړئ چې په کومه ژبه کې تاسو له OFPRA سره خبرې کول غواړئ. بيا به تاسو ته يوه خبرتيا درکړای کيږي د هغو ژبو په اړه کومې چې په OFPRA کې د خبرو اترو لپاره ميسر وي. د دغو ژبو شمير له 115 څخه زيات دی. تاسو به وروسته نشئ کولی خپل د دغه ژبې انتخاب بدل کړئ او دغه غوره شوې ژبه به د پناه غوښتنې د پروسې په اوږدو کې کارول کيږي.

که چېرې تاسو په معلوماتي خبرتيا کې ذکر شوو ژبو تر مينځ انتخاب نه وي کړی، نو بيا به تاسو سره په داسې ژبه کې خبرې اترې کيږي چې تاسو پکې کافي پوهه لرئ.

که چېرې تاسو د هغه غوره شوې ژبې په اړه اعتراض کول غواړئ کومه چې ستاسو د پناه غوښتنې د پروسې په جريان کې کارول شوې وي، نو تاسو دا کار د OFPRA د پريکړې پر ضد د CNDA په وړاندې فقط د اپيل کولو په شکل کې کولې شئ.

<u>يادښت</u> : په OFPRA کې د انټرويو يا مرکې وخت او نوعيت د ژبې له سطحې عمل نه ډېر څه ته اړتيا لري. دا مهمه ده چې تاسو بايد هغه ژبه غوره کړئ په کومه ژبه چې تاسو ښهٔ پوهيږئ، او چې تاسو پکې ډېر ښهٔ خبرې کولی شئ.

## ▪ د پناه د غوښتنلیک د تصدیقي سند ورکړه

ستاسو د پناه د غوښتنلیک د کرنلارې وړتیا، او ستاسو د پناه غوښتنې د مسؤل دولت له ټاکلو وروسته، تاسو ته به د پناه د غوښتنلیک تصدیقي سند درکړای کیږي.

**کله چې دا امکان وي چې ستاسو د غوښتنلیک معاینه د بل غړي دولت مسؤلیت دی**، نو د لومړي تصدیقي سند د اعتبار موده یوه میاشت ده. دا موده بیا د نورو څلورو میاشتو لپاره تجدید کیږي (په 2.2.1 برخه کې وګورئ " ستاسو د پناه د غوښتنلیک د معاینه کولو لپاره د مسؤل دولت ټاکل").

**کله چې ستاسو د غوښتنلیک د معاینه کول مسؤل دولت فرانسه وي**، نو تاسو ته به د پناه غوښتنې لومړی تصدیق سند درکول کیږي. دا تصدیقي سند به د منلو وړ وي :

- د لسو میاشتو مودې لپاره کله چې ستاسو غوښتنه د نورمال پروسې لاندې معاینه کیږي؛
- د شپږو میاشتو مودې لپاره کله چې د ګړندۍ کرنالرې لاندې معاینه کیږي.

پره فیکتور نشي کولی چې تاسو ته د ستاسو د پناه غوښتنې د تصدیقي سند درکولو څخه انکار وکړي، خو بیا هم په دې لاندې ذکر شوو صورتونو کې انکار کولی شي :

- کله چې تاسو د بیا کتنې د مخکینی غوښتنې د رد کیدو وروسته، د یوې بلې بیا کتنې یوه نوې غوښتنه وړاندې کوئ (وګورئ 3.4) ؛
- کله چې ستاسو په اړه د خپل اصلي هیواد پرته بل کوم هیواد ته د تسلیم کولو پریکړه وشي، او یا، د اروپايي نیونې د امر په بنسټ د تسلیمیدو پریکړه وشي، او یا، د یو نړیواله جنایی محکمې لخوا د تسلیم کولو غوښتنه وشي.

د تصدیقي سند له سپارلو وروسته په 21 ورځو کې دننه (د غوښتنلیک د بیاکتنې، او یا، د بیا خلاصولو په صورت کې 8 ورځې، 3.3 او 3.4 برخې وګورئ)، تاسو باید د پناه غوښتنې فورمه واستوئ، کوم چې تاسو ته د OFPRA په دفتر کې د پره فیکتور لخوا درکړای شوی ده. (وګورئ 3.1 "د OFPRA لخوا ازموینه یا معاینه"). که ستاسو دوسیه یا فایل بشپړ شي، نو OFPRA د یو خط له لارې رسید درلیږي.

د خپلې پناه د غوښتنلیک نوی شوې تصدیقي ترلاسه کولو لپاره، تاسو باید د خپل د اوسیدو د ځای پره فیکتور ته لاړشئ. ستاسو تصدیقي سند هرشپږ میاشتو کې نوی کیږي، هم په عادي یا نورمال پروسیجر او هم په ګړندی پروسیجر کې.

د هر تجدید په غوښتنې سره، تاسو باید د خپل غوښتنلیک په ملاتړ کې هغه اسناد وړاندې کړئ کوم چې د پریفیکچر یا پره فیکتور لخوا غوښتل شوي وي، په ځانګړې توګه د هغه ادرس ثبوت چرته چې تاسو ته استوګنه درکړای شوې ده. د دې خبرې د تصدیق لپاره چې تاسو CNDA ته اپیل یا عریضه کړې ده، تاسو باید د دغه اپیل یا عریضې رسید وړاندې کړئ (د 3.2 برخه وګورئ "د پناه حق د ملي محکمې لخوا ازموینه").

**څنګه دخپل کور یا استوګنې ادرس ثابتول ؟**

د 1 جنورۍ کال 2019 څخه وروسته د راجستر شوو د پناه غوښتنلیکونو لپاره، تاسو کولی شئ په لاندې ذکر شوو لارو د خپل کور یا استوګنې ادرس ثابت کړئ :

- که چرې تاسو ته د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې په مرکز کې، او یا، د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې په نورو مرکزونو کې استوګنه درکړای شوې ده (په دې کې هوټلونه شامل نه دي)، نو د عارضي ادرس یا استوګنې د ثبوت په ورکولو سره ؛
- که چرې تاسو په خپل کور کې اوسئ، او یا، د کرایه په کور کې اوسئ، او یا، په یو داسې کور یا اپارتمنت کې اوسئ چې ستاسو میړهٔ یا میرمنې/ بچي/مشر لخوا په کرایه نیول شوي وي، نو د ادرس ثبوت په وړاندې کولو سره ؛

- په نورو صورتونو کې، تاسو باید د سوشل سیکیوېټي سره تړون شوي د لومړي هرکلي په سنټر کې استوګن شئ، او د استوګنې ثبوت وړاندې کړئ (2.1 وګورئ).

د 1 جنورۍ کال 2019 څخه وړاندې د راجستر شوو پناه غوښتلیکونو لپاره، تاسو کولی شئ د پورته ذکر شوو طریقو له لارې استوګنه ترلاسه کړئ، خو بیا هم د اړتیا په صورت کې د دریمګړې ډلې یا کومې ادارې سره استوګنې ته دوام ورکولي شئ.

د پناه غوښتنې د تصدیق دغه سند، په دې هیواد کې ستاسو د پاتې کیدو د حق د مودې په ترځ کې، هر وخت بیا نوی کیدای شي. په اصولي توګه، د خپلې پناه غوښتنې د ارزونې د مودې په ترځ کې، د OFPRA د پریکړې د خبرتیا پورې، او یا، CNDA ته د اپیل کولو په صورت کې، د اپیل د پریکړې د رالتلو پورې، او یا، دا اړتیا په صورت کې د دغه پریکړې د اورولو پورې، تاسو ته په دې هیواد کې د پاتې کیدو حق ترلاسه دی.

خو بیا هم، ستاسو د پناه غوښتنې د تصدیق سند کیدای شی بیرته واخیستل شي یا بیا نوي نشي، په داسې صورت کې کله چې :

- د OFPRA لخوا تاسو ته د غوښتنلیک د رد کیدو، او یا، د غوښتنې د نه منلو د پریکړې خبرتیا درکړای شوې وي، په کومه پریکړه کې چې په دې هیواد کې ستاسو د پاتې کیدو د حق خاتمه شوې وي. (5.1 وګورئ "د OFPRA یا CNDA لخوا د رد کولو پریکړه) ؛
- او کله چې دا خبره څرګنده شي چې CNDA ته د اپیل لپاره د ټاکل شوې وخت د حد درناوی نه دی شوی (3.2 وګورئ "د پناه حق په اړه د ملي محکمې ازموینه").

<u>یادونه</u> : د پناه غوښتنې تصدیقي سند تاسو ته دا اجازه نه درکوي چې تاسو په آزاد ډول د اروپایي اتحادیې په نورو هیوادونو کې وګرځئ.

### ■ د پناه پرته، د نورو دلیلونو پر بنسټ د استوګنې غوښتلو امکان.

که چېرې ستاسو د پناه غوښتنه د فرانسې مسؤلیت وي، نو تاسو ته به د استوګنې د جواز لپاره د غوښتنلیک ورکولو د امکان په اړه خبر درکړای کیږي، خو د پناه د مقصد لپاره نه، بلکه د نورو مقصدونو لپاره.

تاسو ته به د معلوماتو یوه خبرتیا درکړای کیږي چې په دغه خبرتیا کې به د دې غوښتنې لپاره د ټاکل شوې مودې ذکر شوې وي، او بیا تاسو په دغه ټاکل شوې موده کې دننه د استوګنې یا پاتې کیدو د جواز لپاره غوښتنه کولی شئ. د دې مودې وروسته، تاسو به نشئ کولی د استوګنې یا د پاتې کیدو د اجازه لیک غوښتنه وکړئ، خو د نوي توجیه شوو حالاتو لاندې کولی شئ.

## 2.2.2 دویم ګام : د OFII لخوا د ضرورتونو ارزونه او ملاتړ او مرسته.

### ■ د ګیشي یونیک لخوا ستاسو ځانګړي ضرورتونه په پام کې نیول.

یوځل چې تاسو ګیشي یونیک ته لاړ شئ، نو بیا د پره فیکتور سره د پناه غوښتنې د غوښتنلیک د ثبتولو وروسته، د OFII افسر به تاسو ته په شخصي ډول هرکلي وایي، په دې غرض چې د هرکلي او استوګنې په اړه ستاسو د اړتیاو ارزونه وکړي.

دغه مرکه یا خبرې اترې به پټ ساتل کیږي، او ستاسو د پناه غوښتنې د علتونو سره به تړاو نه لري. د پوښتنو یو لیست به تاسو ته درکړای کیږي، په دې غرض چې وکتل شي چې آیا تاسو د هرکلي او استوګنې د مشخصو شرایطو ته اړتیا لرئ او کهٔ نه. که چېرې ستاسو وضعیت ورته اړتیا لري، نو د OFII افسر به دا عناصر په پام کې نیسي ترڅو تاسو یو مناسب هستوګنځای ته ولیږي.

تاسو دغه پوښتنلیک ته د ځواب ورکولو یا نه ورکولو حق لرئ. د انکار په صورت کې، دا اداره به مسؤل نه وي که چرې تاسو یو داسې استوګنځای ته واستول شوئ کوم چې ستاسو د ضرورتونو سره سمه نه وي، او یا، OFPRA ته ستاسو د وضعیت په اړه د راپور نه ورکولو په صورت کې هم دا اداره به مسؤل نه وي.

که تاسو د طبي فایل سره فرانسې ته رارسیدلي یئ، نو د OFII افسر به ستاسو فائل په پټه توګه د OFII ډاکټر ته واستوي، او دغه ډاکټر به دا پریکړه کوي چې آیا ستاسو حالت یا وضعیت د استوګنې د شرایطو ته اړتیا لري یا که نه. که تاسو ناروغ یاست، نو تاسو به د پاملرنې مرکز یا د نږدې روغتون ایمرجنسي یا عاجلې څانګې ته ولیږل شئ.

که چرې د OFII افسر ته دا خبره څرګنده شي چې ستاسو وضعیت یا حالت خراب دی، نو ستاسو په رضا سره، هغه به دغه خبر OFPRA ته ورکوي. د دې خبر ورکولو مقصد، د اړتیا په صورت کې، دا دی چې د OFPRA لخوا ستاسو د پناه غوښتنې د پلټنې شرایط تنظیم کول دي ، (د مثال په توګه، د معلولینو یا معذورو کسانو لپاره د لاسرسي موافقت، او یا، د اشارو د ژبې ترجمان ورته برابرول). OFPRA به د اړین تنظیمي کارونو ارزونه کوي.

ستاسو د پناه غوښتنې د ازمويینې په جریان کې، ستاسو د خراب یا زیان منونکې حالت پورې اړوند اړتیاوې به، په استوګنځای کې دننه د ټولنیزو کارمندانو لخوا، او په ټولنیزو او اداري کړنلارو کې ستاسو مرسته کوونکې مؤسیسو لخوا په پام کې نیول کیږي.

- **د ملاتړاو مرستې وړاندیز.**

په ګیشي یونیک کې ستاسو د ملاقات پر وخت، OFII به تاسو ته د پاملرنې وړاندیز کوي، کوم چې تاسو ته دا اجازه درکوي چې تاسو د خپلې پناه په لړ کې په دې هیواد کې د پاتې کیدو د ټولې مودې په جریان کې، د هرکلي او استوګنې د مادي شرایطو څخه ګټه پورته کړئ.

په ګیشي یونیک کې تاسو ته د OFII لخوا درکړای شوې د کمک او ملاتړ د وړاندیز سند ستاسو د فامیلي جوړښت تصدیق کوي، تر څو د هرکلي او استوګنې د مادي شرایطو په اړه ستاسو د حقونو کچه وټاکي. په دې سند کې د OFII لخوا هغه وخت بیا بدلون راوستل کیږي کله چې یو ماشوم وزیږي، او یا، د کړنلارو په جریان کې له خپل مور او پلار سره یوځای شي، ترڅو د هرکلي او استوګنې د مادي شرایطو د حقونو بیا حساب کتاب کول په پام کې ونیسي.

لکه څنګه چې د دې لارښود په 4مه برخه کې وئیل شوي، د هرکلي او استوګنې مادي شرایط تاسو ته لاندې ذکر شوې حقونه درکوي :

- که چرې تاسو ته دمخه استوګنه نه ده درکړای شوې، او که تاسو ملاتړ او مرسته غواړئ، نو تاسو به یو استوګنځای ته استول کیږئ (4.1 وګورئ "د پناه غوښتونکي استوګنه"). ؛
- پرته لدې چې د قانون لخوا ذکر شوی، د پناه غوښتونکو لپاره د الاؤنس حق (وګورئ 4.2 "د پناه غوښتونکو لپاره الاؤنس").

په یوه سیمه کې د هرکلي او استوګنې د پیکیج د اشباع په صورت کې، ممکن ده چې OFII تاسو بلې سیمې ته راجع کړي، چیرته چې باید تاسو د خپل غوښتنلیک د ازمويینې په ترڅ کې اوسیدل پیل کړئ (4.1 وګورئ "د پناه غوښتونکي استوګنه").

## 2.3 ګیشي یونیک ته د ورتلو څخه وروسته ملاتړ.

ګیشي یونیک ته له تګ وروسته، تاسو ته به ستاسو په استوګنځای کې دننه د مرستې او ملاتړ وړاندیز کیږي، که چرې دا د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې مرکز وي (CADA) یا د یوې بیړنۍ استوګنې مستقل ځای وي (هوټل نه).

که چرې تاسو په یو داسې ځای کې استوګن شوی نه یئ، نو ستاسو ملاتړ به د لومړي استقبال او هرکلي دفتر (SPADA) لخوا باوري کیږي، چرته چې به تاسو له OFII لخوا استول کیږئ (2.1 برخه وګورئ).

پدې ټولنیز، قانوني او اداري ملاتړ کې په ځانګړي توګه عارضي ادرس شامل دی (په 2.2.1 برخه کې وګورئ "خپله استوګنه څنګه ثابتول")، او که چرې ستاسو د پناه غوښتنې معاینه د فرانسې مسؤلیت وي، نو د پناه غوښتنې د دوسیې یا د فایل په جوړلو کې مرسته کول هم شامل دي، کوم فایل چې به تاسو OFPRA ته ورکوئ.

یاملرنه : که چرې تاسو ته په SPADA کې استوګنه درکړای شوې ده، نو دا ستاسو مسؤلیت دی چې په منظم ډول خپل خطونه ترلاسه کړئ، د SPADA لخوا ټاکل شوي هدایات په پام کې نیولو سره.

# 3. د پناه غوښتنې د ازموينې شرايط

کله چې ستاسو د پناه غوښتنې معاينه د فرانسوي دولت مسؤليت وي، نو بيا به ستاسو د پناه غوښتنې ازموينه يا معاينه به د "پناه غوښتنې او بې وطنه خلکو د تحفظ لپاره د فرانسوي دفتر" لخوا کيږي، او دا کار به د پناه د حق د ملي محکمې د کنټرول لاندې ترسره کيږي.

## 3.1 د کډوالو او بې وطنو خلکو د تحفظ فرانسوي دفتر (OFPRA) لخوا ازموينه.

کله چې تاسو خپله پناه غوښتنه راجستر کوئ، نو پره فيکتور به تاسو ته د پناه غوښتنې فورمه درکوي کومه چې به تاسو خا مخا ډکوئ او بيا به يئ OFPRA ته ليږئ ترڅو وکولی شي چې ستاسو غوښتنه معاينه کړي او پريکړه پرې وکړي.

د OFPRA لخوا د منفي پريکړو پر ضد CNDA ته د اپيل کيدې شي (3.2 برخه وګورئ "د پناه د حق د ملي محکمې لخوا د پناه غوښتنې ازموينه يا معاينه").

> د خپل پناه غوښتنليک د ورکولو پر محال، تاسو هغه د تحفظ ډول مشخص کولو ته اړتيا نلرئ کوم چې تاسو ترلاسه کول غواړئ (د کډوال يا مهاجر، او يا د ضمني تحفظ حيثيت). دا يو ځانګړی پروسيجر يا کړنلاره ده چې ستاسو غوښتنليک پکې د OFPRA لخوا مطالعه کيږي، لومړی به د يو کډوال يا د مهاجر د حيثيت په نظر ورته کتل کيږي، او که چرې ستاسو حالت پدې پورې تړاو نلري، نو بيا به د ضمني تحفظ په نظر ورته کتل کيږي.

### ■ د OFPRA فورمه ډکول

**فورمه بايد چې په فرانسوي ژبه کې ډکه شي،** بيا لاسليک شي، او بيا د پناه غوښتنې د تصديق اعتباري سند، دوه شناختي عکسونه، او تاسو سره چې کوم د سفر کاغذونه يا اسناد وي، نو دغه ټول شيان بايد ورسره وولګي.

که چرې ستاسو د پناه غوښتنليک د ګړندی کړنلارې يا پروسيجر لاندې عملي کيږي، نو تاسو بايد د معلوماتو د خبرتيا هغه کاپي هم ورسره ولګوئ کومه چې تاسو ته د غوښتنليک ثبت کولو په وخت درکړای شوې وه.

د OFPRA لخوا ستاسو د غوښتنليک د راجستر کولو لپاره دغه دستاويزات او اسناد د فورمې سره لګول ضروري دي.

که چرې ستاسو کوچني ماشومان د شخصي خطر سره مخ وي، نو دا خبره بايد ستاسو د پناه غوښتنې په فورمه کې ذکر شي. که چرې دواړه والدين پناه غوښتونکي وي، نو د کوچني ماشومانو په اړه د دغه رقم يرې ذکر بايد د مور په فورمه کې ذکر شي.

> ستاسو د پناه غوښتنې په غوښتنليک کې ليکل شوي شامل معلومات محرم دي او دغه به پټ ساتل کيږي، او په هيڅ حالت کې به هم ستاسو د اصلي هيواد چارواکو ته نه ليږل کيږي.

### ■ OFPRA ته فايل ليږل.

يوځل چې ستاسو فايل بشپړ شي، نو ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنليک د تصديقي سند د ورکړې وروسته، **تاسو بايد دغه فايل لږ تر لږه په 21مه ورځ وليږئ** (د فايل بيا پرانيستو د غوښتنې په صورت کې په 8مه ورځ - وګورئ 3.3 د بند شوې پناه غوښتنې بيا پرانيستنه – او يا د بيا کتنې د غوښتنې - وګورئ 3.4، بياکتنه).

دا فايل بايد تاسو د پوستې له لارې په دې لاندې ادرس وليږئ :

OFPRA
201, rue Carnot
94 136 FONTENAY-SOUS-BOIS CEDEX

د مثال په توګه، که چرې تاسو ته ستاسو د پناه غوښتني تصديقي سند په 10مه جنورې درکړای شوې وي، نو تاسو بايد خپل فايل په 31مه جنوري OFPRA ته ولېږئ. د پوستي پوست آفس ستمپ منل کيږي.

تاسو ته د دې خبرې په کلکه سپارښتنه کيږي چې خپل فايل د "تاييد د رسيد سره راجستر شوي خط له لارې" ولېږئ، او بايد خپل ښځۀ لوستل کيدونکي نوم پرې د "ليږونکي" په خانه کې وليکئ.

که چرې ستاسو فايل بشپړ نه وي، نو OFPRA به دا فايل بيرته تاسو ته درلېږي او تاسو سره به اضافي 8 ورځې وخت وي ترڅو دا بشپړ کړئ او بيرته يې واستوئ (د بيا پرانيستني يا بيا پيل کولو، او يا، د بيا کتني په صورت کې، 4 ورځې وخت). که چرې تاسو پدې موده کې خپل فايل بيرته نه استوئ، نو OFPRA به ستاسو غوښتنليک بند کړي، او په سيمه کې به ستاسو د پاتې کيدو حق هم ختم شي، او ستاسو د پناه غوښتني د تصديقي سند تجديد به هم نه کيږي.

د دې کړنلارې په جريان کې، تاسو هر وخت اضافي عناصر د خط له لارې OFPRA ته استولي شئ. OFPRA ته د لېږلو شوو خپلو ټولو خطونو يوه کاپي او د دفتر رسيد له ځان سره ساتئ، او همدارنګه د لېږلو ثبوت او د ترلاسه کولو ثبوت يا رسيد هم له ځان سره ساتئ. OFPRA ته لېږل شوي په خپل هر خط کې د خپل فايل شميره ليکل مۀ هيروئ کوم چې ستاسو د پناه غوښتني په هغه تعارفي خط کې ليکل شوې دې کوم چې د دفتر لخوا تاسو ته لېږل شوې دي.

**ايا تاسو د پروسيجر يا کړنلارې په جريان کې خپل ادرس بدلولی شئ ؟**

که چرې تاسود خپلي هستوګني سره اړوند ادرس OFPRA ته ورکړئ وي، کوم چې ستاسو د عارضي ادرس سره توپير لري، او که تاسو خپل د اوسيدو ځای بدلوئ، نو لازمه ده چې زرترزره OFPRA خبر کړئ، په غوره توګه د تلفوني سروس له لارې کوم چې د OFPRA په ويب پاڼي (www.ofpra.gouv.fr) کې ليکل شوې دې، چې سرليک يې دې "آنلائن کړنلارې". دا په حقيقت کې هغه ادرس دې چې OFPRA به تاسو ته خپل ليکونه دراستوي، پشمول د مرکې لپاره بلنه يا هغه پريکړه چې ستاسو د پناه غوښتني په اړه شوې وي.

کله چې تاسو په يو داسې استوګنځي کې اوسيږئ چې ستاسو خپل وي، او يا، په کرايه نيولې وي، او يا داسې ځای چې ستاسو د ميرمني يا ميړۀ / بچي / يا کوم مشر لخوا نيول شوي وي نو په داسې صورت کې که چرې تاسو خپل ادرس بدلوئ، نو تاسو بايد OFII ته خبر ورکړئ.

## ■ د OFPRA لخوا ستاسو د غوښتنليک د معرفي کولو ثبوت.

کله چې ستاسو دوسيه يا فايل بشپړه شي او په وخت ورسيږي، نو بيا OFPRA تاسو ته يو ليک درلېږي چې د دغه ليک يا خط له لارې تاسو ته ستاسو د غوښتنليک د معرفي کيدو او ستاسو د فايل نمبر په اړه خبر درکوي.

دا سند يا خط د دې خبرې رسمي ثبوت دی چې ستاسو د پناه غوښتني غوښتنليک OFPRA ته وسپارلی شو.

دا هغه ليک يا سند دی چې تاسو ته د خپلې پناه غوښتني د لومړي تصديقي سند د بيا نوی کولو اجازه درکوي (وګورئ 2.2.1 "د پناه غوښتني د تصديق سند صادرول").

اکثره، د مرکې يا انټرويو بلنه د پناه غوښتني د معرفي کيدو د ليک يا خط سره يوځای لېږل کيږي. د مرکې لپاره دغه بلنه د معرفي کيدو د ليک يا خط په بل مخ ليکل شوې وي. که چرې د خط په دغه بل مخ بلنه نه وي نو بيا به د يو بل جلا خط له لارې دغه بلنه تاسو ته درلېږل کيږي.

## په نارمل یا عادي پروسیجر، او یا، په ګړندي پروسیجر کې د پناه غوښتنې ازموینه.

ستاسو د پناه غوښتنې عریضه، که په ګړندي پروسیجر کې وي او که په عادي یا نارمل پروسیجر کې، خو دا به د OFPRA لخوا معاینه کیږي.

لکه څنګه چې په 2.2.1 برخه کې (سرلیک "ستاسو د پناه غوښتنې ورتیا") کې ذکر شوي دي، په ګړندي پروسیجر کې ستاسو د غوښتنې د ازموینې موده د 15 ورځو پورې راالنده کړې شوې ده، مګر تاسو به هم هغه تضمینونو څخه ګټه پورته کوئ لکه څنګه چې په عادي یا نارمل پروسیجر کې وي. ستاسو غوښتنلیک د ګړندي پروسیجر لاندې د OFPRA لخوا هله معاینه کیږي کله چې په ګیشي یونیک کې ستاسو د پناه غوښتنلیک د راجستر کولو په وخت کې دغه د ګړندي پروسیجر لاندې ثبت شوی وي. ستاسو فایل ته په کتو سره، او یا، ستاسو ځانګړي وضعیت ته په کتو سره، دا امکان هم شته چې ستاسو غوښتنلیک د OFPRA لخوا بیا له سره په عادي یا نارمل پروسیجر کې واچول شي، پرته له دې چې په دې هیواد کې ستاسو موجودګي عامه امنیت ته یا سیکیوریټي ته او یا د دولت امن ته خطر نه پیښوي.

د لاندې ذکر شوو خبرو په صورت کې، د OFPRA لخوا د ګړندي پروسیجر پریکړه هم کیدای شي :

- که چېرې تاسو د OFPRA ګمراه کولو لپاره غلط اسناد ورکړي وي، غلط معلومات وړاندې کړي وي، یا معلومات مو پټ ساتلي وي، او یا کوم مهم اسناد مو پټ ساتلي وي ؛
- که چېرې تاسو په مختلفو نورو شناختونه سره د پناه لپاره غوښتنې کړې وي :
- که چېرې تاسو د خپلې پناه غوښتنې په ملاتړ کې داسې خبرې ذکر کړې وې کومې چې تحفظ ورکولو ته اړتیا نه لري ؛
- که چېرې ستاسو بیانونه بې ربطه یا ګډ وډ وي، متضاد وي، په څرګنده توګه غلط یا د باور وړ نه وي، او ستاسو د اصلي هیواد په اړه د هغو معلوماتو سره په ضد کې وي د کومو په اړه چې دا دفتر پوهیږي.

که چېرې تاسو په خپل ګړندي پروسیجر اعتراض کول غواړئ، نو تاسو یوازې CNDA ته د اپیل کولو له لارې دا کار کولی شئ.

## په OFPRA کې شخصي انټرویو یا مرکه.

یوځل چې ستاسو غوښتنلیک OFPRA ته وسپارل شي، نو بیا به تاسو ته د مرکې یا انټرویو لپاره بلنه درکړای کیږي.

په لاندې ذکر شوو دوو صورتونو کې تاسو د مرکې یا انټرویو څخه مستثنی ګڼل کیدای شئ :

- کله چې ستاسو په فایل کې ورکړای شوې معلومات د OFPRA لخوا د کډوال یا مهاجر حیثیت ورکولو لپاره کافي وي ؛
- کله چې دوام لرونکي او ستاسو د کنټرول نه بهر طبي لاملونه، ستاسو په حاضر کیدو کې او په انټرویو کې د برخې اخیستو په لار کې خنډ وي.

که چېرې تاسو ته د مرکې یا انټرویو لپاره بلنه درکړای شي، نو تاسو باید په Fontenay-sous-Bois کې د OFPRA مرکزي دفتر ته لاړشئ. هلته به د OFPRA یو افسر چې "د تحفظ افسر" ورته وئیل کیږي، له تاسو څخه انټرویو اخلي او سوال جواب به کوي، او د اړتیا په صورت کې د یو داسې ژباړونکي په موجودګۍ کې به دغه انټرویو ترسره کیږي کوم چې د OFPRA لخوا ستاسو لپاره ټاکل شوی وي. دغه ژباړن به په هغه ژبه خبرې کوي کومه چې تاسو په ګیشي یونیک کې د خپلې پناه غوښتنې د راجستر کولو په وخت غوره کړې وي، او یا، په داسې ژبه کې چې تاسو پرې کافي حده پورې پوهیږئ (په 2.2.1 برخه کې وګورئ "په OFPRA کې د انټرویو لپاره ژبه غوره کول"). خو بیا هم، تاسو په فرانسوي ژبه کې د انټرویو او سوال جواب کولو لپاره هر وخت غوښتنه کولی شئ. په انټرویو کې د کارول شوې ژبې پر ضد تاسو CNDA ته د اپیل په صورت کې کولی شئ.

**که چېرې تاسو دې مرکې یا انټرویو ته نه حاضرېږئ، نو ستاسو د غیر حاضرۍ له امله ستاسو د فایل پر بنسټ د OFPRA لخوا پریکړه کیدای شي، او یا، فایل هم بند کړې کیدای شي.** د کوم خنډ په صورت کې، دا لازمي ده چې لږترلږه 48 ساعته له وړاندې نه OFPRA ته خبر ورکړئ، او یا، د ناوخته کیدو په صورت کې، د یو لیک له لارې خبر ورکړای، په هغه ادرس کوم چې ستاسو په بلنه کې لیکل شوی دی.

که تاسو وغواړئ نو کولی شئ چي دې انټرویو ته تاسو د یو وکیل سره راشئ، او یا، د OFPRA لخوا منلي شوې ټولني/ایسوسي ایشن د یو نمائنده سره راشئ، کوم چي به د دې مرکي یا انټرویو په پای کي خپله مشاهده لیکي. خو، که چرې وکیل یا د دغه ټولني نمائنده انټرویو یا مرکي په وخت حاضر نه وي، نو دغه مرکه به نه ځنډول کیږي. که چرې تاسو د کومي معذورئ په حالت کي یئ، نو تاسو د مرکي یا انټرویو په جریان کي د یو داسي طبي مسلکي یا ډاکټر د ملګرتیا غوښتنه کولي شئ کوم چي په معمول کي ستاسو څارنه یا علاج کوي، او یا، د یو داسي ټولني یا ایسوسي ایشن د نمائنده غوښتنه کولي شئ کوم چي د معذورو خلکو امداد کوي.

که چرې تاسو ته د خپلي پناه غوښتني دلایل ښکاره کولو کي مشکلات وي، په ځانګړې توګه دجنسي تشدد سره تړلي خبرې، او که تاسو وغواړئ چي ستاسو مرکه دې د دفتر یو افسر سره وشي، او یا، ستاسو د خوښي یو جنسي ترجمان سره وشي، نو د دې لپاره تاسو د انټرویو د ورځ نه وړاندې د OFPRA څخه غوښتنه کولي شئ.

**مرکه یا انټرویو محرم وي یا پټ ساتل کیږي.** ستاسو څرګندوني به د هغه تحفظ د افسر لخوا لیکل کیږي چا سره چي ستاسو انټرویو شوې وي، او که تاسو غواړې نو د پریکړې څخه مخکي (په نارمل یا عادي پروسیجر کې) او یا د پریکړې په وخت (په ګړندي پروسیجر کي) دغه څرګندوني تاسو سره هم شریک کیدای شي.

د دې مرکي یا انټرویو غږ هم ریکارډ کیږي کوم ته چي تاسو لاسرسي نه لرئ، خو د OFPRA لخوا د منفي پریکړې په صورت کي او د دغه پریکړې پر ضد د اپیل په صورت کي لاسرسي کیدای شي.

**په Fontenay-sous-Bois کي د OFPRA د مرکزي دفتر پرته په بل کوم ځای کي ستاسو انټرویو اخیستل کیدای شي ؟**

دا ممکن ده چي ستاسو انټرویو په جغرافیایی توګه ستاسو د لرې والي له امله په Fontenay-sous-Bois کي ونشي (په ځانګړې توګه کله چي تاسو د سمندر پورې غاړه یاست)، او یا، ستاسو د ځانګړي وضعیت له امله (کله چي تاسو د روغتیا یا د کورنۍ ستونزو له امله نشئ کولی چي سفر وکړئ، او یا، کله چي تاسو په یو داسي ځای کي بندي یاست چي له آزادئ محروم وي). په داسي صورت کي، ستاسو انټرویو به له لرې نه د آډیو او ویډیو اړیکو له لارې ترسره کول کیږي.

په داسي صورت کي، وکیل یا د ټولني یا ایسوسي ایشن یو استازی به له تاسو سره په څنګ کي موجود وي کوم چي به له تاسو سره مرسته کوي. ترجمان به د تحفظ د افسر سره په څنګ کي ناست وي.

کله چي تاسو د سمندر نه پورې غاړه سیمه کي یاست، او یا، په یو لوی ښار کي یاست، نو دا ممکن ده چي ستاسو انټرویو په مستقیم ډول د OFPRA د افسر لخوا ترسره شي، کله چي تاسو په Guyane ډپارټمنت کي اوسئ نو په Cayenne کي د OFPRA په دفتر کي ترسره کیدای شي، او یا، په نورو اړوندو سیمو کي هم، دا کار د OFPRA د پلټني د بهرني مشن لخوا ترسره کیږي.

- **طبي معاینه.**

OFPRA له تاسو څخه د طبي معایني کولوغوښتنه کولي شي. دې طبي معایني څخه انکار کول به ستاسو د غوښتنلیک د نیمګړتیا لامل نه جوړیږي او OFPRA به د خپلي پریکړې ورکولو څخه هم نه منع کوي. که چرې تاسو کوچنی یاست او د جنسي تیري د خطر له امله ستاسو په نوم د پناه غوښتنه ثبت شوې وي، نو د دې طبي معایني فیس به د OFPRA لخوا ورکړې کیږي. ډاکټر به طبي سند OFPRA ته په مستقیم ډول استوي، او دغه طبي سند یوه کاپي به ستاسو مور او پلار یا قانوني استازي ته وسپاري.

- **د OFPRA پریکړه.**

✓ **د پریکړې لپاره وخت**

د OFPRA د پریکړې ترلاسه کولو وخت توپیر لري : په ګړندي پروسیجر کي په اوسط ډول 15 ورځې او په نارمل یا عادي پروسیجر کي تر څو میاشتو پورې. د OFPRA لخوا د اوږدې چوپتیا یا خاموشی مطلب دا نه دی چي ستاسوغوښتنه رد شوې ده. که چرې OFPRA په 6 میاشتو کي پریکړه نشي کولي، نو دوي به تاسو ته د پوست له لارې خبر درکوي. نو په داسي صورت کي، تاسو باید په منظم ډول د خپلو خطونو تیوس کوئ.

✓ **ښهٔ او مثبته پریکړه** (برخه 1 وګورئ "د تحفظ مختلف ډولونه")

که چرې ستاسو د غوښتنې په اړه یوه ښځه او مثبته پریکړه شوی وي، نو تاسو ته به :

- **د یو کډوال یا مهاجر حیثیت درکړل کیږئ**، او OFPRA به تاسو ته د مهاجرت یا کډوالی د حیثیت د ورکړې پریکړه درلیږي؛
- **او یا به درته ضمني تحفظ درکوي**، او OFPRA به تاسو ته د ضمني تحفظ د ورکړې پریکړه درلیږي، او همدا رنګه یو خط به هم درلیږي کوم چې به تاسو چارواکو ته د خپل تحفظ د توجیه کولو په غرض وړاندې کولې شئ.

✓ **منفي پریکړه**

OFPRA ستاسو د پناه غوښتنې په اړه درې ډوله منفي پریکړې کولی شي :

- **د رد کولو پریکړه ؛**

تاسو د دې پریکړې پر ضد د CNDA په وړاندې اعتراض کولې شئ. په سیمه کې د پاتې کیدو د حق په اړه شرایط په دې وړاندې ذکر شوي برخه 3.1 کې بیان شوي دي : د "OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته د پاتې کیدو د حق خاتمه".

- **د نه منلو پریکړه** په لاندې صورتونو کې کیدی شي :
- کله چې تاسو له وړاندې نه د اروپایی اتحادیې په یو غړی دولت کې د خپلې پناه په لړ کې د تحفظ څخه ګټور کیږئ ؛
- کله چې تاسو په یو دریمګړي هیواد کې د کډوال وضعیت او د مؤثره تحفظ څخه ګټور کیږئ، او یا، هلته تاسو د بیرته داخلیدو وړ یاست.

تاسو د دې پریکړې پر ضد د CNDA په وړاندې اعتراض کولې شئ. د پناه په لړ کې، تاسو په سیمه کې د پاتې کیدو د حق څخه نور نه نشئ ګټور کیدې، تر دې پورې چې د CNDA په وړاندې د اپیل کولو په صورت کې هم (په 3.1 برخه کې وګورئ "د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته د پاتې کیدو د حق خاتمه".

- **د بندیدو پریکړه** په لاندې صورتونو کې کیدای شي :
- کله چې تاسو د مرکې یا د انټرویو پرمهال، او یا، د یو لیک له لارې د خپلې پناه د غوښتنلیک د بیرته اخیستولو په هکله OFPRA ته خبر ورکړې وي ؛
- کله چې تاسو خپل غوښتنلیک په 21 ورځو کې دننه نه وي سپارلی، او یا، تاسو مرکې یا انټرویو ته حاضر شوی نه یئ ؛
- کله چې تاسو په قصدي ډول د خپل غوښتنلیک د ازموینې په لړ کې د اړین معلوماتو ورکولو څخه ډډه کوئ ؛
- کله چې تاسو په یو مناسب وخت کې دننه خپل ادرس دفتر ته نه وي ورکړي، او له دې امله له تاسو سره اړیکه نشي نیول کیدی ؛
- کله چې ستاسو غوښتنلیک په ګیشي یونیک کې راجستر شوی وي، خو بغیر د کوم مشروع دلیل تاسو خپل فایل یا دوسیه OFPRA ته نه وي استولي.

تاسو د اداري محکمې په وړاندې د دې پریکړې پر ضد اعتراض کولی شئ، خو د CNDA په وړاندې نشئ. د پناه په لړ کې، تاسو په سیمه کې د پاتې کیدو د حق څخه نور نه نشئ ګټور کیدې (په 3.1 برخه کې وګورئ "د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته د پاتې کیدو د حق خاتمه". د بندیدو د پریکړې خبرتیا څخه په 9 میاشتو کې دننه، تاسو د یوځل لپاره د خپل فایل د بیا خلاصولو غوښتنه کولې شئ (برخه 3.3 وګورئ).

✓ **د OFPRA د پریکړې د لیږلو طریقه**

**OFPRA** به تاسو ته په فرانسوي ژبه کې لیکل شوي پریکړه او یو سند درلیږي، چې په هغه ژبه کې به ژباړل شوی وي چې تاسو پرې پوهیږئ، او په دغه لیک کې به ستاسو د غوښتنلیک د رد کیدو د پریکړې معنی په ګوته شوي وي.

**ایا د غیرمادي یا الیکترانیک وسیلې له لارې OFPRA تاسو د ستاسو د پناه غوښتنې د معرفي کولو تصدیقي سند، د شخصي مرکې بلنه او خپله پریکړه درلیږلی ؟**

OFPRA یو سیستم رامینځته کړی چې هدف یې د غیر مادي یا الیترانیک وسیلو له لارې په شخصي اکاؤنټ د پناه غوښتنې د معرفي کیدو تصدیق سند، د شخصي مرکې بلنه او د غوښتنې په اړه خپله پریکړه لیږي. دا خوندي پروسه به په بشپړ ډول د پناه غوښتنې محرمیت باوري کوي.

کله چې دا سیستم تاسو ته پلي کیږي، نو ستاسو د پناه غوښتنې د راجسټر کولو په وخت، او یا، ستاسو د پناه غوښتنې د معاینې مسؤل هیواد فرانسې ته لیږدولو په وخت کې، تاسو ته به د دې په اړه خبر درکړل کیږي، که چیرې په 2.2.1 پوائنټ کې تشریح شوې ستاسو د "ډوبلین" پروسیجر کامیاب شوی نه وي. بیا به تاسو ته د سیستم پلي کولو د پروسیجر په اړه د معلوماتو خبرتیا درکړل کیږي.

## ▪ د OFPRA د پریکړې پر ضد اپیل.

تاسو د OFPRA د پریکړې د خبرتیا له نیټې څخه په یوه میاشت کې دننه، د دغه پریکړې پر ضد د CNDA په وړاندې اعتراض کولی شئ (3.2 برخه "د CNDA لخوا ازموینه" وګورئ). که چرې تاسو CNDA ته اپیل نه وي کړي، او یا، که تاسو د یوې میاشت ټاکلې مودې څخه وروسته اپیل درج کړی وي، نو په داسې صورت کې په سیمه کې ستاسو د پاتې کیدو حق پای ته رسي، له تاسو څخه به ستاسو د پناه غوښتنې تصدیقي سند بیرته اخیستل کیږي، او یا، دغه تصدیقي سند به بیا نه نوی کیږي، او بیا به تاسو له فرانسه څخه وځئ.

که چرې تاسو غواړئ چې د CNDA په وړاندې د خپل اپیل د تشکیلولو په لړ کې له قانوني مرستې څخه ګټه واخلئ، نو تاسو باید دغه غوښتنه د OFPRA د پریکړې له خبرتیا وروسته په 15 ورځو کې دننه وکړئ. بیا د اپیل کولو لپاره دغه د یوې میاشتې موده به منقتع کیږي، او بیا به له هغه نیټې څخه یو ځل بیا پیل کیږي په کومه نیټه چې ستاسو د قانوني کمک د غوښتنې په لړ کې د پریکړې خبرتیا تاسو ته وشي (په 3.2 برخه کې وګورئ "د وکیل کمک").

ستاسو لخوا، او یا، د OFPRA لخوا د CNDA د پریکړې پر ضد لوی دولتي کونسل یا شورا ته هم اپیل کیدای شي.

## ▪ د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته د پاتې کیدو د حق خاتمه.

په اصل کې، تاسو د خپلې پناه غوښتنې د پلټنې د مودې په ترځ کې، د قانون اپیل پشمول د پاتې کیدو د حق څخه ګټور کیږئ.

خو له دې سره سره، ستاسو د ساتنې یا د پاتې کیدو حق هغه وخت پای ته رسي کله چې ستاسو په اړه د OFPRA لخوا په لاندې ذکر شوو پریکړو کې یوه پریکړه شوې وي :

1. د نه منلو یوه پریکړه، ځکه چې تاسو له وړاندې نه په یو بل هیواد کې د تحفظ څخه ګټور کیږئ، او، که چرې دغه هیواد د اروپایي اتحادیې غړی هیواد نه وي، تاسو بیرته دغه هیواد کې داخل کیدی شئ (3.3 برخه وګورئ) ؛
2. د بندیدو پریکړه (3.3 برخه وګورئ.) ؛
3. په ګړندي پروسیجر کې اچولې شوې د پناه د غوښتنلیک په اړه د رد کیدو پریکړه، په دې اساس چې تاسو د یو خوندي هیواد وګړی یاست ؛
4. په ګړندي پروسیجر کې اچولې شوې د پناه د غوښتنلیک په اړه د رد کیدو پریکړه، په دې اساس چې په ملي خاورې ستاسو شتون د عامه نظم لپاره جدي ګواښ دی ؛
5. د بیاکتنې د غوښتنې په اړه د رد کولو پریکړه ؛
6. د بیاکتنې د لومړۍ غوښتنې په اړه د نه منلو پریکړه ؛

7. د نه منلو، او یا، د رد کولو پریکړه، په داسې حال کې چې تاسو له اداري یا قضایي ساحې څخه ایستل شوي یا منع شوي یاست او تاسو په کور کې نظربند یا په توقیف کې ساتل شوي یاست (په 2.2.1 کې " ایا تاسو د اداري یا د محکمې لخوا د سیمې څخه د شړلو یا په سیمه کې د بندیز سره مخ یئ ؟ ").

په داسې صورتونو کې، د پناه غوښتنې تصدیقي سند به بیرته واخیستل شي، او یا، به نه نوي کیږي نشي، او بیا به د فرانسوي خاورې پریښودلو مسؤلیت ستاسو په غاړه وي (برخه 5 وګورئ).

## 3.2 د پناه د حق د ملي محکمې (CNDA) لخوا ازمونیه.

### ▪ د اپیل کولو لپاره وخت.

تاسو د OFPRA لخوا د رد کولو د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته، د CNDA په وړاندې اپیل کولو لپاره یوه میاشت وخت لرئ. تاسو دا لاندې ذکر شوي ګامونه پورته کولی شئ :

- د OFPRA لخوا د نه منلو، او یا، د رد کیدو د پریکړې په صورت کې، له محکمې څخه د دفتر د پریکړې لغوه کولو او د تحفظ ورکولو غوښتنه کول ؛
- د ضمني تحفظ څخه د ګټور کیدو د یوې پریکړې په صورت کې، د مهاجر یا د کډوال په حیث د پیژندلو غوښتنه کول. په داسې صورت کې، تاسو د ضمني تحفظ ګټه له ځان سره ساتل شئ، او اړوند حقونه هم (برخه 6 وګورئ "د تحفظ څخه ګټه اخیستونکو حقونه")، تر هغه وخت پورې چې CNDA تاسو د یو کډوال په حیث نه یئ پیژندلي. سربیره پردې، که چرې CNDA تاسو د یو مهاجر یا کډوال په حیث ونه مني، نو د OFPRA لخوا د ورکړای شوي ضمني تحفظ څخه بیرته نشي منکر کیدای.

دا اپیل باید د یوې میاشتې مودې پای ته رسیدو څخه وړاندې CNDA ته ورسیږي (د مثال په توګه، که تاسو د جنوري په 20مه نیټه د رد کیدو پریکړه ترلاسه کوئ، نوستاسو اپیل باید د 21مې فروری دنیمې شپې څخه وړاندې CNDA ته ورسي). د یو راجستر شوي خط له لارې او د یو تصدیقي رسید سره، د ساده خط، او یا، د فیکس له لارې دغه اپیل دې باید CNDA ته واستول شي. ستاسو غوښتنلیک باید د احتیاط په توګه د یوې میاشتې د پای ته رسیدو څخه وړاندې ولیږل شي، او یا، که چرې تاسو دغه اپیل د فیکس له لارې استوئ، نو بیا باید چې د نیټې د ختمیدو په ورځ د نیمې شپې څخه وړاندې ولیږل شي. که چرې ستاسو د دغه اپیل استیناف محکمې ته د یوې میاشت د نیټې د ختمیدو څخه وروسته ترلاسه شي، نو ستاسو اپیل به د نه منلو وړ وي، یعنې اپیل به د اوریدلو یا معاینه کولو پرته رد شي.

### ▪ د یو وکیل مرسته.

دا امکان شته چې تاسو د خپل اپیل په جوړولو کې او په CNDA کې د غونډې په ترڅ کې د یو وکیل کمک ترلاسه کړئ. د دې لپاره، تاسو کولی شئ د قانوني مرستې لپاره غوښتنه وکړئ. د وکیل فیس په بشپړ ډول د دولت لخوا تادیه کیږي او وکیل حق نلري چې تاسو څخه فیسونه اخلي.

د قانوني مرستې د غوښتنې لپاره، تاسو باید د OFPRA لخوا د رد کولو د پریکړې د خبرتیا څخه په 15 ورځو کې د CNDA حقوقي یا قانوني مرستې دفتر سره اړیکه ونیسئ.

<u>د CNDA د حقوقي یا قانوني مرستې د دفتر (BAJ) ادرس:</u>

Cour nationale du droit d'asile
35, rue Cuvier
93 558 MONTREUIL-SOUS-BOIS

تاسو کولی شئ د هغه وکیل نوم په ګوته کړئ کوم چې ستاسو قانوني مرسته کولو ته تیار وي، او یا، غوښتنه وکړئ چې CNDA ستاسو لپاره یو وکیل وټاکي. که تاسو د قانوني مرستې څخه ګټه پورته کوئ، تاسو باید ټاکل شوی وکیل ته پیسې ورنکړئ، حتی که هغه تاسو څخه د فیس غوښتنه هم وکړي.

که چرې ستاسو اپیل په څرګنده توګه نه ښکاري چې د نه منلو وړ دی، نو ستاسو د قانوني مرستې غوښتنه به نه رد کړې کیږي.

ستاسو د قانوني مرستې د غوښتنې د ازموینې په جریان کې، د CNDA په وړاندې ستاسو د اپیل د ثبتولو وروستی نیټه به یوازې هغه وخت وځنډول شي کله چې تاسو خپله غوښتنه په 15 ورځو کې دننه کړې. ستاسو د غوښتنې په اړه د قانوني مرستې دفتر لخوا د پریکړې له خبرتیا څخه وروسته، دغه نیټه به بیا پیل کیږي. تاسو د CNDA په وړاندې د خپل اپیل راجستر کولو لپاره یوه نوی نیټه یا موده لرئ، کوم چې د یوې میاشت برابر ده، خو له دغه موده څخه به هغه ورځې کمول کیږي کومې چې د OFPRA د پریکړې د خبرتیا او د قانوني مرستې لپاره ستاسو د غوښتنې د نیټې ترمینځ تیرې شوې وي.

د مثال په توګه، که چرې OFPRA د رد کیدو د پریکړې خبرتیا تاسو ته د جنوری په 15مه درکوي، نو تاسو سره د قانوني مرستې د غوښتنې لپاره 15 ورځې وخت دی. او که چرې تاسو د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه 5 ورځې وروسته د جنوری په 20مه د قانوني مرستې لپاره غوښتنه وړاندې کوئ، نو بیا به تاسو سره د قانوني مرستې د دفتر د پریکړې څخه وروسته 26 ورځې وخت وي چې خپل اپیل وړاندې کړئ.

- **اپیل.**

د لاندې ذکر شوو شرایطو باید درناوی وشي :

- د هر څهٔ وړاندې، تاسو باید د OFPRA لخوا د رد کیدو د پریکړې د لیک په بل مخ لیکلې شوی ټولې خبرې ښهٔ وولولئ ؛
- اپیل دې باید په فرانسوي ژبه کې په ساده کاغذ ولیکل شي (هیڅ مشخص فورمه نلري). خپل نومونه، فامیلي نومونه، د زیږیدو نیټه او ځای، تابعیت او ادرس باید په دغه اپیل کې ولیکل شي ؛
- تاسو باید خپل اپیل لاسلیک کړئ ؛ که تاسو کوچنی یاست، نو ستاسو قانوني وکیل باید دغه اپیل لاسلیک کړي؛
- تاسو باید د خپل اپیل سره د د OFPRA پریکړې یوه کاپي ضمیمه کړئ ؛
- که چرې ستاسو د پناه غوښتنلیک په ګړندي پروسیجر یا کرنالره کې اچول شوی وي، نو تاسو باید د هغه معلوماتي نوټس کاپي د اپیل سره ضمیمه کړئ کوم چې تاسو ته د پناه د غوښتنې د راجستر کولو په وخت درکړای شوې دی (په 2.2.1 برخه کې وګورئ "ستاسو د پناه غوښتنې وړتیا") ؛
- تاسو باید خپل اپیل توجیه کړئ، یعنې تاسو ولې د OFPRA د ردولو د دلایلو سره موافق نه یاست، او یا، له هغه دلایلو سره چې د کوم په اساس OFPRA تاسو ته ضمني تحفظ درکړې دی، او تاسو ته یې د کډوال یا مهاجر حیثیت نه دی درکړې ؛
- تاسو باید د خپل شناخت او تابعیت تصدیقي اسناد د اپیل سره ضمیمه کړئ ؛
- تاسو باید د خپلې کیسې د بشپړولو لپاره نور سندونه هم ضمیمه کړئ ؛
- که تاسو په هغه ژبه اعتراض کول غواړئ په کومه ژبه کې چې په OFPRA کې ستاسو مرکه یا انټرویو شوې وه، نو تاسو باید دغه خبره په خپل اپیل کې په ګوته کړئ او تاسو باید هغه ژبه هم په ګوته کړئ چې تاسو پکې انټرویو غواړئ. که محکمه ستاسو د اعتراض درناوی کوي، خو په غوښتلې شوې ژبه کې ترجمان نشي ټاکلې، نو بیا به ستاسو انټرویو یا مرکه په داسې ژبه کې ترسره کیږي چې تاسو پرې پوهیږئ ؛
- تاسو باید د خپل اپیل لیږلو او ورکولو ثبوتونه او یوه کاپي هم له ځان سره وساتئ ؛
- د ادرس د بدلون په اړه تاسو باید CNDA خبر کړئ ؛
- تاسو د خپل اپیل ثبتولو وروسته د خپل فایل د کمیونیکیشن غوښتنه کولی شئ.

ستاسو د تابعیت د تصدیق کوونکو سندونو په اړه، دا به غوره خبره وي چې تاسو د فایل سره یوه کاپي ضمیمه کړئ او د خپل پاسپورت یا ملي شناختی کارډ اصلي له ځان سره وساتئ. د دې سندونو له لارې، تاسو به هغه لیکونه یا خطونه ترلاسه کوئ کوم چې به د CNDA لخوا د یو راجستر شوي لیک له لارې لیږل کیږي. که چرې په محکمه کې د اوریدنې په ورځ له تاسو څخه دغه اسناد وغوښتل شي، نو تاسو به دغه اصلي اسناد هغوي ته وړاندې کوئ.

د هغو اسنادو په اړه کوم چې ستاسو د کيسې تصديق کوي، غوره خبره دا ده چې تاسو د خپل فايل سره اصلي ضميمه کړئ او يوه کاپي يې له ځان سره وساتئ. دا اسناد به ستاسو په غوښتنه تاسو ته د اوريدنې په ورځ بيرته درکړای کيږي، او يا به تاسو ته د پوستي له لارې درليږل کيږي. هغه اسناد چې ستاسو د کيسې تصديق کوي بايد چې فرانسوي ژبې ته وژباړل شي. که چرې دغه اسناد ژباړه شوې نه وي، نو CNDA دغه اسناد نشي کارولی. دا لازمي نده چې ژباړه دې د يو سوګند شوي ژباړونکي لخوا ترسره شي، پرته د مدني حالت او قضايي يا د پوليسو سندونو.

که چرې تاسو يوې عامه اوريدنې ته وغوښتل شی، نو تاسو د يوې ټاکل شوې نيټې پورې ليکلي شوي نور اضافي او بشپړونکي معلومات راوړلی شئ کوم چې به ستاسو په جلبي خط کې ذکر شوی وي.

- **د اپيل رسيد.**

ستاسو د اپيل د راجستر کيدو وروسته، CNDA به تاسو ته د "د اپيل رسيد" ترسرليک لاندې يو سند درليږي. دا سند به په هغه ادرس درليږل کيږي کوم چې تاسو ورکړی وي. دا سند دا تصديق کوي چې ستاسو اپيل ثبت شوی دی.

د استثناء پرته (لاندې برخه "د اپيل ټالوونکي ماهيت" وګورئ)، دا سند تاسو ته اجازه درکوي چې تاسو د خپلې پناه غوښتنې د تصديقي سند د بيا نوي کولو غوښتنه وکړئ، ځکه چې تاسو د خپل غوښتنليک په اړه د CNDA تر پريکړې پورې په فرانسه کې د اوسيدلو حق لرئ.

- **د اپيل ټالوونکي يا معطلونکي ماهيت.**

**په عمومي توګه، تاسو د OFPRA د رد کولو د پريکړې پر ضد د CNDA په وړاندې د اپيل کولو حق لرئ، او دا اپيل په اتوماتيک ډول معطل کيدې يا ټالول کيدې هم شي.** دا پدې معنی چې تاسو د اپيل د وخت د ختميدو پورې په فرانسه کې د د پاتې کيدو د حق څخه ګټه پورته کولی شئ، او د اپيل په صورت کې تر هغه وخت پورې، ترڅو چې محکمې خپله پريکړه نه وي کړې.

**د دې برعکس، که چرې تاسو د خپلې پناه غوښتنې د رد کيدو وړاندې په فرانسه کې د پاتې کيدو حق له لاسه ورکړئ** (په 3.1 برخه کې وګورئ "د OFPRA د پريکړې د خبرتيا څخه وروسته د پاتې کيدو د حق پای يا خاتمه")، نو تاسود OFPRA لخوا د رد کيدو يا نه منلو د پريکړې پر ضد **د CNDA په وړاندې د اپيل کولو حق لرئ**، خو دا اپيل نور په اتوماتيک ډول د معطل کيدو يا ټالولو وړ نه دی :

- ✓ **فرض کړئ که چرې اپيل ټالوونکي يا معطل کيدونکي ندی** او ستاسو پر ضد د شړلو ګامونه پورته شوی او عملي شوې وي، په داسې حال کې چې کله تاسو د لاندې ذکر شووپريکړو کې د يوې پريکړې سره مخ ياست :

1. دOFPRA لخوا د نه منلو پريکړه، ځکه چې تاسو له وړاندې نه په يو بل دولت يا هيواد کې کې تحفظ څخه ګټور کيږئ، او، که دغه هيواد د اروپايي اتحاديې غړی نه وي، تاسو هلته بيرته ستنيدلی شئ (برخه 3.3 وګورئ) ؛
2. د OFPRA لخوا د بنديدو پريکړه (3.3 برخه وګورئ) ؛
3. د شړلو د ګامونو د اجرا د ناکامولو په غرض، د بياکتنې لپاره د لومړی غوښتنې په اړه د OFPRA لخوا ورکړې شوې پريکړه.

- ✓ **او يا فرض کړئ چې اپيل په اوتومات ډول معطل کيدونکي يا ټالوونکي ندی او تاسو کولی شئ چې له اداري محکمه وغواړئ چې د CNDA په وړاندې ستاسو د اپيل پرمهال ستاسو پر ضد د شړلو اجرا ګام وځنډوي**، په داسې حال کې چې کله تاسو د لاندې ذکر شووپريکړو کې د يوې پريکړې سره مخ ياست :

1. په ګړندي پروسيجر کې اچولي شوي د پناه د غوښتنليک په اړه د OFPRA لخواد د رد کيدو پريکړه، په دې اساس چې تاسو د يو خوندي هيواد وګړی ياست ؛

2. په ګړندي پروسیجر کې اچولی شوې د پناه د غوښتنلیک په اړه د رد کیدو پریکړه، په دې اساس چې په ملي خاورې ستاسو شتون د عامه نظم لپاره جدي ګواښ دی ؛
3. د بیاکتنې د غوښتنې په اړه د رد کولو پریکړه، چې د منلو وړ ګڼلې شوې وي ؛
4. د بیاکتنې یا بیا ازموینې د هغې غوښتنې په اړه د OFPRA لخوا د نه منلو پریکړه کومه غوښتنه چې د شړلو د ګامونو د ناکامولو په غرض نه وي وړاندې شوې ؛
5. د نه منلو یا رد کولو پریکړه، په داسې حال کې چې تاسو له اداري یا قضایي ساحې څخه ایستل شوي یا منع شوي یاست او تاسو په کور نظربند یا په توقیف کې ساتل شوي یاست (په 2.2.1 کې " ایا تاسو د اداري یا د محکمې لخوا د سیمې څخه د شړلو یا په سیمه کې د بندیز سره مخ یئ ؟ ").

تاسو کولی شئ چې د دې معطلولو یا ټالولو غوښتنه وکړئ، که دغه غوښتنه د شړلو د ګامونو پر ضد ستاسو د اپیل په شکل کې وي، او یا، که ستاسو د نظر بندۍ یا توقیف څخه په 48 ساعتونو کې دننه ستاسو د نظر بندۍ یا توقیف پر ضد د غوښتنلیک په شکل وي، خو په هغه صورت کې چې کله ستاسو د پناه غوښتنې د راجستر کولو څخه وړاندې د شړلو د اقدام یا ګامونو خبرتیا تاسو ته شوې وي او دا چې د دغه شړلو د اقدام یا ګام پر ضد اپیل کول امکان نه لري.

## ■ په CNDA کې محکمې غونډه.

ستاسو د اپیل د پلټنې په غرض، CNDA به تاسو محاکمې ته یا محکمې غونډې ته رابلي. د غونډې څخه لږ تر لږه یوه میاشت وړاندې، دا بلنه به تاسو ته د یو لیک په واسطه درلیږل کیږي، خو که چرې ستاسو د اپیل پلټنه یا معاینه د ګړندي پروسیجر لاندې کیږي نو بیا په داسې صورت کې به تاسو د غونډې نه 15 ورځې وړاندې رابلل کیږئ.

خو که چرې ستاسو په اپیل کې داسې کوم جدي خبره یا عنصر نه وي چې د OFPRA پریکړې باندې د اعتراض کولو وړ وي، نو بیا ستاسو د فایل مطالعه کولو وروسته، CNDA کولی شي چې ستاسو اپیل د یو امر له لارې رد کړي، پرته له دې چې تاسو محاکمې ته یا محکمې غونډې ته راوبلي.

که اړین وي، نو محکمې غونډه به :

- یا په CNDA کې کیږي، چې ادرس یې دا دی : Montreuil او یا Palais de justice (Ile de la Cité) ؛
- او یا به د عدلیې وزارت په دفترونو کې د آډیو- ویډیو له لارې. د آډیو- ویډیو د محرمیت او کیفیت تضمین دی.

### ✓ د قاضیانو تشکیل یا جوړښت :

د CNDA د قاضیانو پینل یا ټیم، کوم چې به ستاسو اپیل یا استیناف معاینه کوي، د مجسټریټ په مشرۍ کې کار کوي. پدې کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر (UNHCR) لخوا ټاکل شوی یو وړ شخصیت هم شامل دی. د یو راپورکوونکي د اوریدو وروسته، د قاضیانو پینل به ستاسود اپیل یا استیناف په اړه پریکړه کوي، څوک چې د پریکړې د طرفدارۍ کولو پرته ستاسو د پناه غوښتنې تجزیه کوي. دغه راپور کوونکي دغه تجزیه ستاسو او ستاسو د وکیل د بیانونو په بنسټ کوي، که تاسو یو وکیل لرئ نو هله.

کله چې دفتر په ګړندي پروسیجر کې پریکړه کړې وي، او یا، کله چې دفتر په دې نتیجه رسیدلی وي چې ستاسو غوښتنه د منلو وړ نه ده، نو په داسې صورت کې بیا دا د CNDA یو قاضي دی چې ستاسو د استیناف یا اپیل په اړه په پنځه هفتو کې پریکړه کوي.

په خپل نوبت، او یا، ستاسو په غوښتنه، محکمه لاهم د یو ډله ییز پینل جوړولو پریکړه کولی شي، که چرې محکمه دا ګڼي چې غوښتنلیک د ګړندي پروسیجر لاندې نه راځي، د نه منلو وړ دی،او یا، جدي ستونزه وړاندې کوي.

### ✓ ژباړنه :

CNDA به په هغه ژبه کې د یو ترجمان یا ژباړونکي حاضري باوري کوي کومه ژبه چې تاسو د پناه غوښتنې د ثبت کولو پر مهال په ګوته کړې وه (په "OFPRA کې د مرکې یا انټرویو د ژبې انتخاب" برخه وګورئ)، او یا، په دې کې د پاتې راتلو په صورت کې او یا د ناممکن کېدو په صورت کې، په هغه ژبه کې به د یو ژباړونکي حاضري باوري کوي په کومه ژبه کې چې تاسو کافي پوهه لرئ. که چېرې تاسو غواړئ چې په OFPRA کې د ژباړونکي یا ترجمان د نشتون څخه ګټه پورته کړئ، نو تاسو باید د دې خبرې غوښتنه د CNDA په وړاندې د خپل اپیل په وخت وکړئ. په داسې صورت کې چې که چېرې ستاسو محکمې غونډه د آډیو-ویډیو له لارې ترسره کېږي، نو یو ترجمان یا ژباړونکي به په هغه هال کې ستاسو تر څنګ ولاړ وي په کوم هال کې چې ستاسو انټرویو کېږي. که چېرې یو داسې ژباړونکي یا ترجمان موندل مشکل وي چې تاسو سره حاضر ولاړ وي، نو بیا به محکمې غونډه هغه وخت ترسره کېږي کله چې محکمې دا خبره تایید کړه چې داسې ترجمان یا ژباړونکي په دغه هال کې شتون لري.

✓ **په محکمې غونډه کې ستاسو حاضري :**

تاسو ته په کلکه سره په محکمې غونډه کې د حاضرېدو مشوره درکړای کېږي. د کوم خنډ یا ناوخته کولو په صورت کې، باید CNDA ته خبر ورکړای شي. که چېرې تاسو محکمې غونډې ته نشئ حاضرېدې، نو تاسو کولی شئ د غونډې د ځنډولو او مهلت اخیستلو لیکلې شوې غوښتنه وکړئ او پکې هغه دلایل بیان کړئ چې د کومو له امله تاسو نشئ کولی چې غونډې ته حاضر شئ. ځنډول یو حق نه دی، د CNDA د قاضیانو د پینل مشر یا رئیس به د غونډې د ځنډولو پرېکړه کوي.

✓ **د محکمې غونډې عامه ماهیت :**

محکمې غونډه عامه یا پبلک وي. خو بیا هم، تاسو کولی شئ چې د قاضیانو د پینل د مشر یا رئیس څخه د پټې غونډې کولو غوښتنه وکړئ، د دې مطلب دا دی چې ستاسو قضیه به د خلکو وړاندې نه معاینه کېږي. په داسې صورت کې، پټه غونډه به په اتوماتیک ډول ورکړلې کېږي. د قاضیانو د پینل مشر هم دغه پرېکړه کولی شي.

## ■ د CNDA پرېکړه.

یوځل چې پرېکړه وشوه، CNDA به تاسو ته خپله پرېکړه د یو پوستي لیک په واسطه "د راجستر شوي لیک د یو تاییدي رسید سره" درلیږلې.
پرېکړه به په فرانسوي ژبه کې ده ، او ورسره به یو سند هم وي کوم چې به تاسو د پرېکړې په معنی پوهه کوي، او دغه سند به په هغه ژبه کې به وي په کومه ژبه چې تاسو پوهیږئ.

په خپله پرېکړه کې، CNDA کولی شي :

- چې د OFPRA پرېکړه رد کړي او تاسو ته د مهاجرت یا د کډوال حیثیت درکړي، او یا، ضمني تحفظ درکړي. بیا به تاسو له هم هغو حقونو څخه ګټه پورته کوئ لکه څنګه چې تاسو ته د OFPRA لخوا په دغه دواړو تحفظو کې یو تاسو ته درکړای شوې وي ؛
- چې د OFPRA هغه پرېکړه رد کړي په کومه کې چې تاسو ته ضمني تحفظ درکړای شوې وي، او بیا تاسو ته د یو کډوال یا مهاجر حیثیت درکړي ؛
- چې د OFPRA لخوا د رد کولو پرېکړه تایید کړي او ستاسو اپیل رد کړي ؛
- چې، په ځینو صورتونو کې، د OFPRA پرېکړه رد کړي او له هغه څخه وغواړي چې ستاسو په غوښتنلیک بیا له سره غور وکړي.

د CNDA د پرېکړې پر ضد دولتي شورا ته اپیل کېدای شي. دغه دولتي شورا ستاسو په ټولې غوښتنې باندې غور نه کوي خو یوازې ځینې قانوني پوښتنو یا قضیو باندې بیا غور کوي. دا پروسه یا کړنلاره اوږده ده او یو ځانګړي وکیل ته اړتیا لري. د قانوني مرستې غوښتنه کېدی شي. دا اپیل به په فرانسه کې ستاسو پاتې کېدل نه اوږدوي، او بیرته خپل هیواد ته ستاسو د لیږلو مخه هم نه نیسي. تاسو ته مشوره درکول کېږي چې د دې پروسیجر په پام کې نیولو سره د یوې ټولنې یا وکیل څخه مشوره وکړئ.

## ■ د CNDA د پرېکړې وروسته د پاتې کېدو د حق خاتمه.

ستاسو د پاتې کېدو د حق پای ته رسیدل په لاندې صورتونو کې کیږي :

- د CNDA د پریکړې په لوستلو سره، که چرې دغه پریکړه په عامه یا پبلک غونډه کې شوې وي. پریکړه به په هر حالت کې تاسو ته درکړای کیږي ؛
- د CNDA د پریکړې د خبرتیا سره، که چرې دغه پریکړه د یو امر له لارې شوې وي.

د پاتې کېدو د حق له پای څخه وروسته، تاسو باید فرانسه پرېږدئ او د فرانسوي خاورې د پرېښودو مکلفیت تابع کیدای شئ (برخه 5 وګورئ).

## 3.3 د بند شوې پناه غوښتنې بیا پرانیستنه.

د 9 میاشتو تیریدو وروسته، ستاسو د بیا پرانیستنې غوښتنه به د بیا کتنې د غوښتنې په څیر معامله کیږي (3.4 برخه وګورئ "بیا کتنه")

ستاسو د غوښتنې د ازمویني د بندیدو په صورت کې (په 3.1 برخه کې "د OFPRA پریکړه" وګورئ)، د بندیدو د پریکړې څخه وروسته په 9 میاشتو کې دننه، تاسو فقط د یو ځل لپاره د غوښتنلیک د بیا پرانیستلو غوښتنه کولی شئ. د دې لپاره، تاسو باید د پناه غوښتونکو لپاره د لومړی هرکلي مدیریت (SPADA) ته خپل ځان بیا معرفي کړئ، او بیا په ګیشي یونیک خپل ځان بیا راجستر کړئ (برخه 2 وګورئ).

په پره فیکتور کې د راجستریشن څخه وروسته، تاسو سره بیا 8 ورځې وخت دې چې د OFPRA په دفتر کې د خپلې غوښتنې د بیا پرانیستلو غوښتنه وکړئ، کوم چې به ستاسو فایل بیا پرانیزي یا بیا خلاصوي او له هغه مرحلې څخه به ستاسو د پناه غوښتنې معاینه بیا پیل کوي په کومه مرحله کې چې بند شوې وو.

د 9 میاشتو په موده کې دننه د غوښتنلیک د بیا پرانیستلو د غوښتنې په صورت کې، تاسو یو ځل بیا په سیمه کې د پاتې کیدو حق ګټور کیږئ، او تاسو ته به د پناه غوښتنې تصدیقي سند درکړل کیږي.

د 9 میاشتو تیریدو وروسته، ستاسو د غوښتنلیک د بیا پرانیستلو غوښتنه به د بیا کتنې د غوښتنلیک په څیر ګڼل کیږي (برخه 3.4 "بیا کتنه" وګورئ).

## 3.4 بیا کتنه.

د CNDA لخوا ستاسو د پناه غوښتنې د رد کیدو وروسته، او یا، د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته په یوه میاشت کې دننه که چرې تاسو اپیل نه وي کړې، نو تاسو د OFPRA څخه د خپل غوښتنلیک ته د بیا کتنې غوښتنه کولی شئ، خو په هغه صورت کې چې که چرې تاسو کومه "نوی خبره یا نوی عنصر" په خپل غوښتنلیک کې کړې وي، مطلب دا دې چې :

- که چرې ستاسو دغه غوښتنه د CNDA د پریکړې د نیټې څخه وروسته وي، او یا، که د پریکړې څخه مخکې وې، خو چې پدې اړه تاسو پرې وروسته پوه شوئ یاست ؛
- او یا، که چرې دغه غوښتنه ستاسو د ځوروني شخصي ویرې توجیه کوي، او یا، که د بیرته ستنیدو په صورت کې د جدي ګواښ خطر توجیه کوي.

تاسو کولی شئ د یوې ټولنې یا د یو وکیل څخه مشوره وکړئ.

د بیا کتني غوښتنه کولو لپاره، تاسو باید د پناه غوښتونکو لپاره د لومړي هرکلي سنټر (SPADA) ته ځان حاضر کړئ، او بیا ګیشي یونیک ته د یو ځل بیا راجستریشن لپاره. (وګورئ برخه 2).

تاسو بیا د دې نوي راجستریشن له نیټې څخه 8 ورځې وخت لرئ ترڅو د خپل بیاکتنې غوښتنه OFPRA ته وسپارئ. که ستاسو غوښتنه بشپړه نه وي، نو دفتر به له تاسو څخه غوښتنه کوي چې دغه غوښتنلیک په 4 ورځو کې دننه بشپړ کړئ.

بیا به OFPRA ستاسو د غوښتنلیک لومړۍ ازموینه پیل کوي، او د غوښتنلیک د معرفي کیدو وروسته په 8 ورځو کې دننه به د غوښتنلیک د منلو د وړتیا په اړه پریکړه کوي. د دې آزموینې په جریان کې، اړتیا نه لري چې تاسو به مرکې لپاره وغوښتل شئ.

د دې کتنې یا ازموینې په پای کې، OFPRA ستاسو د بیا کتنې غوښتنه د نه منلو وړ اعلان کولې شي، که چیرې دغه غوښتنه کې هغه حقایق یا شواهد چې کوم تاسو ورکړې وي، احتمال نلري چې تاسو د تحفظ د ورکړې امکانات زیات کړي.

که OFPRA ستاسو غوښتنه د منلو وړ اعلان کړي، نو ستاسو غوښتنه به په ډیرې ژورتیا وڅیړل شي، او پرته لدې چې بله پریکړه وشي، د ګړندي پروسیجر لاندې به معامله شي.
د بیا کتنې د غوښتنې په اړه د OFPRA لخوا د نه منلو یا ردولو د پریکړې پر ضد د CNDA په وړاندې اپیل یا استیناف کیدای شي ( برخه 3.2 وګورئ).

**آیا تاسو د خپلې بیا کتنې د غوښتنې پر مهال په سیمه کې د پاتې کیدو د حق څخه ګټور کیدای شئ ؟**

د بیاکتنې د لومړۍ غوښتنې په صورت کې (په 3.1 برخه کې د "OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته، د پاتې کیدو د حق خاتمه" وګورئ) :

- که چیرې پره فیکتور دا ګڼي چې ستاسو غوښتنه فقط د شړلو د ګامونو د ناکامه کولو په غرض وړاندې شوې وه، او دا چې OFPRA لخوا د منلو وړ اعلان شوی، نو تاسو بیا د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته نور په دې سیمه کې د پاتې کیدو حق نلرئ، او بیا به ستاسو د شړلو او نیولو ګامونه پورته کړای کیږي ؛
- که چیرې OFPRA ستاسو غوښتنه باندې د نه منلو پریکړه کړې وي خو پره فیکتور ګڼي چې ستاسو غوښتنه فقط د شړولو د ګامونو د ناکامه کولو لپاره نه دې وړاندې شوې، نو تاسو بیا د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته نور په دې سیمه کې د پاتې کیدو حق نلرئ او بیا به ستاسو د شړلو او نیولو په لړ کې ګامونه پورته کړای کیږي، خو تاسو کولی شئ چې CNDA ته اپیل کولو په وخت د اداري محکمې په وړاندې د اعدام د ځنډولو غوښتنه وکړئ ؛
- که چیرې OFPRA ګڼي چې ستاسو غوښتنه د بیا کتنې وړ ده خو بیا وروسته یئ رد کړې وي، نو تاسو بیا د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته نور په دې سیمه کې د پاتې کیدو حق نلرئ او بیا به ستاسو د شړلو او نیولو په لړ کې ګامونه پورته کړای کیږي، خو تاسو کولی شئ چې CNDA ته اپیل کولو په وخت د اداري محکمې په وړاندې د اعدام د ځنډولو غوښتنه وکړئ ؛

د بیا کتنې په لړ کې د دویمې غوښتنې په صورت کې، تاسو د پاتې کیدو د حق څخه ګټه نشئ پورته کولی. بیا ستاسو پر ضد به د شړلو او نیولو ګام پورته کړې کیږي، پرته لدې چې د OFPRA پریکړې ته انتظار وباسي.

# 4. د پناه غوښتونکي د هرکلي او استوګنې واقعي او مهم شرایط او د هغۀ حقونه

د یو پناه غوښتونکي په توګه، تاسو حق لرئ چې د هرکلي او استوګنې د واقعي او مهم شرایطو څخه ګټه پورته کړئ، چې په دې کې دا لاندې ذکر شوې خبرې شامل دي :

- د پناه غوښتونکو د استوګنې او هرکلي په سنټر (CADA) کې، او یا، د بیړنی استوګنې په سنټر کې، ستاسو لپاه او ستاسو د فامیل د غړو لپاره لنډمهاله استوګنه (برخه 4.1) ؛
- د پناه غوښتونکو لپاره میاشتنۍ الاؤنس یا تخصیص (ADA)، چې د پیسو مقدار یا اندازه به یې ستاسو د کورنی د جوړښت مطابق وي (برخه 4.2).

په ګیشي یونیک کې د پناه غوښتنې د راجستر کولو پر مهال، تاسو ته به د OFII لخوا د پاملرنې او ملاتړ یو وړاندیز کیږي کوم چې به ستاسو د هرکلي او استوګنې واقعي او مهم شرطونه تعریف کوي (برخه 2.2.2 وګورئ).

تاسو سره به ستاسو په اداري او ټولنیزو کړنلارو کې ملاتړ او ملګرتیا هم کیږي، ترڅو ستاسو د پناه غوښتنې د دوسیې تعقیب او همدارنګه ټولنیزو حقونو ته لاسرسی باوري شي کوم چې تاسو ته درکړل شوي وي، په ځانګړي توګه د تعلیم، روغتیا او د کار روزګار په لړ کې (د 4.3 څخه تر 4.5 برخې پورې).

## 4.1. د پناه غوښتونکي استوګنه.

### ■ د استوګنې ځایونه

د استوګنې ځایونه د پناه غوښتونکو د هرکلي او استوګنې سنټرونه (CADA) دي، او د پناه غوښتونکو لپاره ټول د بیړنی استوګنې سنټرونه (HUDA) دي. د استوګنې ځایونه ته د دولت لخوا پیسې ورکړل کیږي او تنظیم کیږي. دا ځایونه د ټولنو لخوا اداره کیږي.

په ټوله فرانسه کې د اپارتمنتونو، اجتماعي مرکزونو، او یا، د هوټل د کوټو او خونو په شکل کې شاوخوا 100000 د استوګنې ځایونه دي کوم چې پناه غوښتونکو ته وقف شوي دي. په CADA او په HUDA کې، امکان لري چې تاسو د نورو خلکو یا کورنیو سره ځینې ځایونه (پخلنځی ، غسل خانه، تشنابونه) شریک کړئ.

د استوګنې څخه د ګټه پورته کول په غرض، تاسو باید د پناه غوښتنې معتبر تصدیقي سند ولرئ.

په CADA او په HUDA کې، تاسو به د اداري او قانوني ملاتړ څخه ګټه ترلاسه کوئ (د پناه غوښتنې کړنالره)، او د روغتیا او ټولنیز ملاتړ څخه هم (د ټولنیزو حقونو خلاصیدل، روغتیایي پاملرنې ته لاسرسی، د ماشومانو تعلیم، او داسې نور). که چرې تاسو د هوټل په خونه کې استوګن شوي یاست، نو تاسو د پناه غوښتونکو لپاره د لومړي هرکلي په سنټر(SPADA) کې د هم دا رقم ملاتړونو او کمکونو څخه ګټه پورته کولی شئ.

■ **استوګنځای ته راجع کونه.**

د استوګنې واقعي او مهم شرایط (CMA)، چې پکې د استوګنې وړاندیز او د پناه غوښتونکو لپاره الاؤنس (ADA) شامل دي، تاسو ته د OFII لخوا وړاندیز کیږي کوم چې په ګیشې یونیک کې (GUDA) کې موقعیت لري او چیرې چې تاسو خپله پناه غوښتنه ثبت کړې وه :

- **که چرې تاسو د دې ملاتړ او کمک وړاندیز رد کوئ،** نو بیا به تاسو ته د CMA د ګټو وړاندیز نه کیږي.
- **که چرې تاسو د دې ملاتړ او کمک وړاندیز منئ،** نوستاسو د پناه د پروسیجر مطابق او په ډیپارټمنټ، سیمه، او یا په ټوله فرانسوي سیمه کې د شتون مطابق، OFII به تاسو ته په CADA کې او یا د بیړنی استوګنې په سنټر (HUDA) کې ځای درکوي.

دا ممکن ده چې تاسو ته د دپارتمنت نه بهر د استوګنځی وړاندیز وشي، او یا، د هغه سیمې نه بهر چرته چې تاسو خپله پناه غوښتنه راجستر کړې وي. که تاسو دا وړاندیز رد کوئ، نو تاسو به نور ADA نشئ ترلاسه کولی، او نور د استوګنې وړاندیز به هم تاسو ته نه کیږي.

د ځای د نشتوالي په صورت کې، OFII به تاسو یو SPADA ته لیږي، کوم چې به ستاسو لپاره یوه استوګنه لټوي.

■ **استوګنځای کې داخله او وتنه.**

**که چرې تاسو ته په یو CADA او یا په یو HUDA کې داخله درکړای شوې وي،** نو تاسو کولی شئ چې په دغه استوګنځي کې د خپلې پناه غوښتنې د کړنالرې (OFPRA او CNDA) ټولې مودې لپاره پاتې شئ.

هم بیا هم، په ځینو حالتونو کې، تاسو د OFPRA لخوا د رد کیدو د پریکړې وروسته د محدود وخت لپاره دلته پاتې کیدې شئ (په 4.2 برخه کې وګورئ "ستاسو د هرکلي او استوګنې واقعي او مهم شرطونه کله ختمیږي؟").

**که چرې تاسو د یو کډوال او مهاجر په حیث پیژندلې شوې یئ، او یا، تاسو ته ضمني تحفظ درکړای شوې وي** (د OFPRA یا CNDA مثبت او قطعي پریکړه)، نو تاسو باید CADA یا HUDA په دریو میاشتو کې دننه پریږدئ، یوځل د نوې کیدو وړ. که تاسو بیا هم د دې وخت وروسته په استوګنځي کې پاتې کیږئ، نو تاسو به د محکمې په وړاندې د ایستلو یا شړلو د پروسیجر سره مخ شئ.

که چرې ستاسو د پناه غوښتنه رد شوې وي (د OFPAA یا د CNDA منفي پریکړه) ، تاسو باید په سیمه کې د پاتې کیدو د حق د ختمیدو سره د CADA یا HUDA څخه وځئ (سرلیک وګورئ "په 3.1 او 3.2 برخو کې "د پاتې کیدو د حق پای") پرته له قانون لخوا بیان شوې استثنا.

**که چرې تاسو د دې وخت څخه وروسته په استوګنځای کې پاتې کیږئ،** نو ممکن ده چې ستاسو د شړلو پروسیجر پیل شي. په داسې صورت کې، تاسو ته به د دپارتمنت د پریفیکټ لخوا، او یا، د CADA یا HUDA د مدیر لخوا د استوګنځي د پریښودلو لپاره یو نوټس درکړای کیږي. که چرې تاسو داسې نه کوئ، نو بیا به د دپارتمنت پریفیکټ، او یا، مدیر اداري قاضي ته وینا کوي کوم چې به تاسو ته د استوګنځي د پریښودلو امر کوي. که اړتیا وي، د ملي پولیسو ځواکونه یا ژاندارمه به ستاسو د شړلو په لړ کې ګامونه پورته کوي.

## 4.2. د پناه غوښتونکي لپاره الاؤنس (ADA).

د پناه غوښتونکو لپاره الاؤنس (ADA) د OFII لخوا اداره کیږي، او د دې ورکړه د خدمتونو او تادیې اداري لخوا تادیه کیږي.

دا الاؤنس یا مالی مرسته تاسو ته د OFII لخوا صادر شوي کارت په واسطه تادیه کیږي، ترهغه وخت پورې چې تاسو د یو پناه غوښتونکي په حیث په ساحه یا سیمه کې د پاتې کیدو دحق څخه ګټور کیږئ، او یا، د پناه غوښتنې د ازموینې یا پلټنې یو بل مسؤل دولت ته د لیږد د وخت پورې.

■ **د ګټې ترلاسه کولو شرایط.**

د پناه غوښتنکو لپاره د الاؤنس څخه د ګټور کیدو لپاره، تاسو باید :

1. د پناه غوښتنې د تصدیق سند ولري ؛
2. 18 کلن یئ ؛
3. که چرې تاسو پناه غوښتونکي یاست، او تاسو په ګیشې یونیک کې د ملاقات پر مهال د OFII لخوا وړاندیز شوي د هرکلي او استوګنې واقعي او مهم شرایط منلي وي.

**د پناه غوښتنې د تصدیق د سند پرته، ایا زه د هرکلي او استوګنې د واقعي او مهم شرطونو څخه ګټه ترلاسه کولی شم ؟**

لکه څنګه چې پورته ذکر شوی، د هرکلي او استوګنې د واقعي او مهم شرطونو څخه د ګټور کیدو لپاره، تاسو باید د پناه غوښتنې د تصدیق معتبر سند ولرئ.

خو بیا هم، که چرې تاسو د خپلې پناه غوښتنې د بیا کتنې غوښتنه کړې وي، او یا، که چرې تاسو پناه غوښتنه کې ډیر نا وخته کړې وي، پرته د قانوني دلیلونو (په 2.2.1 برخه کې "ستاسو د پناه غوښتنې وړتیا" وګورئ)، که څه هم تاسو د پناه غوښتنې سند لرئ، نو تاسو ته د هرکلي او استوګنې د واقعي او مهم شرطونه نشي درکړای کیدې.

سربیره پردې، هغه پناه غوښتونکي چې د پناه غوښتنې د تصدیق سند ترې بیرته اخیستل شوی وي، او یا، د OFPRA لخوا په ګړندي پروسیجر کې اچولې شوې پناه غوښتنې د رد کیدو وروسته (د اصلي خوندي هیواد له امله، عامه نظم ته د جدي ګواښ له امله) د پناه غوښتنې د تصدیق نه وي نوی شوی، نو د OFPRA د پریکړې څخه وروسته دغه کسان د هرکلي او استوګنې د واقعي او مهم شرطونو څخه ګټور کیږي، او د CNDA په وړاندې د اپیل په صورت کې، د قاضي د پریکړې تر وخت پورې (اداري قاضي یا د پناه قاضي). دا باید په یاد وساتل شي چې په داسې صورتونو کې الاؤنس بیا سمول کیږي او یا په مادي کمکونو کې بدلیږي.

■ **د غوښتنلیک جوړونه.**

که چرې تاسو د پناه غوښتونکي یاست، نو په ګیشې یونیک کې د پناه غوښتنې د راجستر کولو وروسته، او د OFII لخوا وړاندیز شوي ملاتړ د وړاندیز منلو وروسته، تاسو د پناه غوښتنکو لپاره د الاؤنس حق لرئ.

OFPRA ته د پناه د غوښتنلیک د ورکولو وروسته، او ستاسو د پناه غوښتنې د راجستر کیدو وروسته، په 21 ورځو کې دننه، د الاؤنس ورکړه پیل کیږي.

■ **د الاؤنس پیسې.**

د پناه غوښتونکو د الاؤنس څخه د ګټور کیدو لپاره، تاسو باید خپل میاشتني مالي عواید د "ایکټیو سالیداریټي (RSA) د پیسو څخه کم توجیه کړئ.

ستاسو د فامیل جوړښت، ستاسو عواید، او ستاسو د استوګنې ډول په پام کې د نیولو وروسته، د الاؤنس د پیسو محاسبه کیږي.

### د الاؤنس ورکړه.

د پناه غوښتونکو لپاره د الاؤنس لومړیَ ورکړه، د OFPRA په دفتر کې د پناه د غوښتنلیک د ورکولو وروسته ورکړای کیږي. که چرې تاسو OFII ته خپل موبایل نمبر ورکړی وي، نو تاسو ته به د خپل کارت د چارج کیدو خبر د SMS له لارې درکړای کیږي.
دغه الاؤنس به تاسو ته د هغه میاشت تر پایه پورې درکول کیږي په کوم کې چې په فرانسه کې ستاسو د پاتې کیدو حق پای ته رسي (په 3.1 او 3.2 برخو کې وګورئ "د پاتې کیدو د پای").

د الاؤنس ورکړه به د هغه میاشت په پای کې بندیږي کومه میاشت چې د پناه غوښتنې په هکله د پریکړې د خبرتیا پسې وروسته راځي.

### اپیل.

تاسو باید په خپل وضعیت کې د هرډول بدلون راتلو په اړه OFII ته خبر ورکړئ، دغه بدلون که ستاسو د استوګنې د حق په لړ کې وي، که ستاسو د کورنی د وضعیت په لړ کې وي، او که ستاسو د عوایدو یا دندې او روزګار په لړ کې وي.

د OFII لخوا د ADA په اړه د پریکړې پر ضد د اعتراض کولو په صورت کې، دا ستاسو مسؤلیت دی چې OFII ته، اداري محکمې ته اپیل وکړئ کوم چې د قضایی قضیو وړ دی.

**ستاسو د هرکلي او استوګنې واقعي او مهم شرایط کله پای ته رسي؟**

د هرکلي او استوګنې واقعي شرایطو څخه ګټه ترلاسه کول د هغه میاشت په پای کې ختمیږي په کومه میاشت کې چې په سیمه کې ستاسو د پاتې کیدو حق ختمیږي.

د OFPRA لخوا په ګړندي پروسیجر کې اچولې شوې پناه غوښتنې د رد کیدو وروسته (د اصلي خوندي هیواد له امله، عامه نظم ته د جدي ګواښ له امله)، پناه غوښتونکې د هرکلي او استوګنې د واقعي او مهم شرطونو څخه ګټور کیږي، دغه ګټه تر لاسه کونه د محکمې لخوا د شړلو د ګامونو د ټالولو د غوښتنې د رد کولو د پریکړې پورې، او یا، د CNDA د کومې پریکړې پورې ده (5.1 برخه وګورئ).

که چرې تاسو د یو کېوال په توګه پیژندل شوي یا د ضمني تحفظ درکړای شوې وي، نو د الاؤنس ترلاسه کول د پریکړې د خبرتیا د میاشت وروسته د میاشتې په پای کې پای ته رسي.

خو بیا هم، په لاندې ذکر شوو صورتونو کې د هرکلي واقعي شرایط هم پای ته ورسیږي :

- کله چې تاسو د مشروع دلیل پرته، خپل استوګنځای پرېښودلی وي ؛
- کله چې تاسو د چارواکو په وړاندې د حاضریدو څخه انکار کړی وي، یا د معلوماتو غوښتنو ته مو ځواب نه وي ویلی، یا د پناه غوښتنې د کړنالرې په اړه شخصي مرکو یا انټرویو ته مو حاضري نه وي کړې؛
- کله چې تاسو د OFII لخوا په بله سیمه کې یو استوګنځای ته، او یا، یو SPADA ته استول شوي یئ، خو تاسو په پنځو ورځو کې دننه هلته ځان حاضر کړی نه وي ؛
- کله چې تاسو د OFII لخوا یوې بلې سیمې ته استول شوي یئ، خو تاسو د OFII له اجازې پرته دغه سیمه پرېښودلې وي ؛
- کله چې تاسو خپلې مالي سرچینې یا عواید پټ ساتلي وي؛
- کله چې تاسو د خپلې کورنی د وضعیت په اړه غلط معلومات ورکړی وي ؛
- کله چې تاسو د پناه غوښتنې ګڼ درخواستونه د مختلفو شناختونو لاندې ورکړي وي ؛
- کله چې تاسو یو ناوړه یا د تاؤ تریخوالي چلند کړی وي، او یا، د خپل استوګنځي د قواعدو په جدي ډول سرغړونه کړې وي.

پریکړه به وروسته له هغې کیږي کله چې تاسو خپل لیکلي شوي سپارښتنې OFII ته وسپارئ. د مالي سرچینو یا عوایدو د پټولو، د خپلې د کورنۍ د وضعیت په اړه د د غلط معلوماتو ورکولو، او د مختلفو شناختونو لاندې د ګڼ شمیر پناه غوښتلیکونو ورکولو په صورت کې، دا کیدی شي چې په غیرقانوني تادیه شوي پیسې بیرته له تاسو واخیستل شي.

## 4.3. زده کړو او تعلیم ته لاسرسی.

د پناه غوښتونکو د ماشومانو لپاره د تعلیم سیستم ته لاسرسی هم هغه شان ده لکه څنګه چې د فرانسوي خلکو لپاره ده.

د تعلیم اوروزنې د قانون سره سم (آرټیکل L. 111-2)، "هر ماشوم د ښوونځي تعلیم حق لري کوم چې د کورنۍ د عمل بشپړولو سره خپل تعلیم کې برخه اخلي". دا خبره د یاد وړ ده چې " د 6 او 16 کلونو ترمینځ د دواړو جنسونو ماشومانو لپاره، که فرانسوي دي او که بهرني، تعلیم لازمي دی" (د پورته ذکر شوي قانون آرټیکل L. 131-1).

په لومړني ښوونځي کې نوم ثبتونه په ښاروالۍ کې ترسره کیږي. تاسو باید داسې اسناد وړاندې کړئ چې د ماشوم سره ستاسو تړاو، ستاسو د استوګنې ادرس، او د ماشوم واکیسن تصدیقوي.

په ثانوي ښوونځي (کالج یا عالي لیسه) کې نوم ثبتونه مستقیما هغه اداره کې ترسره کیږي چې ستاسو د اوسیدو ځای ته نږدې وي.

ستاسو د اداري، قانوني او ټولنیز ملاتړ مسؤل سازمان، که دغه سازمان ستاسو د استوګنې مسؤل وي او یا که د لومړي هرکلکي مسؤال سازمان(SPADA) وي، کولی شي چې د دغه کړنلارو پوره کولو کې له تاسو سره کمک وکړي. دوي دا کار د OFII سره د یو قرارداد لاندې ترسره کوي (2.1 پوائنټ وګورئ).

## 4.4. علاج یا درملنې ته لاسرسی.

### ▪ چرته به د ځان علاج کوئ ؟

- **یو روغتیایی یا طبي مسلکي سره (د روغتون څخه بهر)**

د هرې طبي یا روغتیایی ستونزې لپاره، تاسو کولی شئ د یو "عمومي طب" ډاکټر سره مشوره وکړئ، څوک چې به تاسو معاینه کوي او هغه دارو درمل به تاسو ته نسخه کوي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. که چرې تاسو اضافي معاینې یا پاملرنې ته اړتیا لرئ، نو هغه به تاسو یو"متخصص" ډاکټر یا طبي مرستیال (نرس، فزیوتراپیست ......) ته ورلیږي.

- **په درملتون کې :** د دارو درملو اخیستو لپاره، یا د مشورې غوښتلو لپاره.
- **په روغتون کې :** د ایمرجنسي په صورت کې، یا د ځینو معاینو یا متخصص مشورو لپاره.

**دا علاج یا درملنې مفت ندي، خو دا ستاسو د روغتیایي بیمې لخوا ملاتړ کیدی شي** (راتلونکی پاراګراف وګورئ).

**د خپلې روغتیایي بیمې ترلاسه کولو ته د انتظار کولو پرمهال، تاسو کولی شئ په لاندې ذکر شوو سازمانونو کې مفت یا وړیا علاج یا درملنه وکړئ :**

- د ټولو علاجونو یا درملنو لپاره :
  - تاسو کولی شئ د روغتیایي یا طبي پاملرنې سازمانونو (PASS) ته لاړ شئ، چې معمولا په روغتون کې موقعیت لري. ستاسو به د ډاکټرانو لخوا پاملرنه وشي او تاسو ته به دارو درمل مفت یا وړیا درکړل شي.

- ځيني متخصصې ټولني (د نړۍ ډاکټران، COMEDE ...) د عمومي درملو مفت او وړيا مشورې، د غاښونو مشورې، او يا، تخصصي مشورې ورکوي (ګائناکالوجي، آپتامولوجي، يعني د سترګو د رنځونو، اعصابي، او داسې نور).

- د ځانګړو ستونزو لپاره :
  - د اميندوارو ميرمنو د حمل د څارنې لپاره، د 6 کالو څخه کم عمر ماشومانو څارنه او واکسين : د PMI په مرکز کې (د ميندو د ماشوم ساتنه)
  - د نري رنځ د ټيسټ لپاره : په CLAT کې (د نري رنځ د کنټرول مرکز)
  - د HIV، د هيپاټايټس او د جنسي لارې لېږدونکي ناروغو د ټيسټونو لپاره : د مفت او وړيا معلوماتو، د ټيسټونو، او تشخيصي مرکزونو کې (CeGIDD)
  - د حمل ضد توکو د ورکولو لپاره : د فاميلي پلان مرکز کې (CPEF)
  - د نشي د عمليانو لپاره : د عمليتوب درملنه، ملاتړ او مخنيوي مرکز (CSAPA)

**د خپل لومړي هرکلي او استوګنې د مرکز، او د استوګنې د مرکز، او يا، ځايي روغتون څخه وپوښتئ چې دغه پورته ذکر شوي ځايونه چيرته دي، يا** http: //annuairesante.ameli.fr

**د طبي بيړني حالت په صورت کې**، په 15 يا 112 زنګ ووهئ، او يا، که چيرې تاسو زنګ نشئ وهلې نو د نږدې روغتون ايمرجنسي ځانګې ته لاړشئ کولی.

## ■ خپل روغتيايي لګښتونو کې ملاتړ څنګه ترلاسه کول ؟

**په فرانسه کې علاج او درملنه په پيسو کيږي مګر تاسو د روغتيايي بيمې څخه ګټه پورته کولی شئ کوم چې به ستاسو د روغتيا ټول لګښتونه، او يا، د لګښتونو يوه برخه ورکوي.**

دې روغتيايي بيمو ته نړيواله روغتيايي ساتنه (PUMa) او د تکميلي روغتيايي پاملرنه (CSS) وئيل کيږي. دغه وروستی ذکر شوې بيمه د ځينو عوايدو سرچينو د شرايطو لاندې ورکړل کيږي.

دا بيمې تاسو ته د ټولو عادي پاملرنې لګښتونه درکوي، پشمول د سترګو چشمې يا عينکې، او مصنوعي غاښونه، او داسې نور. سربيره پردې، له وړاندې نه د پيسو ورکولو پرته، د تکميلي روغتيايي پاملرنې بيمه تاسو ته دا اجازه درکوي چې تاسو د دغه پاملرنو څخه ګټه پورته کړئ، او ستاسو د ټرانسپورټ په لګښتونو کې د تخفيف څخه هم ګټه پورته کړئ.

**تاسو د خپلې استوګنې د ډيپارټمنټ د لومړۍ روغتيايي بيمې فنډ (CPAM) څخه غوښتنه کولی شئ :**

- **ستاسو د کوچني ماشومانو لپاره ستاسو لخوا د پناه غوښتنې د راجستر کولو وروسته :** تاسو بايد د "روغتيايي بيمې د حقونو پرانيستلو د غوښتنې" فورمه او د "د تکميلي روغتيايي پاملرنې د غوښتنې" فورمه هم ډکه کړئ، او ورسره د پناه غوښتنې تصديقي سند هم ضميمه کړئ په کوم تصديقي سند چې هغوی ځرګنديږي ؛
- **د خپل ځان لپاره په فرانسه کې د 3 مياشتو استوګنې وروسته (يا ستاسو ميرمن) :** تاسو بايد دا فورمې يوځل بيا ډک کړئ او ورسره د خپل پناه غوښتنې تصديقي سند او په فرانسه کې د 3 مياشتو څخه د زيات وخت د اوسيدو ثبوت هم ضميمه کړئ، د مثال په توګه :
  د استوګنې د يو مرکز لخوا ورکړی شوی د تيرو 3 مياشتو د استوګنې يو تصديقي سند ؛ د 3 مياشتو څخه زيات د عارضي ادرس تصديقي سند ؛ د 3 مياشتو څخه زيات د پناه غوښتنې تصديقي سند ؛ هغه ټول اسناد کوم چې د پناه غوښتونکو لپاره د لومړۍ استوګنې د مرکز (SPADA) لخوا درکړل شوي وي او چې نيټه پرې د 3 مياشتو څخه زيات ليکل شوې وي ؛ د يو دريمګړي لخوا د استوګنې په صورت کې، د دغه دريمګړي شخص لخوا يوه رسمي تصديقي سند چې د استوګنې د پيل کيدو نيټه پکې ليکل شوی وي مګر د ادرس د ثبوت سره (د کرايه رسيدونه، د انرژي بيلونه، او داسې نور) چې هم د دغه کس په نوم د تيرو 3 مياشتو لپاره جوړ شوی وي.

که چیرې تاسو یا ستاسو ماشومانو ژر تر ژره درملنه ته اړتیا لرئ، نو تاسو کولی شئ چې د ګړندي درملنې لپاره اړین ثبوت ضمیمه کړئ، ترڅو د فایل پروسس ګړندی شي او ستاسو د روغتیایي بیمې څخه ډیر ژر ګټه پورته کړي شئ.

پدې کړنلاره کې تاسو د خپل لومړي هرکلي او استوګنې مرکز (SPADA) کمک ترلاسه کولی شئ، او هم خپلې استوګنې د مرکز ( HUDA ،CADA، او داسې نور) کمک ترلاسه کولی شئ، او یا، د یو روغتون ټولنیز خدمت څخه مرسته ترلاسه کولی شئ.

**ستاسو روغتیایي بیمه به په هغه نیټه پیل کیږي په کومه نیټه چې تاسو خپل فایل CPAM ته استوئ. نو له همدې امله دا مهمه ده چې تاسو د خپلو ماشومانو لپاره سمدلاسه خپل غوښتنه وکړئ (د خپلې پناه غوښتنې د راجستر کولو وروسته)، او کله چې تاسو په فرانسه کې د 3 میاشتو استوګنې ولرئ نو بیا د خپل ځان یا د خپلې میرمنې لپاره هم غوښتنه وکړئ.**

تاسو به یو تصدیقي سند ترلاسه کوئ کوم چې باید تاسو د خپلې درملنې لپاره یو ډاکټر ته، یو روغتون یا یو درملتون ته وړاندې کړئ. دغه تصدیقي سند به تاسو ته د فنډ لخوا په هغه ادرس درلیږل کیږي کوم ادرس چې په فورمو کې لیکل شوی وي : تاسو باید په فورمه کې د خپلې عارضي استوګنې د ځای ادرس په ګوته کړئ.

د پناه غوښتنې د پروسې ټولې مودې په جریان کې تاسو ته به روغتیایي لګښتونه درکړل کیږي، او بیا وروسته به هم درکړل کیږي که چیرې تاسو د نړیوال تحفظ ګټه ترلاسه کړې وي. لکه څنګه چې تکمیلي روغتیایي پاملرنه د 1 کال لپاره د اعتبار وړ ده، نو تاسو باید هر کال یو نوی فایل ورکړئ ترڅو له دغه بیمې څخه ګټه پورته کولو ته دوام ورکړئ. په دې لړ کې غوره به دا وي چې تاسو باید چې د بیمې د هغه نیټې د پای څخه د 4 تر 2 میاشتو وړاندې غوښتنه وکړئ کومه نیټه چې ستاسو په تصدیقي سند لیکل شوې وي.

**د خپلو حقونو پرانیستلو په تمه کې، په تیره برخه "چیرته به د ځان علاج کوئ؟" کې ذکر شوي وړیا طبي مرکزونو کې تاسو د خپلو اوسنیو او روانو طبي پاملرنو وړیا درملنه کولی شئ "**

**په روغتون کې ستاسو "عاجل درملنې " به هم ملاتړ کیږي.** دا هغه علاجونه دي کوم ته چې انتظار نشي کیدای، د مثال په توګه : د ژور زخم علاج یا درملنه، د هډوکي ماتوالي، سوځیدنه، یوه جدي یا اخته کیدونکې ناروغي، د کوچنیانو او امیندواره میرمنې ټول علاجونه (په ځانګړې ډول د مخنیوي طبي معاینې کوم چې د حمل پر مهال او وروسته ترسره کیږي، د ماشوم زیږون، د حمل لرې کول یا ختمول، .... او داسې نور) **د مفت او وړیا علاج لپاره، کله چې روغتون ته راځئ نو تاسو باید د خپلې پناه غوښتنې تصدیقي سند وړاندې کړئ.**

<u>**په یاد لرلو لپاره :**</u>

**تاسو د خپلې پناه غوښتنې د راجستر کولو وروسته ژر تر ژره د خپل د اوسیدو ځای د CPAM څخه د خپلو کوچنیو ماشومانو لپاره د روغتیایي بیمې غوښتنه کوئ او د خپل ځان لپاره (یا د خپلې میرمنې لپاره) هغه وخت غوښتنه کوئ کله چې تاسو په فرانسه کې د 3 میاشتو څخه ډیر وخت لپاره ژوند کړی وي.**

**پداسې حال کې چې تاسو د روغتیایي بیمې څخه ګټه پورته کولو ته په تمه ناست یئ، د درملنې په ځینو مرکزونو کې او یا په روغتون کې د "عاجل علاج" لپاره تاسو خپل وړیا درملنه کولی شئ : په دې لړ کې تاسو د خپلې پناه غوښتنې تصدیقي سند وړاندې کوئ.**

**تاسو د حالت د هر بدلون په اړه خپل CPAM خبر ورکوئ :** تاسو د پناه غوښتنې د هر نوي تصدیقي سند یوه کاپي، د عارضي ادرس د هر نوي تصدیقي سند یوه کاپي، او د استوګنې جواز غوښتنې د رسید یوه کاپي استوئ، که تاسو د نړیوال تحفظ څخه ګټه ترلاسه کوئ.

## 4.5. د کار روزګار بازار ته لاسرسی.

کله چې د OFPRA لخوا، د هغو دلایلو له مخې چې تاسو ته منسوب نه وي، ستاسو د غوښتنلیک له نیټې څخه په شپږو میاشتو کې دننه ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پریکړه نه وي کړې، نو د یو پناه غوښتونکي په توګه، تاسو ته د کار کولو اجازه درکول کیدی شي.

په داسې صورت کې تاسو کولی شئ چې د خپل راتلونکي کارګمارونکي یا کارفرما لخوا چمتو شوي د کار جواز لپاره د غوښتنلیک په وړاندې کولو سره، د خپل اوسیدلو د ځای د ډیپارټمنت د DIRECCTE د کارګرو دفتر (SMOE) څخه د کار د جواز لپاره غوښتنه وکړئ.

د کار جواز غوښتنې په اړه پریکړه د پریفیکټ / DIRECCTE / SMOE لخوا کیږي، څوک چې ستاسو د غوښتنلیک د نیټې څخه وروسته دوه میاشتې د پلټنې وخت لري. که چرې تاسو پدې موده کې ځواب ترلاسه نه کړئ، نو د کار جواز ترلاسه شوي ګڼل کیږي. د دې خبرې په اړه ستاسو راتلونکي کار ګمارونکي ته او هم تاسو ته خبر درکول کیږي، او په سیمه کې د پاتې کیدو د مودې پورې دغه جواز د تطبیق وړ وي.

د موافقې په صورت کې، پریفیکټ به د 3 میاشتو څخه د زیاتې موده لرونکي د کار د اجازې قراردادونه، او یا، د موسمي کارونو د اجازې قراردادونه OFII ته استوي.

خو د کار جواز تاسو ته رد کیدای هم شي، په ځانګړي توګه په اړونده سیمه یا سیکټر کې د کارموندنې د وضعیت له امله، پرته لدې چې تاسو د کار کسب په لیستونو کې موجود په یو لیست کې ذکر شوی یوی دندې یا کار لپاره غوښتنه کوئ.

که چرې تاسو د لنډمهاله کار جواز لرئ، او په داسې صورت کې چې که چرې د یوې داسې خبرې له امله ستاسو د کار قرارداد لغوه شوې وي چې دغه لامل له تاسو سره اړه نه لري، او یا، د یوی ټاکل شوې مودی کار قرارداد، او یا، د لنډمهاله مودی قرارداد پای ته رسیدلې وي، نو په داسې صورت کې، تاسو کولی شئ چې Pôle emploi څخه د یو کار لټونکي په توګه د ځان د راجستر کولو لپاره غوښتنه وکړئ.

که چرې تاسو یو بې څوکه کوچنی ماشوم یاست، او که تاسو د یوی ټاکل شوې مودې لپاره د زده کړې او یا د مسلکي تربیې د ترسره کولو لپاره د کار جواز لرئ، نو تاسو کولی شئ خپل تړون ته دوام ورکړئ که چرې تاسو د پناه غوښتنې عریضه له 1 مارچ 2019 څخه وروسته ورکړې وي.

په پای کې، که چرې تاسو د کار او روزګار بازار ته داخل شوی یاست، نو تاسو د کار کسب د قانون لخوا د ذکر شوو شرایطو سره سم، د حرفوي زده کړو او تربیې څخه هم ګټور کیدای شئ.

# 5. په سیمه کې د پاتې کیدو په حق باندې د پناه د غوښتنې د رد کیدو پایلې یا نتیجې

## 5.1. د OFPRA یا CNDA د ردولو پریکړه.

- **د OFPRA د پریکړې د خبرتیا څخه وروسته، د پاتې کیدو د حق خاتمه.**
  - ✓ **CNDA ته اپیل معطلونکی یا ټالونکی ندی :**

لکه څنګه چې په 3.1 برخه کې ذکر شوې، په ملي خاوره باندې ستاسو د پاتې کیدو حق هغه وخت پای ته رسیږي کله چې د OFPRA لخوا په لاندې ذکر شوو پریکړو کې یوه پریکړه ستاسو په اړه وشي :

1. د نه منلو پریکړه، ځکه چې تاسو له وړاندې نه په یو بل دولت یا هیواد کې کې د تحفظ ځخه گټور کیږئ، او، که دغه هیواد د اروپایي اتحادیې غړی نه وي، تاسو هلته بیرته ستنیدلی شئ (برخه 3.3 وګورئ) ؛
2. د بندیدو پریکړه (3.3 برخه وګورئ) ؛
3. د بیاکتنې په لړ کې د لومړۍ غوښتنې په اړه د نه منلو پریکړه، په داسې وخت کې چې تاسو د شړلو د امر سره مخ یئ.

په داسې صورتونو کې، د پناه غوښتنې د تصدیق سند به له تاسو ځخه بیرته واخیستل شي، او یا، به بیا نه نوي کیږي، او بیا به د فرانسوي خاورې پریښودلو مسؤلیت ستاسو په غاړه وي. د CNDA په وړاندې اپیل یو ټالوونکي یا معطلوونکي اپیل نه دی، او کوم وخت هم ستاسو د شړلو ګامونه پورته کیدای شي.

که چېرې تاسو د پناه غوښتنې د بیرته اخیستولو په اړه OFPRA ته خبر ورکړی وي، نو تاسو به د پاتې کیدو حق هم له لاسه ورکړئ او د CNDA په وړاندې اپیل به ټالوونکي یا معطلوونکي نه وي.

✓ **د CNDA په وړاندې اپیل په اتوماتیک ډول ټالوونکي یا معطلوونکي ندي.**

په ملي خاوره کې د پاتې کیدو حق هغه وخت هم پای ته رسیږي کله چې د OFPRA لخوا په لاندې ذکر شوو پریکړو کې یوه پریکړه ستاسو په اړه وشي :

1. د بیا کتنې په لړ کې د لومړۍ غوښتنې په اړه د نه منلو پریکړه، بې لدې نه چې تاسو د شړلو د ګامونو سره مخ یئ ؛
2. د بیاکتنې منلي شوې غوښتنې په اړه د ردولو پریکړه ؛
3. په ګړندي پروسیجر کې اچولې شوې د پناه غوښتنې په اړه د ردولو پریکړه، په دې دلیل چې تاسو د یو داسې هیواد وګړي یاست چرته چې سوله او امن دي.
4. په ګړندي پروسیجر کې اچولې شوې د پناه غوښتنې په اړه د ردولو پریکړه، په دې دلیل چې په ملي خاوره ستاسو پاتې کیدل عامه نظم ته جدي ګواښ دي.
5. د نه منلو، او یا، د ردولو پریکړه، په داسې حال کې چې تاسو د شړولو د ګامونو سره، او یا، په سیمه د بندیز په اړه د اداري یا قضایي ممانعت سره مخ یئ، او تاسو د کور نظارت یا نظر بند یا توقیف کې ساتل شوي یئ ( په 2.2.1 برخه کې وګورئ " ایا تاسو د جلاوطنۍ یا شړلو د ګامونو سره، د اداري لخوا، او یا، د محکمې لخوا اعلان شوي په سیمه کې د بندیز سره مخ یئ ؟").

د 1 څخه تر 4 صورتونو، د پناه غوښتنې تصدیقي سند به بیرته له تاسو څخه واخیستل شي، او یا، به نه نوي کیږي، او بیا به تاسو د فرانسوي خاورې د پریښودلو مسؤلیت ستاسو په غاړه وي.

یوځل چې تاسو د OQTF سره مخ شئ، نو د ژر تر ژره پروسیس په غرض، او یا، ستاسو د پناه غوښتنې د مؤثره تعقیب په غرض، تاسو نظر بند کیدې شئ، او یا، د اړتیا په صورت کې توقیف کیدې هم شئ ، د هغو عناصرو د ټاکلو په غرض د کوم په اساس چې ستاسو د پناه غوښتنه ولاړه وي، او یا، کله چې د ملي امنیت یا عامه نظم ساتنه ورته اړتیا لري.

که چېرې اپیل په اتوماتیک ډول معطلوونکي نه وي، نو بیا هم تاسو د OQTF پر ضد ستاسو د اپیل په چوکاټ دننه د اداري محکمې څخه د شړولو یا بیرته استولو د پریکړې د ټالولو یا معطلولو لپاره غوښتنه کولی شئ، په داسې حال کې چې تاسو د OFPRA د پریکړې پر ضد CNDA ته اپیل کوئ، او که CNDA ته اپیل شوی وي، نو بیا هغه وخت چې پریکړه وکړي.

ستاسو د معلوماتو لپاره، د پناه غوښتنې د رد کیدو د پریکړې په تعقیب کې، د OQTF د پریکړې د خبرتیا د نیټې ځخه په پنځلس روځو کې دننه د دغه پریکړې پر ضد اداري محکمې ته اعتراض کیدای شي. قاضي به په لسو اونیو کې دننه قانون وضع کوي یا پریکړه به کوي. د اپیل موده 48 ساعتونو ته راټیټه کیږي که چیرې تاسو په کور کې نظربند کړای شوي یاست، او یا، د توقیف لاندې یاست. په داسې صورت کې، قاضي به په 72 ساعتونو دننه قانون وضع کوي یا پریکړه به کوي.

د OQTF پر ضد اپیل ټالوونکي یا معطلوونکي : تاسو د هغه وخت په جریان کې لیرل کیدې یا شړل کیدې نشي کوم وخت چې تاسو سره د اپیل کولو لپاره دي، او که اداري محکمې ته رجوع شوې وي، نو مخکې لدې چې پریکړه وکړي.

که چېرې تاسو د پناه د غوښتنلیک د وړاندې کولو څخه وړاندې د OQTF سره مخ شوې یاست، او که چېرې OQTF نور اپیل وړ نه وي، نو تاسو کولی شئ چې په مستقیم ډول اداري محکمې څخه غوښتنه وکړئ چې د OQTF اعدام وځنډوي. تاسو دا غوښتنه په کور کې د نظر بند کیدو، او یا، توقیف کیدو څخه وروسته په 48 ساعتونو کې دننه کولې شئ. د ټالولو یا معطل کولو دا غوښتنه یو رقم د شړلو د ګام یو معطل کوونکي غوښتنه ده.

که چېرې تاسو د OQTF پر ضد اپیل نه کوئ، او یا، که چېرې تاسو د اپیل وړ OQTF د نیشتوالي په صورت کې د شړولو یا ویستلو د ګامونو د اجرا پر ضد د ځنډولو غوښتنه نه کوئ، نو تاسو د اپیل لپاره د ټاکلې مودې، او یا، د ځنډولو د غوښتنې لپاره د ټاکل شوې مودې په ختمیدو سره سم شړلي کیدې یا لرې کیدې شئ. ستاسو د هرکلی د واقعي یا مادي شرایط د هغه میاشت په پای کې هم پای ته رسي په کومه میاشت کې چې د اپیل کولو نیټه پای ته رسیدلي وي.

د 5م پوائنټ په صورت کې، تاسو د OFPRA د پریکړې څخه وروسته په 48 ساعتونو کې دننه د اداري قاضي څخه د شړولو یا لرې کولو د ګامونو د اجرا د ځنډولو غوښتنه کولې شئ، په داسې حال کې چې CNDA ستاسو د اپیل پلټنه کوي (په 2.2.1 برخه کې وګورئ "آیا تاسو د محکمې، او یا، د یو دولتي اداري لخوا اعلان شوي د جلاوطنی د امر لاندې او په سیمه کې د بندیز د امر لاندې راتللي شئ".)

**شړلو د ګامونو د اجرا پر ضد، ستاسو د غوښتنې په تعقیب کې څه پېښیږي ؟**

اداري محکمه ستاسو غوښتنه تاییدوي، که چېرې تاسو د پناه غوښتنې د یوې برخې په توګه، د CNDA لخوا ستاسو د اپیل د معاینې پرمهال، دې اداري ته په سیمه کې د پاتې کیدو په لړ کې جدي او ریښتني عناصر وړاندې کړې وي.

په داسې صورت کې، تاسو د CNDA په وړاندې د اپیل لپاره د وخت د پای پورې په سیمه کې پاتې کیدې شئ، او که چېرې CNDA ته اپیل شوې وي، نو بیا د دوي لخوا تر پریکړې کیدو د وخت پورې پاتې کیدی شئ. که اړینه وي، نو د اداري محکمې پریکړه به ستاسو نظر بندي، او یا، ستاسو توقیف ختموي، خو د عامه نظم د لاملو پرته. ستاسو د هرکلي واقعي او مادي شرایط د هغې میاشتې په پای کې پای ته رسیږي په کومه میاشت کې چې CNDA د اپیل نیټه پای ته رسیدلي وي، او که چېرې محکمې ته اپیل شوې وي، نو بیا د هغې رواني میاشت په پای کې چې پریکړه یې کړې وي.

که چېرې محکمه ستاسو لخوا د شړلو د ګامونو د اجرا د ځنډولو غوښتنه رد کوي، نو ستاسو د شړلو حکم نافذ کیدلی شي او دې سره به ستاسو د هرکلي واقعي او مادي شرایط د هغې میاشت په پای کې پای ته رسي په کومه میاشت کې چې د محکمې د پریکړې خبرتیا شوی وي.

که چېرې تاسو د کوم OQTF سره مخ یئ، او دې سره په خپله خوښه د وتلو وخت یا نیټه ذکر شوې وي، نو دغه وخت یا نیټه د اداري محکمې لخوا ستاسو د ځنډولو دغوښتنې د ردولو د نیټې څخه پیل کیږي، او یا، که داسې ونشي، نو بیا د CNDA لخوا د پریکړې د نیټې څخه پیل کیږي.

- ■ **د CNDA د پریکړې دخبرتیا، او یا، د پریکړې د اورولو وروسته، د پاتې کیدو د حق خاتمه.**

په نورو صورتونو کې، د فرانسې په خاوره ستاسو د پاتې کیدو حق هغه وخت پای ته رسیږي کله چې په قطعي توګه ستاسو د پناه غوښتنه رد شي :

- که چېرې تاسو د OFPRA د پریکړې پر ضد د اپیل لپاره د وخت د ختمیدو (یوه میاشت) وروسته د CNDA په وړاندې اپیل نه وي کړې ؛

- يا، که چرې تاسو په يوه مياشت کې دننه د CNDA په وړاندې اپيل کړې وي، نو د محکمې د پريکړې په عامه غونډه کې د لوستلو په نيته، يا د پريکړې د خبرتيا په نيته، که محکمې خپله پريکړه د يو حکم له لارې کړې وي.

په داسې صورت کې، تاسو بايد فرانسه پرېږدئ، او تاسود فرانسوي خاورې پرېښودلو مکلف ياست.

**آيا د دولتي شورا په وړاندې د اپيل کولو په صورت کې د پاتې کيدو د حق ځخه ګټه ترلاسه کيدای شي ؟**

تاسو د CNDA د پريکړې پر ضد دولتي شورا ته اپيل کولی شئ. دولتي شورا ته د اپيل کولو لپاره وخت دوه مياشتي دي. دا دوه مياشتي وخت د محکمې د پريکړې د خبرتيا د نيټې څخه پيل کيږي.

دولتي شورا د قضيې ټول عناصر بيا نه معاينه کوي، خو يوازې د پروسيجر د اصولو درناوي ته، د حقايقو تيروتنو ته، او د پناه د قاضي لخوا د قانون سم تطبيق ته ګوري.

خو بيا هم، دا اپيل تاسو ته اجازه نه ورکوي چې تاسو د پاتې کيدو د حق څخه ګټه پورته کړې، او تاسو د دولتي شورا د پريکړې څخه مخکې شړل کيدل يا لرې کيدلی شئ.

## 5.2 خپل اصلي هيواد ته د بيرته ستنيدو په لړ کې کمک.

پره فيکتور به تاسو ته د فرانسوي خاورې د پرېښودو د مسؤليت (OQTF) په اړه خبرتيا درکوي. دې خبرتيا سره به د فرانسې څخه د وتلو نيټه هم ښودلې شوې وي کوم چې په عمومي توګه 30 ورځې وي، که چرې تاسو ټول شرايط پوره کوئ.

د وتلو په پدې ټاکلې موده کې، تاسو کولی شئ خپل اصلي هيواد ته د بيرته ستنيدو لپاره د مرستې غوښتنه وکړئ. په دې لړ کې تاسو بايد د اميګريشن او اينټيګريشن فرانسوي دفتر سره اړيکه ونيسئ.

✓ **د بيرته ستنيدو په لړ کې د مرستې پيکج**

د بيرته ستنيدو په لړ کې د مرستې هدف دا دی چې د غيرقانوني بهرنيانو خپل وطن ته په خپله خوښه ستنيدل اسان کړي. د سيمې د پريښودو د مکلفيت د خبرتيا څخه وروسته زر تر زره د دې مرستې غوښتل بايد وشي. د دې مرستې په غوښتنه کې د خپلې خوښې د تګ ټاکلې نيټه ګټور کيدای شي.

د باوقاره بيرته ستنيدو په لړ کې د ملاتړ کولوسره سره، د OFII لخوا ملاتړ شوو مرستو کې دا لاندې ذکر شوې مرستې هم شامل دي :

- **خپل هيواد د بيرته ستنيدو د سفر په تياری کې اداري او مادي مرسته،** چې د دې مرستې څخه د ګټور کيدونکي او د کورنۍ د وتلو مادي تنظيم په پام کې نيول کيږي :
  - د هوايي سفر د ټيکټونو بکنګ ؛
  - د سفري اسنادو په ترلاسه کولو کې مرسته ؛
  - په فرانسه کې د اوسيدو د ځای څخه تر په فرانسه کې د هوايي ډګر پورې وړل ؛
  - په هوايي ډګر کې د وتلو په رسمياتو کې ملاتړ او مرسته.

- په فرانسه کي د روانیدو له ځای څخه تر خپل هیواد ته د رسیدو پوري **د ترانسپورت په لګښتونو کي مرسته،** په شمول د سامانونو لیږد، خو په یو ټاکلي حد کي دننه، کوم چي د بیرته ستنیدونکو هیوادونو مطابق ټاکل کیږي ؛
- **مالي مرسته،** چي بهرنیانو ته د وتلو په وخت یوځل ورکول کیږي.

✓ **د بیا یوځای کیدني یا د ادغام په لړ کي د مرستي پیکج**

د بیرته ستنیدو په لړ کي د پورته ذکر شوو مرستو سره سره، او یا، په خپلواکه توګه، خپلو هیوادونو ته د بیرته ستنیدوونکو بهرنیانو لپاره د اقتصادي او ټولنیز ادغام په لړ کي مرستي هم وړاندیز کیدی شي.

دا کیدې شي چي دغه مرستي د ځانګړو شرایطو لاندې هغو بهرنیانو ته او د هغوي فامیلو ته ورکړای کیدی شي چي د چا د پناه غوښتنه رد شوې وي.

د بیارغوني یا د ادغام دا مرسته، 3 کچه لري. د ګټه اخیستونکو د وضعیت او اړتیاو سره سم، دا مرستي د ګټه اخیستونکو د پروفایلونو مطابق له یو بل سره تړل کیدای شي :

- **د رارسیدو سره سم، د ټولنیز ادغام په لړ کي مرسته** (کچه : 1) ؛
  بیرني، مادي یا مالي مرسته، په دې مرستو کي د محدود وخت لپاره د کور یا استوګني مرسته، په روغتیایي لګښتونو کي، د ماشومانو په روزنه او تعلیم کي، او د روزني د موادو په لړ کي مرستي شامل دي.
  په دې کي د یوې ټاکلي مودې لپاره ټولنیز ملاتړ هم شامل دې، د مثال په توګه، د فامیلي اړتیاو اټکلونه.

- **د کار موندني له لارې، د ادغام په لړ کي مرسته** (کچه : 2) ؛
  په دې مرستو کي دا لاندې ذکر شوې مرستي شاملي دي :
  - په ستنیدونکي هیواد کي د کارموندلو په لړ کي مرسته ؛
  - د دندي په موندلو کي مرسته ؛
  - په حرفوي او مسلکي زده کړو کي مرستي.

- **د سوداګرۍ یا د خپل کاروبار پیل کولو له لارې، د ادغام په لړ کي مرسته** (کچه : 3).

## 5.3 خپل اصلي هیواد ته جبري استونه.

که چرې تاسو ته د خپلي خوښي ستنیدو په لړ کي موده یا نیټه ټاکل شوې وي، او که تاسو د دې مودې له پای ته رسیدو وروسته فرانسوي خاوره پرینبودلي نه وي، نو د دې خبرې دا مطلب دی چي تاسو په فرانسه کي په یو غیر قانوني حالت کي پاتي کیږئ.

په داسي صورت کي، پولیس به بیا تاسو بیرته د سرحد یا پولي په لور لیږي. د شړلو د دې اقدام سره ممکن ده چي په کور کي ستاسو د نظربندۍ، او یا، په اداري بندي خانه کي د توقیف حکم هم وشي.

که چرې تاسو د خپلي خوښي د ستنیدو د نیټي یا مودې پرته د OQTF تابع یاست، نو د دې خبرې مطلب دا دی چي تاسو د پریکړې له خبرتیا څخه وروسته په غیرقانوني حالت کي یاست، او تاسو کوم وخت هم بیرته د سرحد یا د پولي په لور لیږل کیدای شئ.

# 6. د تحفظ څخه ګټور کیدونکو حقونه

که چیرې تاسو د یو کډوال په حیث پیژندل شوي، او یا، ضمني تحفظ درکړای شوي وي، نو له دې وروسته تاسو د فرانسوي چارواکو تر محافظت لاندې یاست. تاسو نور نشئ کولی د خپل اصلي هیواد چارواکو ته راجع شئ، او نه د خپلو ویرو له امله خپل هیواد ته بیرته ستنیدی شئ.

OFPRA ستاسو اداري او قانوني حفاظت باوري کوي، د دې مطلب دا دی چې ستاسو د مدني حالت د بیا تشکیلولو وروسته، دا اداره به تاسو ته ستاسو د مدني حالت اسناد او نور اداري اسناد درکوي.

## 6.1. په فرانسه کې استوګنه.

**د یو کډوال په حیث،** تاسو د لس کلن استوګنې کارت مستحق یاست، دا کارت په اتوماتیک ډول بیا نوي کیدلی شي، کوم چې تاسو ته دا اجازه درکوي چې تاسو په آزاده توګه د فرانسې په خاوره کې حرکت وکړئ.

د هغه لیک د ترلاسه کولو وروسته، کوم چې تاسو د یو کډوال په حیث پیژنئ، تاسو باید د خپل ځای له پره فیکتور سره اړیکه ونیسئ. پره فیکتور به تاسو ته ستاسو د استوګنې د جواز د غوښتنلیک څخه په 8 ورځو کې دننه د 6 میاشتو د بیا نوی کیدو وړ لومړۍ رسید درکوي چې پکې به "پیژندل شوی کډوال" ذکر شوی وي.

دا رسید تاسو ته دا حق درکوي چې د خپلې خوښې مسلک تمرین کړئ. دا رسید به د استوګنې د کارت د ورکړې د وخت پورې بیا نوی کیږي. د OFPRA لخوا ستاسو د مدني حالت د بیا تشکیلولو وروسته، د استوګنې کارت تاسو ته درکول کیږي.

**د ضمني تحفظ څخه د ګټور کیدوونکي په حیث،** تاسو د 1 مارچ 2019 څخه وروسته د څلور کلنې استوګنې د کارت حق لرئ، کوم چې تاسو ته دا اجازه درکوي چې تاسو په فرانسوي خاوره په ازاده توګه وګرځئ.

د هغه لیک د ترلاسه کولو وروسته، په کوم کې چې تاسو ته ضمني تحفظ درکړای شوی وي، تاسو باید د خپل ځای له پره فیکتور سره اړیکه ونیسئ. پره فیکتور به تاسو ته ستاسو د استوګنې د جواز د غوښتنلیک څخه په 8 ورځو کې دننه د 6 میاشتو د بیا نوی کیدو وړ لومړۍ رسید درکوي چې پکې به "د ضمني تحفظ ګټه ترلاسه کړه" ذکر شوی وي. دا رسید تاسو ته دا حق درکوي چې د خپلې خوښې مسلک تمرین کړئ. OFPRA لخوا ستاسو د مدني حالت د بیا تشکیلولو وروسته، د استوګنې کارت تاسو ته درکول کیږي.

د لس کلنې استوګنې کارت به تاسو ته د څلورو کالو قانوني استوګنې څخه وروسته درکړای کیږي.

## 6.2. د فامیل استوګنه.

- ### ستاسو د فامیل د غړو د استوګنې حق.

**که تاسو د یو کډوال په توګه پیژندل شوي، او یا، که تاسو ته ضمني تحفظ درکړای شوي وي،** ستاسو د فامیل غړي به د استوګنې د کارت څخه هم ستاسو په شان ګټور کیږي :

- ستاسو میرمن/میړه یا ستاسو پارټنر/پارټنره چې تاسو ورسره د سول یونین یا مدني اتحاد له لارې تړلي یاست، که چرې ستاسو دغه میرمن/میړه یا پارټنر/پارټنره لږ تر لږه 18 کلن وي او که چرې ستاسو واده یا سول یونین ستاسو د پناه د غوښتنې څخه وړاندې شوی وي، په دې شرط چې د دغه واده یا سول یونین لږ تر لږه یو کال وخت پوره شوی وي، او لا تر اوسه یوځای ژوند کوئ ؛
- ستاسو میرمن/میړه یا ستاسو پارټنر/پارټنره چې تاسو ورسره د سول یونین یا مدني اتحاد له لارې تړلي یاست، او یا ستاسو بې نکاح ملګرې چې د فامیل د یوځای کېدو له لارې ورته په فرانسه کې د اوسېدو اجازه ورکړل شوی وي (لاندې سر لیک وګورئ "د فامیل د بیا یوځای کېدو حق") ؛
- ستاسو ماشومان، چې 18 کلن وي، او یا، د 16 کلن څخه زیات وي، او که چرې دوی کار کول غواړي ؛
- ستاسو مور پلار (د لومړي درجې په مستقیمه توګه خپل مور پلار)، که تاسو لاهم کوچني یاست او واده مو نه وي کړې.

ستاسو د کورنۍ غړي باید د استوګنې د جواز ترلاسه کولو لپاره د خپل د اوسېدو د ځای پره فیکتور سره اړیکه ونیسي.

## ■ د فامیل د بیا یو ځای کېدلو حق.

که ستاسو فامیل یا کورنۍ له فرانسې څخه بهر وي، په داسې وخت کې چې تاسو تحفظ ترلاسه کړې وي، نو تاسو کولی شئ چې د فامیلي بیا یوځای کېدنې د پروسیجر له لارې او پرته له کومې وسیلې یا د کور لرلو د شرایطو، خپل فامیل فرانسې ته راولئ.

پدې حق پورې اړه لري :

- ستاسو میرمن/میړه یا ستاسو پارټنر/پارټنره چې تاسو ورسره د سول یونین یا مدني اتحاد له لارې تړلي یاست، که چرې ستاسو دغه میرمن/میړه یا پارټنر/پارټنره لږ تر لږه 18 کلن وي او که چرې ستاسو واده یا سول یونین ستاسو د پناه د غوښتنې څخه وړاندې شوی وي ؛
- ستاسو بې نکاح ملګرې، که چرې لږ تر لږه 18 کلن وي، او د چا سره چې تاسو د خپل تحفظ د غوښتنلیک د نېټې څخه وړاندې کافي اندازې سره مستحکم او دوامداره یوځای ژوند کړی وي ؛
- ستاسو د جوړې اولاد، چې لږ تر لږه 19 کلن وي او واده یې نه وي کړې ؛
- ستاسو خپل ماشومان، او د هغې میرمن/میړه څخه ماشومان چې د مخکیني واده څخه دي، چې 18 کلونو څخه کم عمر لري. په داسې ماشومانو کې دا لاندې ذکر شوي شامل دي :
  - ✓ داسې ماشومان چې د نسب لړۍ یې تاسو یا ستاسو د میرمنې/میړه سره ثابتېږي، او یا، د دغه ماشومانو نور مور پلار مړهٔ شوي وي او والدین د حقوقو څخه محروم وي ؛
  - ✓ داسې ماشومان چې سپارښتنه یې د پاملرنې د واک اختیار په غرض، د بهرني قضاوت د یوې پرېکړې په واسطه، تاسو ته او یا ستاسو میرمن/میړه ته شوې وي. د دغه محکمې پرېکړې یوه کاپي باید وړاندې کړې شي او د بل والدین اجازه هم باید ورکړل شي چې کوچنی ماشوم فرانسه ته تللی ؛
- ستاسو مور پلار (د لومړي درجې په مستقیمه توګه خپل مور پلار)، که تاسو لاهم کوچني یاست او واده مو نه وي کړې. دوی کولی شي د خپلو کوچني او نا واده کړي ماشومانو سره راشي، چې د چا لپاره دوی واقعیا مسؤلیت لري.

فرانسې ته د راتننه کېدو لپاره، ستاسو د کورنۍ غړي باید د ډیپلوماتیک یا قونسلګرۍ چارواکو څخه د 3 میاشتو څخه د زیات وخت د استوګنې د ویزې غوښتنه وکړي، دوی به ستاسو د دغه غوښتنې په اړه ژر تر ژره پرېکړه کوي. د کډوالو کورنیو دفتر ته کوم مخکینی لیک ته اړتیا نشته.

د فرانسې د قانون له مخې، که چرې تاسو په فرانسه کې د فامیلي ژوند د اساسي اصولو سره سمون نلرئ نو دا ممکن ده چې د فامیلي یوځای کېدنه رد شي. هم دغه شان، ستاسو د کورنۍ کوم غړی د فامیلي یوځای کېدنې څخه ویستل کېدای هم شي، که چرې ستاسو د فامیل د دغه غړي شتون په فرانسه د عامه نظم لپاره یو ګواښ وي، او یا، دغه غړی د هغو خبرو لمسوونکی، مرتکب یا جرمي ملګرې وي کوم چې د پناه غوښتنې په سلسله کې د تحفظ ورکول توجیه کړې وي.

که چرې ستاسو واده ستاسو د پناه د غوښتنلیک سپارلو څخه وروسته شوې وي، نو تاسو باید OFII ته د کورنی د بیا یوځای کیدو لپاره غوښتنلیک وسپارئ.

## 6.3. اینټیګریشن / ادغام.

### ▪ د امیګریشن او انټیګریشن فرانسوي دفتر (OFII) سره د جمهوري ادغام تړون لاسلیک کول

د یو کډوال په حیث، او یا، د ضمني تحفظ څخه د ګټې اخیستونکي په توګه، دا ستاسو مسؤلیت دی چې د OFII په دفتر کې د جمهوري ادغام یو تړون (CIR) لاسلیک کړئ. ستاسو او د دولت ترمینځ دا تړون تر سره کیږي، چې هدف یې په فرانسوي ټولنه کې ستاسو ادغام ته لاره هوارول دي.

دا تړون دې لاندې ذکر شوو خبرو ته لاسرسی درکوي :

- یو څلور ورځني مدني روزنیز پروګرام، چې هدفونه یې د فرانسوي هیواد اصولونه، ارزښتونه او اداري معرفي کول، په فرانسه کې د ژوند پورې اړوند حقونه او فرائض معرفي کول، او همدارنګه د فرانسوي ټولنې تنظیم معرفي کول دي ؛
- ستاسو د کچې سره سم د فرانسوي ژبې د زده کولو لپاره یو ژبني روزنه او تربیه. د دې روزنې په پای کې، تاسو به د خپلې ژبني کچې سره سم یو معیاري تصدیقي سند هم ترلاسه کوئ ؛
- د مسلکي لارښوونې په اړه مشوره او ملاتړ، کوم چې ستاسو مسلکي ادغام اسانه وي ؛
- ستاسو د اړتیاو سره سم، یو مناسب ملاتړ او ملتیا، ترڅو ستاسو د هرکلي، استوګنې او د ټولنیز ادغام لاره اسانه شي.

د نورو معلوماتو لپاره، تاسو کولی شئ د خپل استوګنې د ځای د OFII سیمه ایز مدیریت سره اړیکه ونیسئ.

## 6.4. ټولنیز حقونه.

### ▪ استوګنځای ته لاسرسی.

که تاسو د خپلې پناه غوښتنې پروسې پرمهال په CADA، او یا، د هرکلي او استوګنې ملي سیستم لاندې په یو بل ملي مرکز کې استوګن کړې شوې یاست، نو تاسو ته به د تحفظ ترلاسه کولو وروسته په دې سنټر کې د 3 میاشتو لپاره د پاتې کیدو حق درکول کیږي، چې د پریفیکت په مراضې سره بیا نوی کیدې شي.

د یو خوندي شوي شخص په توګه، تاسو کولی شئ د OFII څخه غوښتنه وکړئ چې د لنډمهاله هستوګنې په مرکز (CPH) کې تاسو ته ځای درکړي. که چرې تاسو داخلي شرایط پوره کوئ، او که په دغه سنټر کې ځای وي، نو تاسو ته به د نهو میاشتو لپاره استوګنه درکړای کیږي، چې دغه موده به د نورو دریو میاشتو لپاره د نوی کیدو وړ وي.

د مرکز ټیم به له ستاسو سره ستاسو د ادغام په کړنلارو کې ملاتړ کوي، دغه ملاتړ ستاسو د انفرادي وضعیت د نړیوالو اصولو سره سم تر سره کیږي.

سربیره پردې، تاسو کولی شئ د اړوندو ارګانونو یا ادارو سره د فایل ورکولو له لارې په پرائیوټ پارک یا پرائیوټ استوګنځایونو کې، او یا، په ټولنیزو کورونو کې د استوګنې څخه په مستقیم ډول ګټور شئ.

## ■ د روزګار بازار ته لاسرسی.

**که چرې تاسو د یو کډوال په توګه پیژندل شوي یاست،** نو تاسو د کار او روزګار بازار ته وړیا لاسرسی لرئ، له هغه لومړي رسید د ترلاسه کولو وروسته چې پکې "پیژندل شوی کډوال/مهاجر" لیکل شوي وي.

**که چرې تاسو د ضمني تحفظ ځخه ګټه پورته کوونکي یاست،** نو تاسو هم کار کولی شئ، له لوړي رسید د ترلاسه کولو وروسته چې پکې "ضمني تحفظترلاسه کړې" ذکر شوي وي.

تاسو د کار د قرارداد یا د کار د معاهدې غوښتنه کولی شئ، دغه معاهده یا قرارداد د یوې ټاکلې موده لپاره هم کیدای شي (CDD)، او د یوې نامعلومې مودې لپاره هم کیدې شي (CDI). تاسو کولی شئ د کار یا دندې لټونکو لیست کې هم خپل نوم ثبت کړئ او د شخصي ملاتړ ځخه ګټه واخلئ. تاسو روزنه او تربیه پیل کولي شئ.

د یو کډوال/مهاجر د کورنۍ د غړو د استوګنې کارتونه، او همدارنګه د ضمني تحفظ ترلاسه کوونکو د کورنۍ غړو ته ورکړای شوي د څو کلن استوګنې کارتونه، هغوي ته د کار حق ورکوي.

ځینې مسلکونه د مقرراتو لاندې راوستل شوي دي، او د ډیپلوم او / یا د تابعیت د شرایطو سره تړلي شوي دي. د استوګنې هغه کارت چې د سمندر پورې غاړه په یو ډپارتمنت یا د یوې کمیونیټي لخوا ورکړای شوي وي، نو دغه کارت لرونکي په مرکزي دولت یعني فرانسه کې د کار کولو اجازه نه لري.

## ■ علاج او درملنې ته لاسرسی.

**چیرته علاج او درملنه وشي؟** پاراګراف 4.4 وګورئ. "علاج او درملنې ته لاسرسی / چیرته علاج او درملنه وشي"

**د ځان د علاج او درملنې لپاره روغتیایي بیمه څنګه ترلاسه کول کیږي ؟**

- **که چرې تاسو لاهم د CPAM ځخه د روغتیا بیمې لپاره غوښتنه نه ده کړې (روغتیا بیمه او اضافي CMU) :**

پاراګراف 4.4 وګورئ. "علاج او درملنې ته لاسرسی" / "خپل روغتیایي لګښتونو کې ملاتړ څنګه ترلاسه کول ؟" د ګامونو پورته کولو لپاره.

ستاسو د روغتیایي بیمې غوښتنلیک سره ضمیمه کولو اسناد په لاندې ډول دي :

- د پره فیکتور لخوا ورکړای شوي رسید، چې پکې د "پیژندل شوي کډوال" یا "ضمني تحفظ ترلاسه کړې" ذکر شوي وي ؛
- که چرې تاسو د خپل مسؤلیت لاندې ماشومان لرئ، نو د لنډمهاله فامیلي تصدیقي سند ؛
- د استوګنې / کور تصدیقي سند، که تاسو یې لرئ.

- **که تاسو له وړاندې نه په CPAM کې د روغتیا بیمې لپاره غوښتنه کړې وي :**

نو تاسو د CPAM څخه تصديقي سند ترلاسه کړی دی. تاسو د روغتيايي بيمې لاندې يئ، او د اضافي يا تکميلي بيمې CMU تر لاندې ياست که چيرې تاسو يې غوښتنه کړې وي. د اضافي يا تکميل بيمې CMU د نيټې د پای څخه 2 مياشتې وړاندې د نوي فايل وړکول مه هيروئ (د CMU-C د حق د پای نيټه ستاسو په تصديقي سند ليکل شوې ده).

تاسو بايد CPAM ته د خپلې استوګنې جواز د رسيد يوه کاپي، او د مدني حالت هغه سندونه واستوئ چې د OFPRA لخوا به درکړای کيږي.

بيا به تاسو يو نوې تصديقي سند يا سرټيفيکيټ ترلاسه کوئ، سره د سوشل سيکيوريټي د يو نوي شميره.

بيا تاسو له CPAM څخه د "ويټل کارټ" غوښتنه کولی شئ. دا کارټ مفت يا وړيا دی، دا کارټ د حقونو تصديقي سند بدلوي، او بايد چې د علاج او درملنې په وخت وړاندې شي.

- **ټولنيز او فاميلي خدمتونه.**

که تاسو غوښتونکي شرطونه پوره کوئ، نو تاسو کولی شئ له بيلابيلو ټولنيزو خدمتونو څخه ګټه واخلئ (د بيلګې په توګه د فعال ساليداريټي عايد، د فعاليتونو په لړ کې اضافي پيسې، د کور يا استوګنځي په لړ کې مرسته، يا د معيوبينو او معذورو خلکو لپاره الاؤنس)، او همدارنګه، که چيرې تاسو د خپل مسؤليت لاندې ماشومان لرئ، نو بيا د فاميلي خدمتونو څخه ګټې.

ټولنيزې خدمتونه په مثال د مالي مرستو دي، چې ستاسو لږ تر لږه عوايد، او يا، اضافي عوايد، او تاسو سره مرسته باوري کوي، په ځانګړې توګه ستاسو د کور لګښتونه پوره کولو لپاره. همدا شان د دې مالي مرستې هدف تاسو سره ستاسو د ماشوم د زيږون، د هغه د ساتنې، او د مکتب د داخلې په لړ کې د ځينو لګښتونو پوره کولو کې، د يو معذور کس سره ترلې لګښتونو کې، او په عمومي توګه تاسو سره ستاسو د ماشومانو د ساتنې او تعليم سره ترلې لګښتنون کې مرسته کول دي.

دا ټولنيز خدمتونه او ځينې فاميلي خدمتونه د هغه خلکو لپاره دي چې مالي سرچينې يا عوايد يې محدود وي. دا خدمتونه د دولتې ټولنيزو مرستو دفترونو لخوا او د ټولنيز کروندګری يا دهقانی ډله ييزو مرستو دفترونو لخوا ورکړای کيږي، کوم چې په فرانسه کې شاوخوا په سلو سايټونو يا ځايونو کې موقعيت لري.

د دې خدمتونو او ګټو په اړه، او د غوښتنليک د ثبتولو په اړه د نورو معلومات ترلاسه کولو لپاره، تاسو کولی شئ د خپل استوګنې د ځای د دولتي ټولنيزو مرستې دفتر ته لاړ شئ، او يا، خپله غوښتنه آنلاين وکړئ ( www.caf.fr، www.msa.fr).

<u>يادلرنه :</u> د RSA او فعاليت بونس يا اضافي پيسو څخه د ګټور کيدو لپاره، تاسو بايد غوښتنليک ثبت کړئ. ستاسو حق يوازې هغه وخت په پام کې نيول کيدی شي کله چې تاسو ته د کډوال حيثيت يا فرعي محافظت درکړل شوې.

## 6.5. بهر ته سفر.

که تاسو د يو تحفظ څخه ګټه پورته کوونکي ياست، او غواړئ چې له فرانسې څخه بهر سفر وکړئ، تاسو کولی شئ د سفر سند ترلاسه کړئ، کوم چې به تاسو ته ستاسو د استوګنځای د پره فيکتور لخوا درکړل کيږي.

**که چيرې تاسو يو کډوال يا مهاجر ياست،** تاسو به د کډوالو لپاره يو پنځه کلن سند ترلاسه کوئ. چې د ټيکس مبلغ يا پيسې 45 يورو دي.

**که چيرې تاسو د ضمني تحفظ څخه ګټه اخيستونکي ياست،** نو تاسو به د څلورو کال لپاره معتبر شناختي کارټ او د سفر سند ترلاسه کوئ، د ټيکس مبلغ يا پيسې 40 يورو دي.

دا د سفر اسناد د فرانسوي ډيپلوماتيک په دفترونو او قونسلګرو کې بيا نوی کيدی نشي. د سفر پيل کولو څخه وړاندې، تاسو بايد ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د سفر سند ستاسو د استوګنې مودې لپاره معتبر دی.

که چېرې تاسو د فرانسې څخه بهر یاست او ستاسو د سفر د سند وخت پای ته ورسیږي (یا که له تاسو څخه ورک شي، او یا، غلا شي)، نو تاسو باید په هغه هیواد کې د فرانسوي ډيپلوماتيک چارواکو سره يا قونسلګرۍ سره اړيکه ونيسئ چیرې چې تاسو يئ ترڅو تاسو د قونسلګرۍ پاس ترلاسه کړئ. د دغه پاس او ستاسو د استوګنې د کارت په کمک سره تاسو بیرته فرانسې ته راتللې شئ.

که تاسو مهاجر یا کډوال يئ، او یا، له ضمني تحفظ څخه ګټه اخیستونکي یاست، نو ستاسو نابالغه بهرني ماشوم، څوک چې د فرانسې په خاوره کې شتون لري، او څوک چې د پناه په لړ کې له تحفظ څخه ګټه پورته کوونکي نه وي، نو امکان لري چې هغه ته د يو کال لپاره معتبر د شناخت او د سفر سند ورکړې شي. د ټیکس پیسې یا مبلغ 15 یورو دي.

**ایا تاسو خپل هیواد ته سفر کولی شئ؟**

دا د سفر اسناد تاسو ته اجازه نه ورکوي چې تاسو پرې خپل هیواد ته لاړ شئ. که تاسو خپل اصلي هیواد ته بیرته لاړ شئ، نو ممکن ده چې OFPRA دا خبره په پام کې ونیسي چې تاسو نور په خپل هیواد کې د ويرو سره مخ نه یاست، او دا چې ستاسو تحفظ پای ته رسيدې شي (6.7 وګورئ).

خو بیا وهم، د ډيرو استثنايي پيښو (د مثال په توګه د خپل خپلوان مړینه یا جدي ناروغی) له امله، تاسو د زیات نه زیات 3 میاشتو یو اجازه ليک ترلاسه کولې شئ، که تاسو له پره فيکتور څخه د دې غوښتنه وکړئ. په دې اجازه ليک تاسو خپل اصلي هیواد ته تللی شئ.

## 6.6. د تابعيت ورکړه.

**که چېرې تاسو د يو کډوال په توګه پيژندل شوي یاست،** نو د کډوال حیثیت ترلاسو کولو وروسته، تاسو کولی شئ چې د فرانسوي تابعيت ترلاسه کولو لپاره غوښتنه وکړئ.

**که چېرې تاسو ضمني تحفظ ترلاسه کړې وي،** نو د تابعيت د غوښتلو څخه وړاندې، تاسو باید په فرانسه کې 5 کالو پورې قانوني استوګنه ثابت کړئ.

تاسو باید د تابعيت لپاره د غوښتنې په لړ کې ځینې شرایط پوره کړئ (د مثال په توګه: د فرانسوي ژبې پوهه).

تاسو باید د خپل تابعيت غوښتنې دوسيه يو پليټ فارم ته وسپارئ.

## 6.7. د تحفظ خاتمه.

- ✓ **درغلي :** که چېرې دا خبره څرګنده شي چې تاسو د درغلی له لارې تحفظ ترلاسه کړې وي، نو دا امکان شته چې OFPRA ستاسو تحفظ ختم کړي.
- ✓ **که چېرې تاسو يو بل نوی تابعيت ترلاسه کړی وي، کوم چې تاسو ته تحفظ درکوي، او کوم چې له فرانسې لخوا ورکړل شوي نړیوال تحفظ محافظت غیر ضروري کوي.**
- ✓ که چېرې ستاسو په خپل اصلي هیواد کې تولې ویرې ختمیې شوي وي : OFPRA د دې خبرې اټکلونه کولې شي چې تاسو نور په خپل اصلي هیواد کې ويرې نلرئ، نو له همدې امله ستاسو تحفظ ختمولې شي :
  - که چېرې تاسو په خپله خوښه خپل اصلي هیواد کې اوسیدلې يئ ؛
  - که چېرې تاسو د خپل اصلي هیواد له چارواکو سره تماس نیولی وي ؛
  - که چېرې دا خبره څرګنده شي چې په هغو حالاتو کې دوامداره او کافي بدلون رامنځته شوي دي له کومو حالاتو له امله چې تاسو ته تحفظ درکړې شوي وو.

- **د اخراج یا شړلو ماده :** OFPRA هغه وخت هم ستاسو تحفظ ختموي کله چي دا خبره څرګنده شي چي تاسو د سولي پر ضد کوم جرم کړې وي، جنګي جرم یا د انسانیت پر ضد جرم، جدي جرم یا بل کوم داسي جرم چي د ملګرو ملتونو د اهدافو او اصولو پر ضد وي.

- **په داسي حالاتو کي که چرې په فرانسوي خاوره ستاسو شتون د عامه نظم، عامه امنیت یا د دولت امنیت لپاره جدي ګواښ شي، نو بیا :**
  - **که چرې تاسو مهاجر یا یو کډوال یاست،** نو ستاسو تحفظ هغه وخت پای ته رسیږي :
    - کله چي دا وګڼل شي چي په فرانسه کي ستاسو شتون د دولتي امنیت لپاره جدي ګواښ دی ؛
    - کله چي تاسو په فرانسه کي، د اروپایي اتحادیي په یو بل غړي هیواد کي، په لیشتن شتاین کي، په سویټزرلینډ کي، په ناروې کي، او یا، په آیس لینډ کي په یو جرم تورن شوي یاست، او یا، په یو داسي جرم چي ترهه ګري بلل کیږي، او یا، په یو داسي جرم تورن شوي یاست چي لس کاله بندیتوب پکي وي، او یا کله چي ستاسو شتون د فرانسوي ټولني لپاره جدي ګواښ جوړیږي ؛

  - **که چرې تاسو د ضمني تحفظ څخه ګټه پورته کوونکي یاست،** نو ستاسو تحفظ هغه وخت پای ته رسیږي کله چي په فرانسه کي ستاسو شتون د عامه نظم، عامه امنیت یا د دولتي امنیت لپاره جدي ګواښ وي.

# ضمیمه : ګټور ادرسونه

دا لیست بشپړ نه دي

## 1. Adresses nationales (ملي ادرسې)

### Institutions (اداري)

**Office français de protection des réfugiés et apatrides (OFPRA)**
**(د کډوالو او بې وطنه خلکو د تحفظ فرانسوي دفتر)**
201, rue Carnot
94 136 FONTENAY-SOUS-BOIS CEDEX
tél : 01 58 68 10 10, fax : 01 58 68 18 99
http://www.ofpra.gouv.fr/

**Cour nationale du droit d'asile (CNDA)**
**(د پناه د حق ملي محکمه)**
35, rue Cuvier
93 558 MONTREUIL-SOUS-BOIS Cedex
tél : 01 48 10 40 00, fax : 01 48 18 41 97
http://www.commission-refugies.fr/

**Office français de l'immigration et de l'intégration (OFII)**
**(د امیګریشن او انټیګریشن فرانسوي دفتر)**
44, rue Bargue
75 015 PARIS
tél : 01 53 69 53 70
fax : 01 53 69 53 69
http://www.ofii.fr

### Organisation internationale (نړیوال سازمان)

**Haut-Commissariat des Nations-Unies pour les Réfugiés (HCR)** Représentation en France
**(د ملګرو ملتونو د مهاجرینو لپاره عالي کمیسون)**
7, rue Henri Rochefort
75017 PARIS
Tél. : +33 (0)1 44 43 48 58
Fax : +33(0)1 44 43 48 61
www.unhcr.fr/fr-fr

### Associations (ایسوسي ایشنز یا ټولنې)

**Association des chrétiens pour l'abolition de la torture (ACAT)**
**(د ټارچر یا شکنجه د ختمولو لپاره د عیسایانو ټولنه)**
7, rue Georges Lardennois
75 019 PARIS
tél : 01 40 40 42 43 / fax : 01 40 40 42 44
http://www.acatfrance.fr/

**Act'up**
9, rue des Dunes
75 019 PARIS
tél : 01 75 42 81 25
http://www.actupparis.org/

**ARDHIS**
Centre LGBT Paris-Île-de-France,
63, rue Beaubourg, 75003 Paris
tél : 01 43 57 21 47
https://ardhis.org/WP3/

**Amnesty International - section française**
**(ایمنسټي انټرنیشنل – فرانسوي دفتر)**
72-76, boulevard de la Villette
75 019 PARIS
tél : 01 53 38 65 65 / fax : 01 53 38 55 00
http://www.amnesty.fr/

**Association Primo Lévi**
**(پرایمو لیوي ایسوسي ایشن)**
107, avenue Parmentier
75 011 PARIS
tél : 01 43 14 88 50 / fax : 01 43 14 08 28
http://www.primolevi.asso.fr/

**Association d'accueil aux médecins et personnels de santé réfugiés en France (APSR)**

**(په فرانسه کې د کډوالو ډاکټرانو او طب پوهانو د استوګني ايسوسي ايشن)**
Hôpital Sainte Anne
1, rue Cabanis
75 014 PARIS
tél : 01 45 65 87 50 / fax : 01 53 80 28 19
http://www.apsr.asso.fr

**Comité d'aide exceptionnelle aux intellectuels réfugiés (CAEIR)**
**(د پوهانو او روښان فکره خلکو د ځانګړي کمک کميټي)**
43, rue Cambronne
75 015 PARIStél : 01 43 06 93 02 / fax : 01 43 06 57 04

**Centre d'action sociale protestant (CASP)**
**(د پروټيسټنټ ټولنيز عمل سنټر)**
20, rue Santerre
75 012 PARIS
tél : 01 53 33 87 50 / fax : 01 43 44 95 33
http://www.casp.asso.fr

**CIMADE - Service œcuménique d'entraide**
**(سيماد – د يو بل سره د کمک کولو نړيواله ټولنه)**
91 rue Oberkampf
75011 PARIS tél : 01 44 18 60 50 / fax : 01 45 56 08 59
http://www.cimade.org

**Comité médical pour les exilés (COMEDE)**
**(د شړلو شوو يا جلا وطنو خلکو لپاره طبي کميټي)**
Hôpital de Bicêtre
78, rue du Général Leclerc
BP 31
94 272 LE KREMLIN BICÊTRE
tél : 01 45 21 39 32 / fax : 01 45 21 38 41
http://www.comede.org

**Croix rouge française**
**(فرانسوي سور صليب)**
98 rue Didot,
75694 Paris Cedex 14 tél : 01 44 43 11 00
fax : 01 44 43 11 01
http://www.croix-rouge.fr

**Fédération des associations de soutien aux travailleurs immigrés (FASTI)**
**(د کډوالو کارکوونکو د ملاتړ د ټولنو فيدريشن)**
58, rue des Amandiers
75 020 PARIS
tél : 01 58 53 58 53 / fax : 01 58 53 58 43
http://www.fasti.org

**Forum réfugiés**
**(د کډوالو فورم)**
28, rue de la Baïsse - BP 1054
69 612 VILLEURBANNE CEDEX
tél : 04 78 03 74 45/ fax : 04 72 97 05 81
http://www.forumrefugies.org

**France Terre d'Asile (FTDA)**
**(فرانس تيغ د'ازيل)**
24, rue Marc Seguin
75 018 PARIS
tél : 01 53 04 39 99 / fax : 01 53 04 02 40
http://www.france-terre-asile.org

**Groupe accueil solidarité (GAS)**
**(د سالیداریتي استوګني او هرکلي ګروپ)**
17, place Maurice Thorez
94 800 VILLEJUIF
tél : 01 42 11 07 95 / fax : 01 42 11 09 91
http://www.gas.asso.fr/

**Groupe d'information et de soutien des immigrés (GISTI)**
**(د کډوالو د معلوماتو او ملاتړ ګروپ)**
3, villa Marcès
75 011 PARIS
tél : 01 43 14 60 66 / fax : 01 43 14 60 69
http://www.gisti.org

**Ligue des droits de l'homme (LDH)**
**(د بشري حقونو ټولنه)**
138, rue Marcadet
75 018 PARIS
tél : 01 56 55 50 10 / fax : 01 56 55 51 21
http://www.ldh-france.org

**Mouvement contre le racisme et pour l’amitié entre les peuples (MRAP)**
**(د نژاد پرستۍ پر ضد او د خلکو ترمنځ د دوستۍ غورځنګ)**
43, boulevard Magenta
75 010 PARIS
tél : 01 53 38 99 99 / fax : 01 40 40 90 98
https://www.mrap.fr/

**Secours catholique CEDRE**
**(کاتولیک کمکونه)**
23, boulevard de la Commanderie
75 019 PARIS
tél : 01 48 39 10 92 / fax : 01 48 33 79 70
http://www.secours-catholique.asso.fr

**Service national de la pastorale des migrants (SNPM)**
**(د کډوالو د پاستورال ملي سروس)**
58, avenue de Breteuil
75007 PARIS tél : 01 73 36 69 47
https://migrations.catholique.fr/

## 2. Adresses locales (لوکل يا ځايي ادرسي)

### ■ Guichets uniques (ګيشي يونيک)

AUVERGE-RHONE-ALPES
- Isère
  12 Place de Verdun, 38000 Grenoble
- Puy-de-Dôme

18 Boulevard Desaix, 63000 Clermont-Ferrand
- Rhône

106 rue Pierre Corneille, 69003 Lyon

BOURGOGNE-FRANCHE-COMTE
- Côte-d’Or

51 rue de la Préfecture, 21041 Dijon

- Doubs

8 bis rue Charles Nodier, 25035 Besançon
- Saône-et-Loire

196 rue de Strasbourg, 71000 Mâcon

BRETAGNE
- Ille-et-Vilaine

3 av. de la Préfecture, 35026 Rennes

CENTRE
- Loiret

181 rue de Bourgogne, 45042 Orléans

GRAND-EST
- Marne

38 rue Carnot, 51036 Châlons-en-Champagne
- Moselle

9 rue de la Préfecture, 57000 Metz
- Bas-Rhin

5 place de la République, 67073 Strasbourg
- Haut-Rhin

7 rue Bruat 68020 Colmar

HAUTS DE FRANCE
- Nord

12/14 rue Jean Sans Peur, 59039 Lille
- Oise

1 place de la Préfecture, 60000 Beauvais

ILE-DE-FRANCE
- Paris

92 boulevard Ney, 75018 Paris
- Seine-et-Marne

12 rue des Saints Pères, 77000 Melun
- Yvelines

1 rue Jean Houdon, 78000 Versailles
- Essonne

Boulevard de France, 91000 Evry
- Hauts-de-Seine

167-177 avenue Joliot Curie, 92000 Nanterre
- Seine-Saint-Denis

13 rue Marguerite Yourcenar, 93000 Bobigny

- Val-de-Marne

13/15 rue Claude Nicolas Ledoux, 94000 Créteil
- Val-d’Oise

5 avenue Bernard Hirsch, 95010 Cergy-Pontoise

NORMANDIE
- Calvados

Rue Daniel Huet, 14038 Caen
- Seine-Maritime

7 place de la Madeleine, 76000 Rouen

NOUVELLE-AQUITAINE
- Gironde

2 esplanade Charles de Gaulle, 33000 Bordeaux
- Vienne

Bâtiment Haussmann, Impasse des Ecossais, 86000 Poitiers
- Haute-Vienne

19 rue Cruveilhier, 87000 Limoges

OCCITANIE
- Haute-Garonne

1 place Saint-Etienne, 31038 Toulouse
- Hérault

34 place des Martyrs de la résistance, 34000 Montpellier

PROVENCE-ALPES-COTE D'AZUR
- Alpes-Maritimes

17 bd du Mercantour 06200 Nice
- Bouches-du-Rhône

66 bis Rue Saint-Sébastien, 13006

PAYS-DE-LA-LOIRE
- Loire-Atlantique

6 quai Ceineray, 44035 Nantes
- Maine-et-Loire

Place Michel Debré, 49934 Angers

OUTRE-MER (services « asile » des préfectures)
- Martinique

Rue Victor Sévère, 972000 Fort-de-France
- Guadeloupe

Grand camp, Immeuble situé à côté de la SIG, 97139 Abymes
- Guyane

23 rue Arago, 97300 Cayenne
- La Réunion

6 rue des Messageries, CS 51079 97404 Saint Denis Cedex
- Mayotte

BP 979 97600 Mamoudzou.

## ■ Préfectures (پره فیکتور)

ALSACE
- Haut-Rhin
  7, rue Bruat, 68 020 Colmar
- Bas-Rhin
  5, place de la République, 67 073 Strasbourg

AQUITAINE
- Gironde
  2, esplanade Charles de Gaulle,
  33 000 Bordeaux
- Dordogne
  2, rue Paul Louis Courier, 24 000 Périgueux
- Landes
  24, rue Victor Hugo, 40 021 Mont-de-Marsan
- Lot-et-Garonne
  Place de Verdun, 47 920 Agen
- Pyrénées-Atlantiques
  2, rue du maréchal Joffre, 64 021 Pau

AUVERGNE
- Puy-de-Dôme
  18, boulevard Desaix,
  63 000 Clermont-Ferrand
- Allier
  2, rue Michel de l'Hospital, 03 000 Moulins
- Cantal
  2, cours Monthyon, 15 000 Aurillac
- Haute-Loire
  6, avenue du Général de Gaulle
  43 000 Le Puy-en-Velay

BOURGOGNE

- Saône-et-Loire
  196, rue de Strasbourg, 71 000 Mâcon
- Nièvre
  40, rue de la Préfecture, 58 000 Nevers
- Yonne
  Place de la Préfecture, 89 000 Auxerre
- Côte d'Or
  53, rue de la Préfecture, 21 041 Dijon

BRETAGNE

- Ille-et-Vilaine
  3, avenue de la Préfecture, 35 026 Rennes
- Côtes d'Armor
  1, place Général de Gaulle, 22 000 Saint-Brieuc
- Finistère
  42, boulevard Dupleix, 29 000 Quimper
- Morbihan
  24, place de la République, 56 000 Vannes

CENTRE

- Loiret
  181, rue de Bourgogne, 45 042 Orléans
- Cher
  Place Marcel Plaisant, 18 000 Bourges
- Eure-et-Loir
  Place de la République, 28 000 Chartres
- Indre
  Place de la Victoire et des Alliés,
  36 000 Châteauroux
- Indre-et-Loire
  15, rue Bernard Palissy, 37 925 Tours
- Loir-et-Cher
  Place de la république, 41 000 Blois

CHAMPAGNE-ARDENNE

- Ardennes
  Esplanade du Palais de Justice,
  08 000 Charleville-Mézières
- Aube
  2, rue Pierre Labonde, 10 000 Troyes
- Haute-Marne
  89, rue Victoire de la Marne,
  52 011 Chaumont
- Marne
  38, rue Carnot,
  51 036 Châlons-en-Champagne

FRANCHE-COMTE

- Doubs
  8, bis Rue Charles Nodier, 2 5035 Besançon
- Jura
  8, rue de la Préfecture, 3 9000 Lons-le-Saunier
- Haute-Saône
  1, rue de la Préfecture, 70 013 Vesoul
- Territoire de Belfort
  Place de la République, 90 000 Belfort

GUADELOUPE

- Palais d'Orléans, Rue Lardenoy,
  97 109 Basse-Terre 97109, Guadeloupe

ILE-DE-FRANCE

- Paris : 92, boulevard Ney, 75 018 Paris
- Seine-et-Marne
  12, rue des Saints Pères, 77 000 Melun
- Yvelines
  1, rue Jean Houdon, 78 000 Versailles
- Essonne
  Boulevard de France, 91 000 Evry
- Hauts-de-Seine
  167-177, avenue Frédéric et Irène Joliot Curie, 92 000 Nanterre
- Seine-Saint-Denis
  1, esplanade Jean Moulin, 93 007 Bobigny
- Val-de-Marne
  21-29, avenue du Général De Gaulle,
  94 038 Créteil cedex
- Val d'Oise
  5, avenue Bernard Hirsch, 95 010 Cergy-Pontoise

LANGUEDOC-ROUSSILLON

- Hérault : 34, place des Martyrs de la résistance, 34 000 Montpellier
- Aude : 52, rue Jean Bringer,
  11 000 Carcassonne

- Gard : 10, avenue Feuchères, 30 000 Nîmes
- Lozère : rue du faubourg Montbel, 48 005 Mende
- Pyrénées-Orientales : 120, avenue Emile Roudayre, 66 000 Perpignan

LIMOUSIN
- Corrèze : 1, rue Souham, 19 000 Tulle
- Creuse : 4, place Louis Lacrocq, 23 000 Guéret
- Haute-Vienne : 1, rue de la Préfecture, 87 000 Limoges

LORRAINE
- Moselle : 9, place de la Préfecture 570 00 Metz
- Meuse
  40, rue du Bourg, 55 000 Bar-le-Duc
- Meurthe-et-Moselle
  1, rue Préfet Claude Erignac, 54 000 Nancy
- Vosges : Place Foch, 88 026 Epinal

MIDI-PYRENEES
- Haute-Garonne
  1, place Saint-Étienne, 31 038 Toulouse
- Ariège
  2, rue de la préfecture Préfet Claude Erignac, 09 000 Foix
- Aveyron
  7, place Général de Gaulle, 12 000 Rodez
- Gers
  7, rue Arnaud de Moles, 32 000 Auch
- Lot
  Cité Bessières, Rue Pierre Mendes France, 46000 Cahors
- Hautes-Pyrénées
  Place du Général de Gaulle, 65 000 Tarbes
- Tarn
  Place de la Préfecture, 81 013 Albi
- Tarn-et-Garonne
  2, allée de l'Empereur, 82 013 Montauban

NORD-PAS-DE-CALAIS
- Nord
  12/14, rue Jean sans Peur, 59 039 Lille
- Pas-de-Calais
  9, esplanade Jacques Vendroux, 62 100 Calais

BASSE-NORMANDIE
- Calvados
  Rue Daniel Huet, 14 038 Caen cedex 09
- Manche
  Place de la Préfecture, 50 002 Saint-Lô
- Orne
  39, rue Saint-Blaise, 61 018 Alençon

HAUTE-NORMANDIE
- Seine-Maritime
  7, place de la Madeleine, 76 000 Rouen
- Eure
  Boulevard Georges Chauvin, 27 000 Evreux

PAYS DE LOIRE
- Loire-Atlantique
  6, quai Ceineray, 44 035 Nantes
- Vendée
  29, rue Dellile, 85 009 La Roche-sur-Yon
- Maine-et-Loire
  Place Michel Debré, 49 934 Angers
- Mayenne
  46, rue Mazagran, 53 015 Laval
- Sarthe
  Place Aristide Briand, 72 041 Le Mans

PICARDIE
- Oise
  1, place de la Préfecture, 60 000 Beauvais
- Aisne
  27, rue Paul Doumer, 02 000 Laon
- Somme
  51, rue de la République, 80 000 Amiens

POITOU-CHARENTES
- Charente
  7-9, rue de la Préfecture, 16 023 Angoulême
- Charente-Maritime
  38, rue Réaumur, 17 000 La Rochelle
- Deux-Sèvres
  4, rue Duguesclin, 79 099 Niort

- Vienne
  7, place Aristide Briand, 86 000 Poitiers

PROVENCE-ALPES-COTE-D'AZUR
- Bouches-du-Rhône
  66 bis, rue Saint-Sébastien, 13 006 Marseille
- Vaucluse :
  28, boulevard Limbert, 84 000 Avignon
- Alpes-Maritimes
  147, boulevard du Mercantour, 06 200 Nice
- Alpes-de-Haute-Provence
  Avenue Demontzey, 04 002 Digne les Bains
- Hautes-Alpes
  28, rue Saint-Arey, 05 000 Gap
- Var
  Boulevard du 112e régiment d'infanterie,
  83 070 Toulon

RHONE-ALPES
- Isère
  12, place de Verdun, 38 000 Grenoble
- Savoie
  Château des Ducs de Savoie,
  73 018 Chambéry
- Haute-Savoie
  Rue Louis Revon, 74 000 Annecy
- Rhône
  106, rue Pierre Corneille, 69 003 Lyon
- Ain
  4,5 avenue Alsace Lorraine, 01 012 Bourg en Bresse
- Ardèche
  5, rue pierre Filliat, 07 000 Privas
- Drôme
  3, boulevard Vauban, 26 000 Valence
- Loire
  2, rue Charles de Gaulle, 42 022 Saint-Etienne

## Directions territoriales de l'Office français de l'immigration et de l'intégration (OFII)

(د امیکریشن او انتیګریشن د فرانسوي دفتر سیمه ایز مدیریت)

Direction centrale
44, rue Bargue
75 732 Paris Cedex 15
tél : 01 53 69 53 70

Amiens (02, 60, 80)
275, rue Jules Barni – Bât. D
80 000 Amiens
tél : 03 22 91 28 99 / amiens@ofii.fr

Besançon (25, 70, 39, 90)
3, avenue de la Gare d'Eau
25 000 Besançon
tél : 03 81 25 14 39 / besancon@ofii.fr

Bobigny (93)
13, rue Marguerite Yourcenar
93 000 Bobigny
tél : 01 49 72 54 00 / Seine-saint-denis@ofii.fr

Bordeaux (24, 33, 40, 47,6 4)
55, rue Saint Sernin,
33 002 Bordeaux Cedex
tél : 05 57 14 23 00 / bordeaux@ofii.fr
Caen (14, 50, 61)
Rue Daniel Huet
14 038 Caen Cedex 9
tél : 02 31 86 57 98 / Caen@ofii.fr

Cayenne (973
17/19, rue Lalouette BP 245
97 325 Cayenne
tél : 05 94 37 87 00 / cayenne@ofii.fr
Cergy (95)
Immeuble « Ordinal » Rue des Chauffours,
95 002 Cergy Pontoise Cedex
tél : 01 34 20 20 30 / cergy@ofii.fr

Clermont-Ferrand (03, 15, 63, 43)
1, rue Assas
63 033 Clermont Ferrand
tél : 04 73 98 61 34 / Clermont-ferrand@ofii.fr

Créteil (91, 94)
13/15, rue Claude Nicolas Ledoux
94 000 Créteil
tél : 01 41 94 69 30 / creteil@ofii.fr

Dijon (21, 58, 71, 89)
Cité administrative Dampierre
6, rue du Chancelier de l'Hospital
21 000 Dijon
tél : 03 80 30 32 30 / dijon@ofii.fr

Grenoble (74, 38, 73
Parc Alliance - 76, rue des Alliés
38 100 Grenoble
tél : 04 76 40 95 45 / grenoble@ofii.fr

Lille (59, 62)
2, rue de Tenremonde
59 000 Lille
tél : 03 20 99 98 60 / lille@ofii.fr

Limoges (23, 19, 87)
19, rue Cruveihier
87 000 Limoges
tél : 05 55 11 01 10 / limoges@ofii.fr

Lyon (01, 07, 26, 42, 69)
7, rue Quivogne
69 286 Lyon Cedex 02
Tél : 04 72 77 15 40 / Lyon@ofii.fr
Marseille (13, 20, 04, 05, 83, 84)
61, boulevard Rabatau
13 295 Marseille Cedex 08
tél : 04 91 32 53 60 / Marseille@ofii.fr
Antenne Mayotte OFII (976)
N15 Espace Coralium, RN1 – CS 80058 Kaweni,
97 600 Mamoudzou
tél : 02 069 62 23 54 / mayotte@ofii.fr

Melun (77)
2 bis, avenue Jean Jaurès
77 000 Melun
tél : 01 78 49 20 00 / Melun@ofii.fr

Metz (54, 55, 57, 88)
2, rue Lafayette
57 000 Metz
tél : 03 87 66 64 98 / metz@ofii.fr

Montpellier (30, 34, 48, 66)
Le Régent - 4, rue Jules Ferry
34 000 Montpellier
tél : 04 99 77 25 50 / montpellier@ofii.fr

Montrouge (92, 78)
221, avenue Pierre Brossolette
92 120 Montrouge
tél : 01 41 17 73 00 / montrouge@ofii.fr

Nantes (44, 53, 49, 72, 85)
93 bis, rue de la Commune de 1871
44 400 Rezé
tél : 02 51 72 79 39 / nantes@ofii.fr

Nice (06)
Immeuble SPACE- Bât. B
11, rue des Grenouillères
06 200 Nice
tél : 04 92 29 49 00 / nice@ofii.fr

Orléans (18, 28, 36, 37, 45, 41)
4, rue de Patay
45 000 Orléans
tél : 02 38 52 00 34 / orleans@ofii.fr

Paris (75)
48, rue de la Roquette
75 11 Paris
tél : 01 55 28 19 40 / paris@ofii.fr

Pointe-à-Pitre (971, 972)
Immeuble Plazza - Boulevard Chanzy
97 110 Pointe à Pitre
tél : 05 90 90 01 83 / guadeloupe@ofii.fr

Poitiers (16, 17, 79, 86)
86, avenue du 8 Mai 1945
86 000 POITIERS
tél : 05 49 62 65 70 / reims@ofii.fr

Reims (08, 10, 51, 52)
26/28, rue Buirette
51 100 Reims
tél : 03 26 36 97 29 / reims@ofii.fr

Rennes (22, 29, 35, 56)
8, rue Jean Julien Lemordant
35 000 Rennes
tél : 02 99 22 98 60 / rennes@ofii.fr

La Réunion (974)
Préfecture de la Réunion, Place du Barachois
97 405 Saint Denis Cedex
tél : 02 62 40 75 69 / ofii-reunion@ofii.fr

Rouen (27,76)
Immeuble Montmorency 1
15, place de la Verrerie
76 100 Rouen
tél : 02 32 18 09 94 / rouen@ofii.fr

Strasbourg (67,68)
4, rue Gustave Doré - CS 80115
67 069 Strasbourg Cedex
tél : 03 88 23 30 20 / strasbourg@ofii.fr

Toulouse (09, 12, 19, 23, 32, 31, 65, 87, 46, 81, 82)
7, rue Arthur Rimbaud, CS 40310
31 203 Toulouse Cedex2
tél : 05 34 41 72 20 / toulouse@ofii.fr